د لوړو زده کړو وزارت
د ننګرهار پوهنتون
د ښوونې او روزنې پوهنځی

د شاه زمان واکمني او د انګلیسانو دریځ

لیکوال: پوهنمل مستعلي نیازی

کال ۱۳۸۲

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم :: د شاه زمان واکمني او د انګلیسانو دریځ

لیکوال :: پوهنمل مستعلي نیازی

خپرندوی :: دانش خپرندویه ټولنه.

چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه.

چاپ نېټه :: ۱۳۸۴ل/ ۲۰۰۵ز

چاپ او کمپیوټر ځای

د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه- پېښور

E-mail: danish2k2000@yahoo.com Tel/ Fax: 2564513

CamScanner

ليکلړ

سرليک	مخ
سريزه	الف
د تيمور شاه مړينه او د شاه زمان واکمني	۱
سلطنتي واک ته د شازمان د رسېدو په محال د افغانستان...	۲
د شاه زمان په وړاندې مخالفتونه	۱۰
د شهزاده همايون مخالفت	۱۴
د شهزاده محمود مخالفت	۱۷
د شاه زمان او سردار پاينده محمد خان د اختلاف او...	۱۹
د سردار پاينده محمد خان د زامنو شورش او د شاه محمود...	۲۵
د شاه زمان د واکمنۍ په وخت کې د نړۍ سياسي وضعه	۳۰
د انګلستان او فرانسې تر منځ د اختلاف لاملونه	۳۵
د هند د نيولو او ساتلو لپاره د انګليسانو هلې ځلې	۳۹
هند ته د رسېدلو او نفوذ ټينګولو لپاره د فرانسويانو هاند او هڅې	۴۳
په هند باندې د شاه زمان يرغل	۴۶
په هند کې د شاه زمان د يرغل او نفوذ د مخنيوي څخه...	۴۹
د شاه زمان په مقابل کې د انګليسانو کړنې	۵۲
په افغانستان کې د ګډوډۍ پيدا کول	۵۵
د ايرانيانو هڅول په هند باندې د شاه زمان د يرغل په وخت کې	۵۸
د شاه محمود څخه د ايرانيانو او د انګليسانو ملاتړ	۶۴
د شاه زمان کړنلارې	۶۸
د شاه زمان اقتصادي کړنلاره	۷۲
مالياتي سيستم	۷۳

CamScanner

د څارويو ماليه ---------- ۷۴
د ميرابي ماليه ---------- ۷۴
لګښت (مصارف) ---------- ۷۹
پوځي جوړښت ---------- ۸۲
د شاه زمان خويونه او کرکتر ---------- ۸۹
د شاه زمان اشتباهات ---------- ۹۳
د شاه زمان د ماتې عوامل ---------- ۹۷
د پښتنو سردارانو وژل ---------- ۹۹
د سلطنت څخه وروسته د شاه زمان برخليک ---------- ۱۰۱
پايلې ---------- ۱۰۳
وړانديزونه ---------- ۱۰۷
څخونه ---------- ۱۰۹

د اثر په اړه د لارښود استاد تقریظ

د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې د پوهنځي محترم رياست ته

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

محترم پوهنمل مستعلي نيازي د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د تاريخ او جغرافيې د څانګې استاد دغه څېړنيز اثر چې (د شاه زمان واکمني او د انګليسانو دريځ) تر عنوان لاندې زما د لارښوونې سره سم د پوهنمل علمي ترفيع ته د لوړېدو په غرض ليکلی دی د دويم ځل لپاره مې مطالعه او وکوت.

دغه اثر چې څېړنيزه جنبه لري پرمخکنيو خبرو د مطالبو فهرست، سريزې، يو شمېر جدولونو سربېره په پنځو فصلونو او مخونو کې ليکل شوی دی، د افغانستان د معاصر تاريخ ډېره پېچلې او حساسه دوره روښانه کوي، څېړونکی د اثر په پای کې ډېره علمي او ګټوره نتيجه ګرې کړې او د موضوع مربوط يې غوره او ارزښتناک وړانديزونه هم کړي.

د هېواد په ناوړه او سخټو شرايطو کې چې تاريخي کتابونه او اسناد ډېر لږ او په نشت حساب دي محترم پوهنيار مست علي نيازی توانېدلی چې تحقيقي رساله تکميل کړي، نومورې په دې رساله کې د شاه زمان سياسي ستونزې، کورنۍ اختلافونه، د هغه سياسي تېروتنې او د انګليسانو کړنې يو پر بل پسې توضيح او د هغوی اغېزې د هېواد په سياسي، اقتصادي، اجتماعي خواوو کې ښې څېړلې دي چې پايله يې د لوی احمد شاه بابا (د پاني پت قهرمان) د لويې امپراتورۍ تجزيه او د افغانانو خپل منځي نښتې شوې په هر

ارخیز ډول څېړلې دي. د څېړنې ټول اصول او روشونه يې له پيل څخه تر پايه په دې امانت داري سره مراعت کړي او د تحقيق ټول نورمونه يې په نظر کې نيولي دي. په دې رساله کې راټول شوي مطالب د ده د پرله پسې کره مطالعې نتيجه ده، نوموړي د دې اثر په ليکلو کې د مختلفو داخلي او خارجي اثارو څخه استفاده کړې، زه دغه اثر لوړ ارزوم، هم يې د پوهنمل علمي ترفيع ته د لوړېدا لپاره کافي ګڼم او د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د تاريخ او جغرافيې په څانګه کې يې د يو علمي او ګټور اثر اضافه والی بولم. د دې امله يې لوړو مقاماتو ته د پوهنمل رتبې ته د لوړتيا پېشنهاد کوم او د لاعلمي بريالیتوبونو هيله يې کوم.

په درنښت

پوهنوال دوکتور عبدالباقي حصاري

د کابل پوهنتون د اجتماعي علومو د پوهنځي د تاريخ استاد

تاییدي تقریظ

د ښوونې او روزنې د پوهنځي محترم ریاست ته!

د محترم پوهنمل مستعلي نیازي اثر مې وکاته او هم مې د لاړښود استاد نظر ولوست په ړښتیا سره محترم مستعلي په پوهنتون کې د خپل پوهنځي پرته په نورو پوهنځیو کې هم د تاریخ تدریس کوي. او څومره چې ماته معلومه ده نوموړی د احمد شاهي دورې څخه نیولې بیا د محمد زایانو دورې پورې پوره پوره څېړنه کړې ده چې د نوموړي دغه اثر ستاسې په مخکې دی او د تاریخي پېښو په اړه یې له ما څخه ماخذونه اخیستي دي.

دغه اثر چې تحقیقي جنبه لري د پېل خبرې، سریزه، نتیجه ګیري، وړاندیزونه او معتبر ماخذونه لري، دغه اثر په خورا خوږه او روانه معیاري ژبه لیکل شوی او لیکوال په کې د تاریخ لیکنې ټول پرنسیپونه او اصول مراعات کړي او خپله قریحه یې په کې څرګنده کړې ده چې دا خبره د دې اثر د لوستلو څخه جوتېږي. لیکوال تاریخي پېښو ته سیستماتیکه بڼه ورکړې چې د تیمور شاه د مړینې څخه وروسته د شازمان په واک او د هغه په سیاسي. اجتماعي او اقتصادي بنسټونو او نورو ستونزو باندې پوره رڼا اچولې او د شاه زمان په وخت کې د نړۍ په سیاسي حالاتو هم ژوره څېړنه کړې، چې هند ته د شاه زمان لښکرې (پوځي) سفرونه او مسایل د مستندو اسنادو له مخې څېړل شوي دي. د شاه زمان په کمزورتیا او نیمګړتیاوو رڼا اچول شوې ده چې د دې اثر په اخر کې شاه زمان د ژوند مهمه برخه راغلې ده، او په پای کې د اثر په هکله لیکوال د موضوع په اړه ډېره ښکلې نتیجه ګیري کړې چې دا د لیکوال د کامل تسلط څرګندونه کوي. په پای کې زه د لاړښود استاد نظر کاملا تاییدوم او زه هم په دې نظر یم چې نوموړی د ترفیع کاملاً مستحق دی او ده ته په علمي چارو کې د لابریالیتوبونو هیله کوم.

په درنښت

پوهاند ډاکتر زېورالدین زېور

د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد

سریزه:

افغانستان د دوه پېړۍ تجزیې وروسته د احمد شاه او تیمور شاه تقریباً په نیمه پېړۍ واکمنۍ کې نسبتاً د داخلي امنیت دوره وه چې زمونږ هېواد د یو سیاسي مرکزیت خاوند و خو د بده مرغه د شاه زمان د واکمنۍ په وخت کې د سترو استعماري قوتونو (انګلیس او روس) د پرمختیایي سیاست سره مخامخ شو، ناپلیون وروسته له هغه چې په اروپا کې د اطریش، پروس او انګلستان د ګوابښ څخه لږ وخت پیدا کړ ډېر ژر انګلستان ته د غوڅې ماتې او هند د نیولو په غرض ختیز ته مخه کړه، غوښتل یې چې د ایران او افغانستان له لارې او که چېرې روسیه موافقه وکړي د روسي او فغانستان له لارې په هند حمله وکړي او د دې هدف لپاره یې د ایران او روسي دربار ته سفیران ولېږل، د شاه زمان څخه یې هم د مرستې غوښتنه وکړه مګر شاه زمان پخپله په دغه وخت کې د هند د نیولو لپاره تیاری درلوده خو انګرېزانو د خپل سیاسي فعالیت پر اساس وکولی شول چې ایران او افغانستان د ناپلیون سره د اتحاد څخه منعه کړي، کله چې د ناپلیون خطر رفعه شو، د روسانو ګوابښ انګلیسان په اندېښنه کې واچول چې د روسانو راتګ افغانستان ته او بیا د هغو په واسطه د هند د نیولو په اړه دېر نګران و ویې پتېله چې د افغانستان داخلي او خارجي سیاسي چارې په خپل لاس کې ونیسي انګلیسانو د درېیو جګړو (۱۷۴۶-۱۷۶۳م) په نتیجه کې فرانسې ته ماتې ورکړه او بیا یې د هند د مغلي دولت تغر هم ورټول کړ او د مرهټیانو قوتونه یې هم تس نس کړل چې نور یې د مقابلې توان نه درلود، انګلیسانو د هند د داخلي قوتوو له ماتولو

رووسته په ډېره اسانۍ سره د جنوب څخه د هند ختیز او شمال په لور وړاندې راغلل چې انګلیسانو په دغه وخت کې د سدوزي دولت د ضعف او سقوط په نیت خپلې هلې ځلې پیل کړې، ځکه انګلیسانو له دې وروسته یوازې د افغانستان پاچا شاه زمان خپل سیاسي رقیب ګڼلو او د ده څخه یې وېره درلوده، شاه زمان چې په ۱۷۹۳م کال واک ته ورسېد د نورو دندو تر څنګ یې دوه مهمو کارونو ته ارزښت ورکاوه لومړی په افغانستان کې د مرکزي حکومت ټینګول او ملوك الطوایفي سیستم له منځه وړل، دویم د خپل نیکه په څېر په هند کې فتوحاتو ته ادامه ورکول، خو شاه زمان د خپل نیکه په څېر د هند د محلي او غیر منظم قوت سره نه بلکې یو منظم او اروپایي قوي دولت (انګلستان) سره چې په سیاسي لحاظ د دې څخه ډېره برتري درلوده مخامخ و، که څه هم انګرېزان په هغه وخت (۱۷۹۳-۱۸۰۰م) کې د شاه زمان سره د مخامخ نظامي مقابلې څخه عاجز وو، خو د سیاسي فعالیت په نتیجه کې وکولی شول چې شاه زمان په خپلو هدفونو کې ناکام کړي. چې په دې برخه کې د سدوزي دولت د داخلي اختلاف، د شهزاده ګانو رقابت، د سکهانو او ایرانیانو د لمسون څخه د شاه زمان پر ضد ډېره ګټه واخیسته، په دغه اثر کې ما کوښښ کړی چې د شاه زمان د ستونزو، اهدافو، اشتباهاتو او ناکامۍ د لاملونو او د انګلیسانو د کړنو او د فعالیتونو په اړه چې د هند د ساتلو په غرض یې د شاه زمان پر ضد سرته رسولې ګټور مواد راټول، څېړنه او تحقیق وکړم په هېواد کې د تاریخي اسنادو او کتابونو د کمبود سره سره کوښښ شوی دی چې د هېواد د مهمو او معتبرو اثارو څخه ګټه

واخيستل شي دا چې په ډېرو کتابونو کې سنې په ميلادي تاريخ قيدوی ما هم په دې اثر کې ذکر شوې پېښې د ميلادي تاريخ په واسطه ښودلې دي د يادونې وړ ده چې شاه زمان په ځينو تاريخي اثارو کې د زمان شاه په نامه هم راغلی چې البته دواړه نومونه د يو شخص لپاره استعمال شوي دي.

والسلام

د پيل خبرې

د لوړو زده کړو د وزارت د قانون، لايحو او مقرراتو سره سم د پوهنتون هر استاد چې د يوې علمي رتبې څخه بلې لوړې علمي رتبې ته ارتقا کوي د نورو شرايطو تر څنګ بايد يو علمي اثر هم وليکي نو ما ته هم د پوهنيارۍ د علمي رتبې څخه د پوهنملۍ علمي رتبې ته د ترفيع په غرض د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د تاريخ او جغرافيې د څانګې لخوا دنده وسپارل شوه چې د «د شاه زمان واکمني او د انګليسانو دريځ» تر عنوان لاندې يو اثر چې تحقيقي جنبه ولري وليکم ځکه دغه موضوع د افغانستان د معاصر تاريخ يوه غوره برخه تشکيلوي. او د افغانسان د معاصر تاريخ مضمون د ښوونې او روزنې د پوهنځي د تاريخ او جغرافيې په څانګه کې د اصلي مضمون په توګه تدريس کېږي په دې پوهنځي سربېره د کرنې، وترنرۍ او ادبياتو په پوهنځيو کې هم تدرسېږي دا چې د انګليسانو سياسي فعاليت په وجه زمونږ هېواد او هېوادوالو ستونزې ګاللي دي په دغه اثر کې ما کوښښ کړی چې د شاه زمان پر ضد د انګليسانو د فعاليتونو د پيل او لاملونو په اړه هر اړخيزه څېړنه وکړم.

دغه اثر چې تحقيقي جنبه لري، د پيل خبرو، د مطالبو فهرست، سريزه، نتيجه، وړاندېزونه او ماخذونو څخه ترتيب شوي دي هيله ده چې په دغه اثر کې راټول شوي مطالب د محصلينو سره د معاصر تاريخ په زده کړه کې د مرستندويه موادو په توګه مرسته وکړي او لازم ګڼم چې د محترم استاد پوهنوال ډاکټر عبدالباقي حصاري د کابل پوهنتون د اجتماعي علومو د پوهنځي د تاريخ استاد چې د خپلو

علمي او اداري بوختياوو سره سره يې ماته د دې اثر په ليکلو کې لازمې لارښوونې کړې دې هره مننه وکړم او ده ته په علمي چارو کې ډېرې ويارنې او بريالیتوبونه غواړم.

همدارنګه د ښوونې او روزنې د پوهنځي د تاريخ او جغرافيې د څانګې د استادانو څخه چې د موادو په تهيه کولو کې يې له ما سره مرسته کړې د مننې په څرګندولو سره دوی ټولو ته کور ودانی وايم. له شېر حسن کمال زي څخه هم مننه کوم چې د دې کتاب د چاپ چارې يې په ډېر اخلاص سره ترسره کړې.

والسلام

پوهنمل مستعلي نيازی

CamScanner



یادونه دولت خان او د هغه مشر زوی نظر محمد خان د ګورګین له خوا په ۱۶۹۴ م کال کې ووژل شو مګر رستم خان او زمان خان وتښتېدل ګورګین وغوښتل چې دا دواړه هم ووژني. ګورګین د سولې وړاندېز وکړ او ویې ویل. دی به د ابدالیانو پر قبیله باندې د رستم خان ریاست هله قبلوي چې دی خپل ورور زمان خان ده ته د ګروګان په توګه ورکړي. رستم خان قبوله کړه او زمان خان یې ده ته وسپاره. ګورګین هغه کرمان ته ولېږه او لږه موده وروسته یې رستم خان هم وواژه. (افغانستان در مسیر تاریخ، ېخونه ۳۱۲-۳۱۷)



د دغو دواړو جدولونو په ترتیب کې د «افغانستان در مسیر تاریخ. افغانستان در قرن ۱۹ او د محترم میر غلام محمد غبار د اثر «احمد شاه بابا» څخه ګټه اخیستل شوې ده.
تیمور شاه ۲۴ زامن او ۱۳ لورانې درلودلې

CamScanner

د تیمور شاه مړینه او د شاه زمان واکمني

۱۷۹۳-۱۸۰۰م

شوال ۱۲۰۷-۱۲۱۶هـ ق

تیمور شاه به د ژمي موسم په ګرمو او معتدلو ښارونو لکه پېښور او جلال اباد کې تېراوه، نوموړي په ۱۷۹۳م کال د همدې مقصد لپاره پېښور ته تللی و، هلته د معدې په ناروغۍ اخته شو ښایي د ناروغي ورته په خوړلو کې د افراط له کبله پیدا شوې وي چې په خوړلو کې به یې د بېلابېلو څیزونو د خوړلو څخه خوند اخیسته د د دربار طبیبان د نوموړې د درملنې څخه عاجز شول، نظر یې ورکړ چې د پېښور څخه کابل ته ولاړ شي پدې نیت که چېرته د کابل هوا د پاچا د طبیعت سره جوړښت وکړي، کله چې تیمور شاه د ناروغۍ په حال د کابل په لور حرکت وکړ په کابل کې شهزاده شاه زمان د کابل والي و، چې د خپل پلار د هر کلي او ستړي مشې په غرض د ختیز په لور روان شو او د جلال اباد په چارباغ کې د خپل پلار سره یو ځای شو دواړه کابل ته راغلل خو په کابل کې هم د تیمور شاه علاج ونه شو او د ۱۲۰۷هـ ق کال د شوال په ۷مه نېټه د یکشنبې په ورځ چې د ۱۷۹۳م کال د مې د ۱۹مې نېټې سره سمون لري د ۴۲کالو په عمر وفات شو

د تیمور شاه د مړینې په وخت کې شهزاده شاه زمان په کابل کې د سلطنت نایب و چې د با نفوذه سردارانو لکه فیض الله خان دولت شاهي، سردار پاینده محمد خان، سرفراز خان بارکي، نور محمد

خان، امین الملک بابړي، ملا عبدالغفار خان جدید الاسلام، فتح الله خان سدوزی ملتاني، اختر محمد خان نورزایي، امیر اصلاخان جوان شیر، جعفر خان قزلباش په مشوره او مصلحت یې لومړی د پاچا تیمورشاه مړینه پټه کړه او د پاچا په امر یې ټول سرداران، د پوځ جګ پوړي صیب منصبان او شهزاده ګان په بالاحصار کې سره راجمع کړل، بیا یې د تیمور شاه د انتقالولو په وخت کې د هغه مړینه ښکاره کړه او په اتفاق سره یې د تیمور شاه جسد د کابل ښار په منځ یانې چارباغ کې ښخ کړ، وروسته یې د بالاحصار دروازې وتړلې، ټولو شهزادګانو د فاتحه خوانۍ او تعزیت مراسم اجرا او په یو خاص دیوان کې یې نومونه ثبت او امضا وکړې. سردارانو د سلطنت موضوع د شهزادګانو په منځ کې یاده کړه، او غوښتنه یې ورځنې وکړه چې په اتفاق سره یو تن انتخاب کړي. خو دوی په خپل منځ کې سره جوړ نه شول او هر یو شهزاده د پاچاهۍ او سلطنت دعوه شروع کړه، ټولو شهزاده ګانو د خپل پلار په اړه خبرې وکړې چې د خبرو څخه وروسته دوی کشکخانې ته داخل شول او شاه زمان خپل سرای ته ولاړ، ټولو شهزادګانو شهزاده عباس ته رایه ورکړه د کشکخانې څخه راووتل او د شهزاده عباس سرای ته ورغلل تر څو هغه د سلطنت مقام ته راولي، کله چې دوی ټول د شهزاده عباس سرای ته داخل شول، سردارانو د سردار پیانده محمد خان په مشوره د وخت څخه ګټه واخیسته د شهزاده عباس د سرای دروازه یې بنده کړه او ټول شهزادګان یې هلته بندیان کړل چې امیر ارصلاخان جوانشیري یې د سرای د ساتنې لپاره موظف کړ څو هغوی بهرون نه شي نور سردارانِ د شهزاده شاه زمان

CamScanner

سرای ته لاړل او نوموړی یې د پاچا په توګه انتخاب کړ او شاه زمان په خپله سکه کې دا بیت ولیکه:

طراز یافت به حکم خدایي هر دو جهان
رواج یافت سکه دولت بنام شاه زمان

او د پاچا په مهر یې دا بیت ولیکه:

قرارداد زالطاف خویش یزدان نگین حکم جهانرا به نام شاه زمان

د تیمور شاه د اولادې په منځ کې د شاه زمان انتخاب د سردارانو پواسطه پر ځای و، ځکه دغه نړیوال شخصیت او هوښیار ځوان پاچا د ښې مفکورې او نظر خاوند و، خو دا چې نوموړی په خپلو نقشو او پلانونو کې ناکام شو هغه د ځینو نړیوالو شرایطو او د ده د ورستنیو اشتباهاتو محصول و، مګر د پلار په ژوند او مرینې پورې ده کومه اشتباه نه وه کړې له بلې خوا چې کله شاه زمان جلال اباد ته د خپل پلار تیمور شاه لیدلو او خدمت ته ورغی، تیمور شاه، شاه زمان په ډېره مینه خپل غېږ کې ونیو، له ده سره د لطف او مرحمت چلند وکړ او ده ته یې د شاهنشاهۍ دوه اسونه چې طلایي زین او براق یې درلودل بخشش ورکړ دواړه چې شاهنشاهي مرکز کابل ته راغلل یوه ورځ شاه زمان او قاضي القضات ملا فیض الله چې د عسکرو ملا امام و دواړه حاضر و چې د تیمور شاه له خولې دا تکي راووتل: ما دري څلور ورځې مخکې په خوب کې ولیدل چې څو کسانو زما د دربار د خاصو کسانو څخه په احترامانه ډول مخکې راغلل. زما له

CamScanner

سر څخه زما خوله او تاج ښکته کړ او زما د دغه زوی شهزاده شاه زمان په سر یې کېښود. پس له دې خوب څخه معلومېږي چې زما د عمر دوره اخر ته رسېدلې ده.

چې د دې خبرې په اوربدو سره د شهزاده شاه زمان ملا فیض الله خان او نور کسان چې په دربار کې حاضر و په ژړا شول او د اعلیحضرت تیمور شاه سترګې هم د اوښکو ډکې شوې او دغه هوښیار زوی ته یې ګټور نصیحتونه وکړل. مګر په څرګنده ډول یې ونه ویل چې د ده له مرینې وروسته دې د افغانستان د امپراتورۍ د چارو واګې کوم شهزاده په لاس کې واخلي یوازې یې د خوب له لیدلو او حال ویلو باندې چې د سیاست په نړۍ کې د ځای ناستې جانشین امر تاییدوي اکتفا وکړه ځینې مورخین لکه رضا قلي هدایت په مجمع الصفا کې لیکلي چې تیمور شاه په خپل ژوند کې شهزاده شاه زمان د ولیعهد په توګه تاکلی و.

مګر دا خبر د نورو مورخینو لخوا نه ده تایید شوې ولې په مرکز کابل کې د والۍ په توګه د شاه زمان تاکل دا څرګندوي چې د شاه زمان په پاچا کېدو کې د تیمور شاه خوښه وه، خو د نورو زامنو د خپګان له کبله دغه امر یې رسمي او ښکاره نه کړ.

د ټولو تاریخي ماخذونو او منابعو څخه دا نتیجه اخلو چې شاه زمان د سردار پاینده محمد خان په مرسته او د نورو بانفوذه سردارانو په ملاتړ خپله پاچاهي د ۱۲۰۷ هجري قمري کال د شوال له میاشتې په ۷مه نېټه چې ۱۷۹۳ کال د مې د میاشتې سره سمون خوري اعلان کړ خو د ده وروڼو او ځینو سردارانو د ده سره مخالفت وښود. پاچا

CamScanner

خپل ورونه په بالاحصار کې بندیان او هغه سردارانو چې د ده مخالفت وکړ ووژل، دا مخالفتونه په بندي کولو او وژلو خلاص نه شول بلکې د شاه زمان د پاچاهۍ تر پایه پورې یې دوام درلود په خپله شاه زمان د واک په نیولو کې د پوره تدبیر څخه کار واخیست ځکه په جرګه کې د ټولو شهزادګانو او لوړ رتبه افسرانو راټولول بیا د لږ اختلاف د رامنځ ته کېدو په صورت کې د هغوی بندي کول او تر ټولو مهمه خبره دا ده چې شاه زمان د سردار پاینده محمد خان او نورو بانفوذه سردارانو د ملاتړ لاسته راوړل په داسې حال کې چې همایون او شاه محمود تر شاه زمان مشران او سردار پاینده محمد خان د ده ملاتړ وکړ، ځکه د نوموړي شهزاده جرائت او اخلاق د ټولو سردارانو خوښ و، خو شاه زمان د واکمنۍ په دوران کې ځینې اشتباهات وکړل، چې د نورو عواملو موجودیت سره نوموړی د ستونزو سره مخامخ شو، چې د دغو ستونزو په حل کې ناکام شو او نه یوازې دا چې د ده نقشې او پلانونه عملي نه شول د احمد شاه بابا پراخه امپراتوري یې د تجزیې لور ته سوق کړه، کله چې شاه زمان واکمنۍ ته ورسېد ۲۴ کلن و، نوموړي په ۱۷۲۹م او ۱۱۸۳ هـ ق کال کې زېږېدلی دی چې په ۱۸۴۴ کال کې د ۷۵ کالو په عمر وفات شو چې په سر هند کې د خواجه احمد فاروقي په خوا کې خښ شو.

CamScanner

سلطنتي واک ته د شاه زمان د رسېدو په مهال د افغانستان سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې وضعې ته یو څغلند نظر

تیمور شاه د خپل سلطنت په ۲۰ کلنه موده کې زیار وکښښ چې د ملوك الطوایفي سیستم کم ځواکي کړي. ده د لویو څمکوالو (فیوډالانو) قبیلوي نفوذ او ازادي له منځه یوړه او د مرکزي دولت تابع یې کړل په همدې سبب تیمور شاه د ځینو فیوډالانو د مقابلې او شورشونو سره مخامخ شو. چې د هغوی مقاومت یې په خپل زور سره مات کړ، تیمور شاه په خپل قلمرو کې مذهبونو ته ازادي ورکړه د دولت په اداره کې د هېواد ټولو سیاسي شخصیتونو ته د قبیلوي. نژادي، مذهبي، او ژبنې تعصب پرته وندې ورکړې وه. حتی د هغه په شاهي ګارد کې د قزلباش او بیات د قبیلو څخه هم عسکر او افسران موجود وو، تیمور شاه ټولو ته مساوي حقوق ورکول، په بدل کې هغوی هم د دولت سره مرسته کوله، د احمد شاه بابا د واک اخیستلو څخه د تیمور شاه تر مړینې پورې افغانستان تقریباً نیمه پېړۍ وخت پیدا کړ چې د دوه نیمو پېړیو اوږدې تجزیې وروسته بیا د انکشاف او پرمختګ لپاره لاره څانته پرانیزي

د همدې نیمې پېړۍ داخلي امنیت او سولې په نتیجه کې کرنیز (زراعتي) محصولات د بهرنیو لوتمارو څخه په امن کې پاتې وو او د نورو اقتصادي فعالیتونو لکه فلزکاري. معماري. ترکنې لپاره لاره خلاصه شوه د هېواد داخل ښارونه د مالونو د تبادلې په غرض یو له

بله سره وصل شول د ځینو سیمه ییزو ستونزو سره سره داخلي بازارونه بډای شول، دیني مدرسې جوړې شوې، شعر ویل پیل شول ځینې شاعران لکه عاجز، میر هوتک، عبیدي، وصفي، عبدالله، دیوان بیي او نور هم په دې دورې پورې مربوط دي که څه هم د تیمور شاه په وخت کې مالیات زیات نه وه خو هغو خلکو چې د دولت څخه دغه مالیات په اجاره اخیستل نو پر بزګرانو یې ظلم کاوه هغه فیوډالانو چې دولت ته خدمت کاوه هغوی مستعمرې معاش درلود او یا د روحانیونو په څېر د خپلو ځمکو کلنې مالیات یې په معاش کې حسابول. تیمور شاه هغه مامورینو ته چې ځمکې (اقطاع او تیول) یې درلودلې د دولت د دفتر څخه تنخواه ورکوله، چې د تنخوا په بدل کې غله ورکولېده، تیمور شاه په بهرنۍ سیاست کې له ډېر احتیاط څخه کار اخیست دغه راز په هند، ماوراء النهر او ایران کې د خپل پلار د وخت د نیولو شوو سیمو څخه یو قدم هم ورانديې لاړ نه شو.

د تیمور شاه د سلطنت په وخت کې که څه م په نړۍ کې د فرانسې لوی انقلاب ۱۷۸۹ م بریالیتوب ته ورسېد او د نړۍ په افکارو کې ژور بدلون مینځ ته راوست خو ده یوازې د یو مطلق العنانه پاچا په توګه وکولی شول چې د فیوډالانو او قبیلوي مشرانو نفوذ یو څه کم کړي ولې تیمور شاه ونه شو کولی چې د افغانانانو توجه بهر ته واړوي د ده جګړو ټول دفاعي شکل درلوده خو تیمور شاه ته چې کومې سیمې د پلار څخه په میراث پاتې وې هغه یې خپلو زامنو ته په مکمل ډول تسلیم کړې خو د بښځو او اولادونو زیاتوالی یې د افغانستان لپاره په اینده کې ستونزې پیدا کړې چې د نوموړې څخه ۲۴ زامن او

۱۳ لومړۍ پاتې وې چې د ده زامنو تر منځ اختلاف پې اتفاقي د احمد شاه بابا د امپراتورۍ په سقوط او د مرکزي دولت په له منځه تګ کې یو عمده عامل ګڼل کېږي. شاه زمان د همدغې پې اتفاقۍ او کورنۍ اختلاف په نتیجه کې دواړه سترګې له لاسه ورکړې، او افغانستان کې مرکزي حکومت د ګوانې سره مخامخ شو چې د نورو لاملونو تر څنګ شاه محمود د پردیو په ملاتړ دغه ستونزې لا زیاتې کړې تیمورشاه یوه ستره اشتباه او خوش باوري هغه وخت پیل شوه چې د احمد شا بابا پر ځای واکمن شو نومړي د فرهنګي ښکېلاک هرکلی وکړ. پښتو ژبه او پښتنې فرهنګ ته یې شاه وروارولـه چې یو انګرېز اولاف ګیرو د دې مطلب تفصیل داسې لیکي: «تیمور شاه درانې د احمد شاه بابا غوره زوی و کله چې د هرات والي وټاکل شو نو د هرات د خلکو رسمي ژبه پارسي وه، د پارسي ژبې په پوهېدو سره د تیمور شاه ټول کړه وړه د ایرانیانو په شان کړل، د ده کولتور هم د پښتنو له کولتور سره توپیر درلود. ده په خپل دربار کې هغه کسان د منشیانو او مامورینو په توګه مقرر کړي وو چې په پارسي پوهېدل یا یې پارسي ژبه وه او په پارسي یې لیک کاوه.

کوم بنسټ چې د ایراني فرهنګ لپاره تیمور شاه درانې د خپلې پاچاهۍ په وخت کې کېښود د هغه تر مړینې وروسته هم په خپل ځای پاتې شو او ټولو پښتنو واکمنانو لږ یا ډېر د هغه پېروي وکړه، د هغو مامورینو چې ډېری یې قزلباشان او شیعه ګان وو پښتانه په دې بڼه په اداري، مالي چارو او نورو مهمو حکومتي اداروکې نه منل چې پارسي یې نه وه زده، هغوی پښتنو ته ښوونه کوله چې خامخا باید

پارسي ژبه زده کړي او که نه په ماموریت کې نه منل کېږي د غه فرهنګي ښکېلاکي حرکت چې د پښتنو د خواکمنۍ د کمزورۍ ګولو په مقصد پیل شوي و، د هر پښتون واکمن په دوران کې په خپل حال پاتې نشو بلکې نوي بعدونه ورته ورکړل شول چې د تیمور شاه دا حرکت هغه پښتنو چې د ده حکومت په ټینګوالي کې وینې توی کړي، او د ده واکمني یې وساتله خو ده په ناپوهۍ سره د هغوی ژبه او کولتور له منځه یوړو او د ښکېلاک بنسټ ډبره یې په افغانستان کې کېښود.

CamScanner

د شاه زمان په وړاندې مخالفتونه او ستونزې

تیمور شاه ۲۴ زامن او دیارلس لونې درلودې، چې د زامنو نومونه یې دا دي شهزاده همایون، شهزاده محمود، شهزاده زمان شاه زمان، شهزاده شجاع (شاه شجاع)، شهزاده ملك ګوهر، شهزاده سلطان دل، شهزاده نور، شهزاده احمد، شهزاده سید اختر، شهزاده حسین، شهزاده اکبر، شهزاده حسن، شهزاده عباس، شهزاده شاه رخ، شهزاده شاه پور، شهزاده جهان واه، شهزاده فیروز الدین، شهزاده ایوب، شهزاده میرزا میران، شهزاده کهندل، شهزاده ابراهیم، شهزاده فرخ، شهزاده خاور، شهزاده نادر.

د تیمور شاه څخه ۲۴ زامن او دیارلس لونې پاتې وې، نومورې له ځان وروسته پر تخت باندې د کېناستلو جانشین په هکله کوم وصیت هم نه و کړی د ده د مرینې په وخت کې د هغه مشر زوی همایون په قندهار کې حکمران و او د هغه دوه نور زامن (محمود او فیروز) په هرات کې و، د تیمورشاه د مرینې د خبرېدو سره سم د ذکر شوو شهزاده ګانو پرته نور ټول شهزاده ګان کابل ته راغلل په دوی کې دا مهال عباس د پېښور حکمران په جسماني لحاظ قوي او پهلوان و، د ده د پاچا کېدو توقع ډېره وه خو ټولو شهزاده ګانو د باصلاحیته او بانفوذه امیرانو او درباریانو سره صلاح او مصلحت شروع کړی وو. خو د نوي پاچا د انتخاب فیصله سمسدتي ونه شوه کله چې سرداران او شهزاده ګان د تیمورشاه د خښولو د مراسمو څخه فارغ شول هر شهزاده په سردارانو کې یوه ډله پیدا کړې وه همدا لامل و چې د پاچا د انتخاب خبره ډېره ګرانه برېښېده

CamScanner

د تیمور شاه د مړینې وروسته د هغه د اولادونو زیاتوالي، د دولت په چارو کې د هغوی مداخله، د ولیعهد نه تاکل افغانستان په سیاسي لحاظ د ګډود سیاسي حالت سره مخ کړ، بهرنیو استعماري ځواکونو له دې وضعې څه ګټه واخیسته او د هېواد دننه یې موجود کړ کېچ ته لالمن ووهله د تیمور شاه د مړینې په وخت کې د هغه مشر زوی همایون د قندهار، دویم زوی محمود د هرات، عباس د پېښور، شجاع الملك د غزني او زابلستان او شهزاده زمان د کابل حاکمان و، هر یو یې د پاچاهۍ په دعوه کې ښکېل ټینګ و او د افغاستان تاج او تخت یې خپل حق ګانه، مګر د دربار با نفوذه سردارانو، زمکوالو، او لوړ رتبه مامورینو کوښښ کاوه چې یو لاس لاندې شهزاده واك ته ورسوي، په دغه وخت کې د هېواد عمومي ګټې د خود غرضه اشخاصو تر تاثیر لاندې راغلې او د هغه مرکزیت د له منځه تګ لپاره چې د احمد شاه بابا په وخت کې رامنځ ته شوی و او د تیمور شاه پواسطه ساتل شوی و، جدي خطر رامنځ ته شو، ځکه د قندهار والي همایون د مرکز پرېکړو ته هېڅ اهمیت نه ورکاوه او خپل ځان یې د پاچاهۍ مستحق ګانه او دویم زوی محمود چې د هرات والي و خپل ځان تینګ کړ، د خپلو ورونو موقعیت او وضع یې ځارله تر څو د سلطنت د دعوې وار ده ته ورسېږي د تیمور شاه درېیم زوی فیروز الدین چې د محمود سکنی ورور دی، غیر له دې چې د پاچاهۍ دعوه وکړي د یو نندارې کوونکي په څېر منتظر پاتې شو، عباس مرزا د تیمور څلورم زوی د پېښور والي ژر تر ژره کابل ته راغی او د پاچاهۍ د نیولو کوښښ یې وکړ، د ده مشر ورور کندل خان په کشمیر کې و،

CamScanner

شاه شجاع د زابلستان والي و شاه شجاع د خپل مشر سکني ورور د کابل والي شاه زمان ته سترګې په لاړو چې واک په لاس کې واخلي. شاه زمان چې د سن په لحاظ د تیمور پنځم زوی و خود لیاقت، کفایت او شجاعت له نظره تر ټولو مشر و، د خپل پلار تیمور شاه د مړینې او خښولو وروسته شاهي کورنۍ ټول شهزادګان د پاچا د انتخاب په غرض جرګې ته راوبلل، د همایون او محمود نه پرته نور ټولو شهزاده ګانو په دې جرګه کې ګډون وکړ د دربار پانفوذه اشخاصو هر یو د یوه شهزاده خوا ونیوله، شهزاده عباس ځان د پاچاهۍ لپاره کاندید کړ، په جرګه کې یې زیات طرفدارا هم پیدا کړل، شهزاده شاه زمان دې ټکي ته متوجه شو چې د سن مشر توب (همایون او شاه محمود) شهزاده عباس په نظر کې ونه نیول، نو خپل ځان یې د شهزاده عباس او نورو ورونو څخه د پاچاهۍ لایق وګانه او د دربار با نفوذه شخصیتونه چې د شاه زمان د لیاقت او شجاعت څخه اګاه و د شاه زمان ملاتړ یې وکړ. شاه زمان په ډېرې چالاکۍ سره هغه شهزاده ګان او مشران چې د ده مخالف و په بالاحصار کې بندیان کړل او خپله پاچاهي یې اعلان کړه خو د همایون او محمود لخوا د ده سلطنت ونه منل شو. شاه زمان په دغه وخت کې ۲۴ کلن و.

د ختیزو هېوادونو خصوصاً د افغانستان په معاصر تاریخ کې زمونږ د واکمنانو د بښخو او اولادونو زیاتوالي د افغانستان په سیاسي حالاتو ډېره بده اغیزه کړېده چې د تیمور شاه د زامنو بې اتفاقیو خپل منځي اختلاف هم په افغانستان کې مرکزي دولت ضعیفه کړ او د احمد شاه بابا امپراتوري یې د تجزیې لور ته سوق کړه د ګاونډیو

هېوادونو او د انګلیس د استعماري ځواک لپاره د لاس وهنې زمینه برابره کړه چې د دوی بې اتفاقي د دوی په له منځه تګ او د افغانستان د وروسته پاتې والي لوی لامل و.

د شاه زاده همایون مخالفت (۱۷۹۳م/۱۲۰۷هـ)

شاه زمان په پایتخت کې په خپلو دښمنانو بریالي شو مګر په ولایتونو کې د ده لپاره ستونزې موجودې وې. ځکه د ده دواړه مشران ورونه (شهزاده همایون او شاه محمود) په قندهار او اهرات کې حاکمان وو. همایون د تیمور شاه په وخت کې د قندهار حاکم او قندهار په هغه وخت کې د دولتي قوتونو د تمرکز په لحاظ زیات اهمیت درلود او د ده مور هم سدوزی وه. ده خپل ځان د هر پلوه د واکمنۍ مستحق ګانه. د بلې خوا څخه شاه زمان دا وړاندیز چې همایون په راتلونکي کې هم د قندهار د حاکم په توګه دنده اجرا کړي، په ډیر تکبر سره رد کړه. او همایون د شاه زمان د واکمنۍ سره مخالف او د خپل ځان لپاره یې پاچاهي غوښتله نه د قندهار د ولایت حکمراني شاه زمان مجبور شو چې د همایون د ایل کولو په خاطر د سردار پاینده محمد خان محمد زایي په مشرۍ یو پوځ د قندهار په لوري ولېږي. په قلات کې د دواړو ورونو پوځونه شاه زمان او همایون سره مخامخ شول د همایون د پوځ مشران (مهر علي خان او نور) ډیر ژر د شاه زمان د فوځ سره یو ځای شول د دې تسلیمي لامل د پوره وسلې نه لرل له همایون څخه د پوځي مشرانو زړه بداوي. د سردار پاینده محمد خان او مهر علي خان تر منځ د ښو اړیکو موجودیت ګنډل کېږي. همایون د پوځیانو د تسلیمېدو په نتیجه کې اړ شو چې په بلوچستان کې نصیر خان بلوچ ته پناه یوسي.

شاه زمان د همایون له تښتې او فرار څخه وروسته د سند د سواحلو په لور مارش وکړ. چې د ۱۷۹۳م کال په دسمبر کې پښور ته

ورسېد ، خو نومورې لاد سند څخه نه و تېر شوی چې همایون بیا د سند د خانانو په مرسته په قندهار حمله وکړه، د شاه زمان اوه ګلن زوی قیصر یې د جګړې په میدان کې په توره زخمي کړ، له بلې خوا څخه د بخارا امیر مراد بیګ په بلخ حمله وکړه، او بلخ یې ونیوه، په همدغه وخت کې ډېر زمکوال (فیوډالان) د مرکز څخه اطراف ته د ګډوډۍ د پیدا کولو په غرض تللي و، د ده سره جوړښت د سند امیرانو، د پنجاب سکهانو او د کشمیر والي هم بغاوت وکړ، په بلوچساتو کې هم نصیر خان بلوچ وفات شوی و او د هغه پر ځای ناست یانې محمود خان بلوچ باندې د سرکشۍ ګومان کېده چې د شهزاده همایون پلوی دی، مګر شاه زمان ته د ټولو څخه د هېواد داخلي امنیت ډېر ارزښت درلود نو ځکه په ډېره ډېره له پېښور څخه قندهار ته راوګرځېده، همایون د خپل پوځ مشر د احمد خان نورزایي له تسلیمۍ وروسته د مقابلې توان له لاسه ورکړ، سند ته وتښتېدو مګر په دې فکر کې شو چې په سند کې به هغه د شاه زمان لخوا تعقیب شي له هغه ځایه د هرات په نیت روان شو تر څو د شاه محمود د پوځونو سره یو ځای شي مګر په لار کې محمود خان بلوچ ونیوه او وروسته د شاه زمان په امر په بالاحصار کې بندي او ړوند کړی شو.

د شاه زمان لخوا همایون د سترګو ړند بدل د لومړي ځل لپاره د احمد شاه بابا په کورنۍ کې د شاه زمان لخوا عملي شول چې شاه زمان به دا کار شاید د خپل زوی قیصر د زخمي کېدو په بدل کې کړی وي، خو وروسته بیا شاه زمان د شاه محمود له خوا د خپل سکني ورور (همایون) د بدل اخیستلو په بهانه او د بهکانګانو (ایران او

انګلیس، په لمسون بندي او ړوند کړ. چې د شاه زمان بندي کېدل او ړند بدل زمور د هېواد په سیاسي وضعه باندې بده اغېزه وکړه، او د انګرېزانو د پلانونو او د نقشو د عملي کولو لپاره زمینه برابره شوه او د ورونو تر منځ دغه نفاق لاپسې زیات شو، چې د سدوزیانو په سقوط باندې تمامه شوه او بیا له هغې وروسته د افغانستان هېڅ واکمن د هند د نیولو په فکر کې نه شو، بلکې د افغانستان ځینې سیمې د برتانوي هندیانو لخوا ونیول شوې، او په وچه کې ایسار شو.

د شاه محمود مخالفت

شاه زمان په ۱۷۹۴م کال سند او پنجاب ته د دغو سیمو د امنیت د تینګولو په غرض حرکت وکړ، ده لاکوم اقدام نه وکړي چې شاه محمود په هرات کې مخالفت پیل کړ د قندهار یو لوی خان عطا محمد خان علیزایي چې د ۵۰۰۰ کورونو مشر و د محمود سره هرات کې یو ځای شو، شاه زمان د دې کورنۍ شخړې د پیدا کېدو په وجهه د سند والي میر فتح علي خان تالپوري سره سوله وکړه، شاه زمان نوموړی د سند د والي په صفت پرېښود او په خپله یې د قندهار په لور حرکت وکړ. شاه محمود هم د قندهار د نیولو په نیت د هرات څخه د قندهار په لوري را روان شوی و، دوی دواړه ورونه شاه زمان او شاه محمود د ګرشک په سیه کې سره مخامخ شول خود ۱۵ ساعتونو سختې خپل منځي جګړې وروسته د شاه محمود لښکر تباه شو او هغه د ۱۰۰ تنو سورو ملګرو سره د فراه په لور وتښتېده، شاه زمان خپل دښمن ته مجال ورنکړ هغه یې تعقیب کړ، خو محمود د فراه څخه هرات ته ولاړ او هلته یې استوګنه غوره کړه شاه زمان ډېر ژر د هرات ښار کلابند کړ، مګر محمود خپله مور د یو لیک سره د شاه زمان حضور ته ور واستوله په لیک کې شاه محمود ډېر عذر او سوګندونو وروسته د شاه زمان زوی ته د خپلې لور د نکاح کولو وعده هم کړې وه، شاه زمان د دې مېرمنې په راتلو او عذر سره شاه محمود وبښه او د هرات د حاکم په توګه یې مقرر کړ، خو د شاه زمان دغه زړه سوی او عاطفي د هېواد سیاسي ګټې او استقلال د خطر سره مخامخ کړې

د شاه زمان دغه عفوه د سیاست په نړۍ کې یوه اشتباه ده، ځکه ده په غه کار سره د احمد شاه بابا لویه امپراتوري د ذوال سره مخامخ شوه او که چېرته شاه زمان، شاه محمود د خپلې میرې مور د عذر پواسطه چې ټول پښتانه د خپل کولتور پر اساس دې عذر ته زیات اهمیت ورکوي معاف کړ، خو په هرات کې د هغه بېرته مقررول بېدون له کوم شک څخه یوه تاریخي اشتباه وه، ځکه شاه محمود په ډېرې اسانۍ سره د ایران د حکومت په اشاره د شاه زمان پر ضد بیا مخالفت پیل کړ. خو شاه زمان په هغه وخت کې د هرات په ستراتیژیکي اهمیت پوه نه شو چې د یو امپراتور لپاره دا ټکي هم یو اشتباه ګڼلی شو.

د شاه زمان او سردار پاینده محمد خان د اختلاف او د سردار پاینده محمد خان د وژلو لاملونه او پایلې

۱۷۹۹م / ۱۲۱۵هـ ق

سردار پاینده محمد خان د حاجي جمال خان زوی و چې د رحیمداد خان څخه وروسته د سرفراز خان د لقب په ورکولو سره د تیمور شاه لخوا د بارکزیو د قبیلې د مشر په توګه تعین شو، سردار پاینده محمد خان د تیمور شاه د سلطنت په ټینګښت کې ډېر کوښښ او سرښندنه وکړه چې د سردار پاینده محمد خان لومړی بریالیتوب، ذ رانیانو ته ماتې ورکول و چې د احمد شاه بابآ د کاکا عبدالخالق خان په شاوخوا راټول شوي وو غوښتل یې چې هغه پاچاهی ته ورسوي له دې سره سره چې کافي وخت یې هم نه درلود په درانیانو باندې بریالی شو، په کشمیر کې د دلاور خان اسحاق زایي سره هم ستر خدمتونه وکړل، د کویټې او نورو سیمو د مالیاتو په راټولولو کې د خلکو سره ښه سلوک وکړ او خپله دنده یې په ښه صورت سره سرته ورسوله په دې اساس له ده څخه پاچا تیمور شاه ډېر خوشاله شو او د غلزیو مشري یې هم ده ته ورکړه، د پېښور او بلخ شورشونه د تیمور شاه دولت ته جدي خطر درلود، چې هغه هم نومورې سردار ارام کړل. د تیمور شاه ۲۰ کلن سلطنت په ټینګښت کې د سردار پاینده محمد خان. ښه تدبیر، فکر، شجاعت، او له خان څخه تېرېدنې ډېر تاثیر درلود

د شاه زمان واکمني ته د رسېدو او په نورو ورونو باندې بریالي کېدل هم د سردار پاینده محمد خان د ښه تدبیر د جرګې څخه وتل، او

ملاتړ نتیجه وه شاه زمان غوښتل چې د قومي مشرانو نفوذ په دولت کې کمزوری کړي ځکه هغه په نظر د دوی نفوذ د ملوك الطوایفي سیستم د ادامې او د مرکزیت د کمزورۍ مهم عامل ګڼل کېده نوموړي هڅه کوله چې مرکزي حکومت قوي کړي، د پاچا دغه نظر سردار پاینده محمد خان ته د منلو وړ نه و نوموړي سردار هیله درلوده چې د خپل قوم په اعتبار د پاچا په دربار کې د ده احترام او عزت وشي مګر پاچا شاه زمان په دې کوښښ کې و چې د سردار پیانده محمد خان څخه د یو وزیر په توګه د قومي اعتبار پرته د ملوك الطوایفي سیستم په رنګولو او د مرکزي حکومت په ټینګولو کې کار واخلي همدغه نظر د دوی دواړو شاه زمان او سردار پاینده محمد خان، تر منځ اختلاف د مینځ ته راتګ سبب شو. که څه هم شاه زمان سردار پاینده محمد خان ته زیات احترام درلود او غوښتل یې چې د ده څخه په دولتي چارواکي ګټه واخلي. مګر د سردار پاینده محمد خان د کار روش داسې و چې د شاه زمان د مفکورې او هدف سره یې سمون نه درلود نو شاه زمان اړ شو چې د خپل هدف د عملي کېدو لپاره یو بل تن پیدا کړي چې دغه شخص سردار رحمت الله خان کامران خپل و چې د وفادار خان په لقب د پاینده محمد خان په ځای وټاکل شو. رحمت الله سدوزی یو فعال ځوان او د شاه زمان د نقشو او هدفونو سره یې موافقه درلوده، د هغوی د علمي کېدو لپارې یې ترتیبات ونیول ټول مورخین په دې عقیده دي چې شاه زمان لوړ اهداف درلود یانې غوښتل یې چې د خپل نیکه امپراتورۍ ته پراختیا

CamScanner

ورکړي، په افغانستان کې یو قوي، متمدن نظام چې په ختیز کې د علم او فرهنګ کانون وي جوړ کړي.

کله چې شاه زمان رحمت الله سدوزی د خپل وزیر په حیث انتخاب کړ، پښتنو سردارانو په پټه د دې انتخاب په مقابل کې په مخالفتونو پیل وکړ، خینې مورخین د وزارت په څوکۍ باندې د رحمت الله خان وفادار خان تاکل تر زیاتې اندازې پدې پورې تړلې ده چې د ده خور د شاه زمان د سکنې ورور شاه شجاع میرمن وه.

خینې مورخین پدې باور دي چې د سردار رحمت اله خان د سردار فتح خان پوپلزي زوی و، د ده پلار په ملتان کې سردار و په افغانستان (کابل او قندهار) یې دومره نفوذ نه درلوده، له بلې خوا نوموړي سردار وزیر عصباني او تند مزاج درلود، د قبایلي مشرانو سره به یې بد چلند کاوه. کله چې شاه زمان نوموړی سردار رحمت الله د لومړي وزیر په توګه وټاکه زیات قومي مشران د هغوی په سر کې سردار پاینده محمد خان یې د شاه زمان څخه خپه کړل.

څه وخت چې شاه زمان په ۱۷۹۹م کال خپل پوځ سره په قندهار کې تم شو، خبر شو چې یو شمېر سردارانو پتېیلې ده چې لومړی وزیر (صدراعظم رحمت الله خان) مړ، شاه زمان له واک څخه لرې او پر ځای یې د ده سکه ورور شاه شجاع پاچا کړي، دغه سرداران د یو تن هندي روحاني غلام محمد په حجره کې سره یو ځای شول، دغه روحاني په قندهار کې اوسېده او په دې لږ وخت کې ډېر نفوذ پیدا کړ، دغه روحاني د انګلیسانو لخوا رالېږل شوی و او په قندهار کې د مېشته کېدو څخه وروسته ډېر ژر د بانفوذه سردارانو سره اړیکې تینګې

CamScanner

کړي. او بیا یې هغوی د شاه زمان پر ضد ولمسول چې شاه زمان لرې او لومړی وزیر پانسي کړي، د دې کار لپاره د یو منظم پلان جوړول دا ټول د پښتنو سردارانو لپاره ګران و خو دغه پیر (غلام محمد هندي) د انګرېزانو نماینده و چې د مذهب په لباس کې افغانستان ته داخل شوی و، د دوی د غونډې پربکړه داسې وه.

شاه زمان باید معزول شي او پر ځای دې شاه شجاع پاچا شي اینده پاچا به د قومونو د مشرانو په مصلحت تاکل کېږي.

کوم پاچا چې د قومي مشرانو د غوښتنو سره سم کار ونه کړي سرداران به یې په خپل اختیار سره لرې کوي ځینې داسې وایي چې دغې ډلې فیصله کړې وه چې شاه زمان به وژني او پاچاهي به شاه محمود ته ورکوي چې دغه خبره د مزار شریف منشي باشي قزلباش او یا رمحمد خان بارکزي (چې دا دواړه په دغه توطیه کې شامل و، صدراعظم رحمت الله خان او د هغه پواسطه شاه زمان ته ورسېد پاچا پرته له غور داسې امر وکړ چې د دوی سرونه دې په همدغه مجلس کې له تن څخه جلا شي او یا د خلکو په مخکې په دار وځړول شي سره له دې چې سردار پاینده محمد خان د پاچا له ارادې خبر شو او د ده زامنو لکه فتح خان او نورو د ته د خپل اصلي وطن ګرشک خواته د تېښتې مشوره ورکړه خو دغه زړور سردار تېښتېدل شرم وګانه نو خکه یې دغه سلا ونه منله او خان یې شاه زمان ته تسلیم کړ. خو شاه زمان د تدبیر څخه کار وانه خیست، سردار پاینده محمدخان چې یو پوه او ب تدبیر شخص و د نورو سردارانو او مشرانو لکه قمر الدین خان امین الملك، میر هزار غلجي. احمد اعظم خن الکوزي. اسلم خن او

CamScanner

نورو سره یو ځای وواژه، د شاه زمان دغه عمل په ټول افغانستان کې د فساد او ګډوډۍ درامنځ ته کېدو سبب شو.

ځینو مورخینو ددغو سردارانو شمېر ۱۱ تنه ذکر کړې ده چې موږ د موضوع د روښانه کولو په غرض د هغو نومونه لیکو: سردارپاینده محمدخان، محمد عظیم خان الکوزایي، محمد رحیم خان علیزایي، سلام خان ضبط بیګي، حکمت خان سرکایي، سلطان احمد خان نورزایي، میرارصلاخان جوانشیر، جعفر خان جوانشیر، زمان خان رکاب باشي، ظفر خان علیزایي بعضې نور محمد خان باندې چې امین الملك په لقب هم ذکر کړی مګر د دره الزمان مولف بناغلي پوپلزایي په خپل کتاب کې یو سند ذکر کړی چې دغه سند څو میاشتې وروسته د پورتنۍ پېښې څخه لیکل شوی او په دغه سند کې د نور محمد خان بابړ امین الملك مهر لیدل کېږي، هندي غلام محمد چې په تېښته بریالی شوی و وروسته یې ونیو او پانسي یې کړ، خو د سردار پاینده محمد خان مړی دشاه زمان په اجازه د قاضي محمد سعید بارکزایي لخوا د ذاکرو په قریه کې دخپل پلار د جمال خان په خوا کې خښ کړ، محمد سعید خان بارکزایي قاضي د علومو کورنۍ نېکه دی، چې د محمد زیو د کورنۍ دواکمنۍ په وخت اولادې تر اولادې په لوړ قضایي اونور دولتي څوکیو کې دنده اجرا کړیده.

که چېرې د امین الملك او غلام محمد مړینه رښتیا وي نو ددغو مشرانو شمېر ۱۲ دولس تنو ته رسېږي په هر صورت د دغو سردارانو وژل دشاه زمان لخوا لویه اشتباه وه، ددې پر ځای چې د سردارانو وژل په افغانستان مرکزي حکومت ټینګ کې او ملوك الطوایفي سیستم

CamScanner

له منځه یوسي لاکن دوی په افغانستان کې د ګډوډۍ سبب شو ځکه دپاچا دا عمل د ټولنې د عیني او ذهني وضعې سره مطابقت نه درلود بلکې د پاچا او د هغه د نږدې ملګري رحمت الله په امر عملي شو.

د سردار پاینده محمدخان د مړینې پایلې زموږ د هېواد لپاره د زیان ځخه ډکې وې ځکه د ده زامنو نه یوازې دسدوزیانو واکمنۍ ته دپای ټکی کېښود او دوی (سردار پاینده محمد خان) زامن هم په خپل منځ کې د واکمنۍ په سر جوړ شول، چې دا دواړه پېښې په افغانستان کې مرکزي حکومت او پوځ دله منځه تګ سبب وګرځېدې.

CamScanner

د سردار پاینده محمد خان د زامنو شورش او شاه محمود سره د وزیر فتح خان یو ځای کېدل

۱۷۹۹م / ۱۲۱۵هـ ق

د سردارانو د پانسي کېدو د خبر د خپرېدو سره سم د سردار پاینده محمد خان مشر زوی فتح خان د نورو ورونو سره یو ځای د بارکزیو دخانانو سره د مصلحت څخه وروسته د قندهار له ښار څخه وتښتېدل، لومړی یې د خپل قوم په منځ کې د ښار څخه بهرون پټ شول او وروسته د یو شمېر سوروسره یو ځای د ایران لاره ونیوله، په ایران کې د شاه محمود سره یو ځای شول شاه محمود د ده سکنې ورور حاجي فیروزالدین او خپل زوی کامران له دوی سره په ګډه د سیستان له لوري افغانستان ته داخل شو مګر شاه زمان د هند دفتحې سره زیاته علاقه درلوده، ځکه په داسې حساسو شرایطو کې چې له یوې خوا د ځینو قبایلو د مشرانو د پانسي کېدو په وجه خلکو شورش اوه له بلې خوا د ایران د قاجاري دولت سره هم خبرې تحدید ته رسېدلې وې، قندهار یې پرېښود او پېښور ته د پنجاب د سکانو د اړامولو په غرض ولاړ.

د دوی دواړو (شاه محمود او وزیر فتح خان) پوځونه لا قندهار ته نه و رسېدلي چې مهر علي خان د قندهار حاکم (۵۰۰۰) سورو سره د ښار څخه بیرون د دوی مقابلې ته ورغی د مریز بن د جګړې میدان وګرځېده مهر علي خان د وزیر فتح خان او شاه محمود په مقابل کې ماتې وخوړه تقریباً ۲۰ ورځې یې د قومي سرداران د شاه محمود او

وزیر فتح خان په شاوخوا راټول شول چې د هیرمند له سیند څخه راتېر او د قندهار ښار یې کلابند کړ چې د ۲۴ ورځو کلابندی څخه وروسته د دوو تنو امام بخش او حسن خان، په مرسته د قندهار ښار فتح کړ، دغه دواړه کسان مخکې له دې چې شاه محمود ښار ته داخل شي د مهر علي لخوا دښمن سره مرستې په تور ووژل او په خپله مهر علي خان ځان شاه زمان ته ورساوه او د شاه محمود لخوا یې د قندهار د ښار د نیولو خبر ورکړ، شاه زمان پنجاب ته د تلو څخه تېر شواود محمود څخه یې د قندهار د نیولو نیت وکړ کله چې دی غزني ته ورسېد سردار نوراحمد خان نورزایي د ۱۰ زره عسکرو سره مخکې ولېږه، او پخپله یې دوه ورځې وروسته حرکت وکړ، شاه محمود د سوداګرو څخه پیسې په قرض واخیستې اووسلې یې پرې راونیولې او د شاه زمان د مقابلې لپاره یې ځان اماده کړ. د سردار نور احمد خان او شاه محمود لښکرې د مقر او کلات په منځ کې سره مخامخ شوې، سردار نور احمد خان نور زایي چې رحمت الله خان دناوړه چلند څخه خپه و د شاه زمان څخه جلا او د شاه محمود پوځ سره یو ځای شو، شاه زمان چې د سردار نور احمد خان نورزایي د تسلیمۍ څخه خبر شو، چې د نوموړي سردار په تسلیمۍ سره د پوځ په داخل کې د شاه زمان پر ضد تبلیغ او پروپاګند شروع شوه، شاه زمان نه غوښتل په یوه نا باوره پوځ د دښمن مقابله وکړي، له غزني څخه یې له کابل په لور حرکت وکړ په کابل کې هم ماتل نه شو او پېښور ته د خپل سکني ورور شاه شجاع څخه د مرستې د تر لاسه کولو په نیت روان شو، چې شاه زمان سره په دې سفر کې سردار رحمت الله خان زمان بامزایي او ۱۵ تنه سواره

ملګري وو د ستړیا د رفع کولو په غرض د ملا عاشق شینواري قلعه ته وګرځېدل هغه ملا عاشق شینواري په لومړي وخت کې د دوی ډېر عزت وکړ، مګر په نیمه شپه کې د دوه ویشت تنه توپك والا یې راوغوښتل د قلعه دروازې یې بندې کړې شاه زمان ته یې د تللو اجازه ورنکړه.

ملا عاشق الله د شپې خپل زوی شاه محمود ته چې دا وخت کابل ته رارسېدلی و ولېږلو، تر څو دا خبر هغه ته یوسي او د دې خدمت په مقابل کې یو څه انعام تر لاسه کړي، د افغانستان امپراتور شاه زمان چې د هغه له پیغام او خیانت څخه خبر شو ډېر کوښښ یې وکړ خو نتیجه یې ورنکړه، شهزاده شجاع الملك هم د دې پېښې څخه خبر شو سردار عبدالکریم خان اسحق زایي د ۱۰۰ ټنو سره د پېښور نه راولېږه تر څو شاه زمان د ملا عاشق له بند نه خلاص کړي مخکې له دې چې د ده قوا هلته ورسېږي شاه محمود د ملا عاشق پیغام سره سم نواب اسدالله خان د سردار پاینده محمد خان زوی د ډېرو سورو سره کابل نه د شینوارو په طرف واستوه هغه د پلار د بدلې لپاره لېواله وه، ډېر ژر یې شاه زمان کابل ته راوسته کله چې د شاه شجاع رالېږلي پوځ د خیبر څخه راتېر شو، شاه زمان یې کابل ته راوستی و، عبدالکریم خان اسحق زایي چې د شان زمان د راوستلو څخه خبر شو د شاه شجاع څخه د پرمختګ یا د بېرته پېښور ته د ستنېدو اجازه وغوښتله څرنګه چې مخکې تګ کومه ګټه نه درلوده د شاه شجاع په امر هغوی بېرته پېښور ته وګرځېدل، سلطاني تاریخ په حواله د اعلیحضرت شاه زمان د نیولو په وخت کې دوه نګینه چې یو فخراج او بل یې کوه نور د

ځان سره درلودل چې کوه نور یې د دېوال په ترک (درز) کې کېښود او فخراج یې اوبو ته خطا کړ.

شاه زمان کله چې د شاه محمود دربار ته راورسېد، شاه محمود دهمایون په بدل کې دواړه سترګې تړې وویستلې او په بالاحصار کې یې بندي کړ. رحمت الله خان چې د سردارانو د وژلو په وخت کې یې د وفادار خان لقب ګټلی و د سردار پاینده محمد خان او زمان خان اود حاضر خان په بدل کې پانسي شو.

که چېرته د پښتنو خانانو لکه مهراب خان، شهسوار خان، ګدو خان، الله داد خان، بارکزیي، الوخان، تیمور خان، عبدالرسول خان، امام بخش خان، عبدالعزیز خان، کریم خان، علیزایي او بالخصوص وزیر فتح خان که په دې پوهېدی چې له شاه محمود سره د دوی یو ځای کېدل او د شاه زمان له منځ تګ د احمد شاه بابا د امپراتوری د تجزیې او د افغانستان د بدبختۍ سبب ګرځي هېڅکله به دوی دا کار نه وی کړی ځکه دې مشرانو باندې دا هېواد ډېر ګران و خو دا چې هغه وخت سواد او سیاسي پوهه کمه وه د انګلیسانو په پټه لاس وهنه او استعماري اهدافو باندې دومره نه پوهېدل، هغوی یوازې د غچ اخیستلو او قومي نفوذ د ټینګښت په خاطر راپاڅېدلي وو او ویل به یې چې پاچا باید د دوی له مشورې اومصلحت سره سم کار وکړي، اود قومي بانفوذه اشخاصو نفود باید په دولت کې زیات وي، دوی شاه محمود او شاه زمان دواړه د یو پلار زامن ګڼل خو دوی د دې دواړو د شخصیت او لیاقت په توپیر دومره نه پوهېدل خوا نګلیسانو او ایرانیانو د دې قومي مشرانو د زور او قوت څخه ډېره

ناوړه ګټه واخیسته اوشاه محمود د هغوی د لاس اله او ګوډاګی وګرځېد ، پداسې حال کې چې شاه محمود د دغو قومي مشرانواو ستر افغاني جنرال ،وزیر فتح خان، په زور واک ته ورسېد ، خکه په قندهار کې د حسن خان او امام بخش تسلمي چې د قندهار ښار یې شاه محمود ته تسلیم کړ او د مقر او کلات تر منځ د جنرال نور احمد خان نورزایي تسلیمي چې شاه زمان د نوموړي سردار له تسلیمي وروسته بیا جګړې ته زړه ښه نکړ، د دغو درې واړو مشرانو تسلیمېدل تر ډېرې اندازې پورې د وزیر فتح خان سره د دوی په نېکو اړیکو پورې اړه درلوده، که څه هم په دې برخه کې د سردار رحمت الله ناوړه چلند بې تاثیره نه و، خو د دوی پاڅون د افغانستان په ضرر تمام شو د احمد شاه بابا د امپراتوری د تجزیې او د مرکزي دولت د زوال د انګلیسانو، سکهانو او ایرانیانو د لاس وهنې لپاره شرایط برابر کړل د شاه زمان د سقوط څخه لږ موده وروسته افغانستان ځینې سیمې له لاسه ورکړې.

د شاه زمان د واکمنۍ په وخت کې د نړۍ سیاسي وضعه

۱۷۹۳-۱۸۰۰م ۱۲۰۷-۱۲۱۶هـ ق

د شاه زمان د واکمنۍ په وخت کې په غربي نړۍ (امریکا او اروپا) په ځانګړي توګه په فرانسه او انګلستان کې ژور بدلونونه رامنځ ته شوي وو، علومو اوصنعت د چټک پرمختګ په لور ګامونه اخیستل مګر ختیز په دغه وخت کې وروسته پاتې و د احمد شاه بابا او تیمور شاه د واکدارۍ دوړې په فرانسه کې د پنځلسم او شپاړلسم لویې هم مهالي وې د تیمور شاه د واک په وروستیو وختونو (۱۷۸۹م) کال کې د فرانسې انقلاب پیل شو چې د ده د مړینې (۱۷۹۳م) روبسپیر د فرانسې واکمن و. انګلیسانو په دا مهال د شرق الهند کمپنۍ له لارې په هند کې مستعمراتي سیستم ته پراختیا ورکړه مګر په شمالي امریکا کې ینې خپلې مستعمراتي سیمې له لاسه ورکړې وې، په هر صورت د تیمور شاه د پاچاهۍ په وخت کې له یوې خوا انګلیسانو په هند کې خپل نفوذ ټینګ کړ، چې د اوبدلو د ماشین په ایجاد او د بخار د ماشین په اختراع سره یې په نړۍ کې د صنعتي انقلاب بنسټ کښېښود او ډېر ژر دغه صنعت نورو اروپایي هېوادونوته ولېږدېده په دې توګه یې په نړۍ کې د نوي صنعت بنسټ ټینګ کړ.

په المان او پروس کې دولت د یو نظامي قوت په توګه ظهور وکړ، په روسیه کې دویمه کاترینه (۱۷۲۲-۱۷۹۷م) ډېره موده حکمراني وکړه چې نومورې د بطرکبیر په څېر د پراختیا غوښتنې سیاست تعقیباوه، دوی له ایران څخه د قفقاز ځینې برخې ونیولې او د روسیې نفوذ یې په اسیا کې ټینګ کړ که څه هم د روسیې دولت نفوذ د

افغانستان پولو ته نه و رارسېدلی، مګر د روسي خبرو او تماس د انګرېزانو سره د افغانستان په وضع باندې اغېزه درلوده د افغانستان د سدوزیو دولت د اتلسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د ختیز د لویو قوتونو څخه حسابېده چې فرانسه، انګلستان او روسیې درې واړو د دوی د طاقت او د هند په نیولو کې د دوی څرګند تاثیر څخه خبر او ځیر و، مور ځکه دلته د اروپایي هېوادونو خصوصاً د انګلستان اوفرانسې د سیاسي وضعې په څېړنه تاکید کړی چې افغانستان په دغه وخت کې د نړۍ د یو لوی اروپایي استعماري قوت (انګلستان) سره په هند کې د تکر او مقابلې په حال کې و چې د انګلیسانو د سیاسي نقشې په تطبیق او هلو ځلو سره افغانستان ته نه جبرانېدونکی تاوان ورورسېد.

د اتلمسې پېړۍ په پیل او لومړۍ نیمایي کې د اروپا سیاسي نقشه د تغیر او بدلون په حال کې وه، ځکه چې هسپانیه، سویډن او هایلنډ د لویو قوتونو څخه خارج شول او د انګلستان تر نفوذ لاندې راغلل لهستان په ۱۷۷۲م کال وویشل شو، د پروس دولت په ۱۷۰۱م کال کې تشکیل او د دویم فریدریك په وخت کې یې ځینې سیمې ونیولې، د روس دولت د پطر کبیر (۱۶۸۲-۱۷۲۱م) په مشرۍ د اروپا په سیاست کې مداخله وکړه اطریش د مرکزي اروپ هالنډ، المان او د ایتالیا په شمال کې ځینې سیمې ونیولې. فرانسې هم د پنځلسم لوی په وخت کې د کرس تاپو او لرن سیمه ونیوله. انګلستان دا وخت چې ۱۷۱۵م کال کې د اروپایي هېوادونو تر منځ امضا شو د سولې د ټرون څخه وروسته د لویو قدرتونو څخه حسابېده ځکه د بریتانیا

امپراتوری د دغه ترون په واسطه تشکیل شوه چې نفوذ یې د اروپا څخه بهرنیو سیمو ته ورسېده چې بیا وروسته د مستعمراتي سیستم په بین المللي اړیکو کې مهم رول ولوباوه د هسپانیې او فرانسې لاس لاندې سیمو د نیولو هڅه وروسته انګلستان وکولی شو چې په هندوستان او امرکا کې خپل ښکېلاکي سیستم ټینګ او خپل امپراتوری ته پراختیا ورکړي د فرانسې او انګلستان د رقابت په نتیجه کې هسپانیه ډېرې سیمې په امریکا، پرتګال اوهایلنډ کې له لاسه ورکړي او انګلستان د نړۍ لوی ښکېلاکي ځواک شو. ولې د فرانسې او د انګلستان رقابت نور هم شدت پیدا کړ.

د شاه زمان د واکمنۍ وخت د هندوستان د مسلمانانو او د افغانستان د پښتنو لپاره ډېر نازك وخت و ځکه چې په هند کې د مغلو پیاوړی سلطنت د بې وارث ملکیت په څېر توتې توتې شوی و د یوې خوا انګرېزانو او فرانسویانو غوښتل چې د سوداګرۍ په بهانه خپل نفوذ په هند کې ټینګ کړي خو انګرېزان دومره غښتلي و چې د هر چا مقابلې ته یې ځان جوړ کړی و او بلې خواته د احمد شاه بابا د جګړوله امله د مرهټیانو ټپونه جوړ شوي و او بیا په کې نوې ساه راپیدا شوې وه دوی د خپل واك د بیا ژوندي کولو لپاره د انګرېزانو مقابلې ته راوتلي و په جنوبي هند کې حیدر علي خان او له ده نه وروسته زوی یې فتح علي خان چې مشهور په ټیپو سلطان و انګرېزانو او مرهټیانو دواړو د خپل اقتدار په لار کې یو خنډ ګڼلو او د هغوی د له منځه وړلو لپاره یې د هر ډول امکاناتو څخه استفاده کوله د بلې خوا څخه په هند کې د مسلمانانو مرکزي طاقت ببخي ختم شوی و. د هند مسلمانانو نوابانو

د خپلو بې اتفاقیو له امله د ځان ساتنې توان نه درلوده او په مقابل کې یې انګرېزانو د خپلې استعماري پالیسۍ پر اساس دغه نوابان یو یو له منځه وړل په پنجاب کې سکانو هم بده ورځ جوړه کړې وه په دغه حساسو شېبو کې په هند کې د شهید سلطان ټیپو او په افغانستان کې د شاه زمان څخه د دې حالاتو د بدلون تمه کېدله ځکه چې مسلمانان د غیرو مسلمو ځواکونو په لاس له منځه تلل د افغانستان پښتانه مسلمانان په خپل منځ کې په خونړیو سازشونو اوکورنیو جګوړو بوخت و که چېرته شاه زمان په دغه وخت کې د عقل څخه کار اخیستی وای. دغلطې پالیسۍ له امله خپل سردارن د ځان دښمنان کړې نه وای او ورونو یې هم ځاني ګټې او د پاچاهۍ خیالونه یې پرایښي وای نو ډېره ممکنه وه چې د پنجاب سیمه به دومره ژر سدوزیو د سلطنت څخه نه وای جلا شوې او نه په هند کې د مسلمانانو حکومت ته دومره تاوان رسېدلی وای. په هند کې د سدوزیو د واکمنۍ راپرزول او د مسلمانانو د سیمه ییزو حکومتونو او ځواکونو د له منځه وړل یوازې د شاه زمان د غلطې پالیسۍ پایله نه ده ځکه شاه زمان غوښتل چې په هند کې خپل نفوذ ټینګ کړي او د هند مسلمانان د انګرېزانو له ظلم او اسارت څخه وژغوري د شاه زمان د بریالیتوب امکانات زیات و لومړی دا چې په هغه وخت کې د انګرېزانو په پرتله شاه زمان غښتلی پوځ درلود او انګرېزانو د ده مخامخ نظامي مقابله نشوه کولی دویمه دا چې په شمالي هند کې د احمد شاه بابا د واکمنۍ دوخت حاکمان او امیرن ځای پر ځای و درېیم مهمه خبره دا وه چې د هند مسلمانانو د ده څخه غوښتنه کوله چې هند ته راشي او دوی ترې ملاتړ کاوه د نقدي مرستو او عسکرو ژمنه یې هم ورسره کړې وه ولې ده ته په داخل کې ستونزې

پیدا شوې او نومورې په خپلو موخو کې ناکام شو د ده د کړنې غلطي په دې کې وه چې ده د افغاني ټولنې ټولنیز او سیاسي جوړښت په نظر کې نه نیوه او په مرکزي حکومت یې ټینګار کاوه بلکه دا چې د ایران او انګریزانو مداخلې ته ارزښت نه ورکاوه خو د ورونو یاغي کېدل او د ده پر ضد د هغوی راپاڅېدل د دې کار له امله و ورونو یې د پاچاهۍ سره ډېره مینه درلوده ځکه دوی (همایون او شاه محمود) لومړی بغاوت کې دومره تعقیب او په عذاب نه شول حتی شاه محمود یې په خپل ځای کې مقرر کړ خو محمود د ایران په لمسون او له واکمنۍ سره د مینې لرلو له امله دویم ځلې بغاوت وکړ کله چې محمود دویم ځلې واک ت ورسېده دواړه کرته په عیاشۍ مشغول او هېواد یې د تباهۍ او تنزل لور ته سوق کړ خو شاه زمان په تبعید کې هم دښمن ته تسلیم نه شو قومي مشران هم په دولت کې د ډېر نفوذ غوښتونکي وو او د پردیو (پیر غلام محمد) په لمسون دشاه زمان پر ضد راپورته شول ده (شاه زمان) اشتباه او پردیو لاس وهنه د قومي مشرانو د سیاسي پوهې او لرلید کمزورتیا په نتیجه کې په هېواد کې د ښکېلاک ګرو قوتونو هدفونو علمي شول چې د شاه زمان د حکومت په راپرځولو سره انګریزان په شمالي هند باندې مستقیم او غیر مستقیم نفوذ پیدا کړي.

د انګلیسانو او فرانسې تر منځ د اختلاف لاملونه

د شاه زمان د واکمنۍ په دور کې د دوو لویو امپراتوریو (انګلستان او فرانسې) په نړۍ کې خصوصاً په اروپا کې د یو بل د نفوذ د کمولو حتی د له منځه وړلو لپاره هلې ځلې کولې، فرانسې دا کوښښ کاوه چې د افغانستان پاچا شاه زمان د انګلیسانو پر ضد له ځان سره ملګری کړي تر څو د هند په نیمه وچه کې انګلیسانو ته ماتې ورکړي. مګر انګلیسانو خپل ټول سیاسي توان د شاه زمان د له منځه وړلو لپاره په کار واچوه، د خپلې نقشې او اهدافو د عملي کېدو په خاطر یې کوښښ وکړ چې د شاه زمان لپاره د هېواد په دننه او لوېدیزو سرحداتو کې جنجالونه پیدا کړي.

د اتلسمې پېړۍ په نیمایي کې د نوو کشفیاتو په وجه مستعمارتي سیستم او د نوو مستعمرو پیدا کولو زیات اهمیت پیدا کړ چې د همدې موخې په خاطر ناپلیون په مصر، ایران، هند، انټیل او ایټالیا کې یو لړ اقدامات وکړل که څه هم نوموړی په دې برخه کې بریالیتوب ته ونه رسېد مګر خپل رقیب انګلستان سره یې د نړۍ په ډېرو برخو کې ټکر وکړ. د انګلستان دولت چې اساس یې په سوداګرۍ ولاړ و او په نړیواله سطحه یې د سوداګرۍ د چارو او اقتصادي فعالیتونو سره مرسته کوله خو ناپلیون کوښښ کاوه په ټوله نړۍ خصوصاً په فرانسه او اروپا کې اقتصادي استقلال د انګلستان د صنعتي مالونو په مقابل کې وساتي نو د انګلیسانو د مالونو د واردولو د لارو د بندولو کوښښ یې وکړ او غوښتل یې چې د سمندري سرحداتو لرونکي هېوادونه هم په خپل اتحاد کې شامل کړي مګر ناپلیون د خپل واک په

اوج کې هم په دې قادر نه شو چې د خپلې امپراتورۍ نړیواله اداره جوړه کړي او پر انګلستان برلاسي حاصله کړي ځکه د فرانسې دولت د پروس او روسیې د دولتونو مرستې ته اړتیا لرله، تر څو په نیول شویو سیمو کې نوي تشکیلات جوړ کړي مګر دغو دواړو هېوادونو ده ته تل دروغ ویلې او د ده پر ضد یې اتحادیې جوړولې چې د وروستني اتحاد په نتیجه کې ناپلیون ته یې داسې ماتې ورکړه چې د ناپلیون لپاره د هغه جبران غیر ممکن و.

د فرانسې او انګلستان د رقابت په وخت کې د هند کورنۍ وضیعت ډېر خراب و ځکه د دیلي امپراتوري د ډېرو ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ او یا اصلاً دغه امپراتوري په ربښتیني توګه موجودیت نه درلود تش په نامه یادېدله د هند شمالي برخه د ایران د پاچا د نادر افشار د یرغل پر اساس د ایراني دولت له خوا اشغال او په ۱۷۳۹م کال طاوس تخت چې د شاه جهان په دستور جوړ شوی و د ځان سره یوړ او د هند شمالي برخه د دې یرغل په نتیجه کې ډېره ضعفیه شوې وه، د نادر افشار څخه وروسته درانې احمد شاه پر هند یرغلونه وکړل چې په ۱۷۵۸م کال پورې یې ټول پنجاب په خپل قلمرو کې شامل کړ دوی کوښښ ونه کړ چې په دغو سیمو کې یو واقعي او قوي دولت یا حکومت جوړ کړي بلکې هغوی د مالیاتو په راټولولو خوښ وو او سیمه ییز واکمنان یې پر ځای پرېښودل احمد شاه بابا عملاً د ډېهلي د امپراتورۍ وارث وګرځېد او احمد شاه بابا په ۱۷۶۱م کال د پاني پت په میدان کې مرهټیانو ته سخت ماتې ورکړه او هېڅ ځواک او قدرت نه و چې په هند کې د هغه مخه ونیسي خو د هندوستان په جنوب کې انګلستان او فرانسې سخت رقابت درلود هغوی که په اروپا کې یو له

بله سره په جګړو بوخت وو د دوی نمایندګانو په هند کې هم یو د بل پر ضد مبارزه کوله که څه هم د دوی تر منځ په اروپا کې رسمي سوله هم وه خو په هند کې د دوی تر منځ مبارزه روانه وه په دواړو خواوو کې جګړه غوښتونکي (ماجراجوي) او په هند کې د دې د پانګې د راټولولو په غم کې وو چې د دوی تر منځ رقابت ورځ په ورځ ډېرېده د فرانسې نماینده (دوپلکس) او د انګلیسانو نماینده کلایو دوپلکس د هند د سیمه سیزو حکومتونو د مخالفتونو څخه ګټه واخیسته او خپل عسکر یې هغوی ته د خپل منځي جګړو په وخت کې په کرایه ورکول د جګړې غنیمتونه د دوی لاس ته ورتلل پدې ترتیب سره د فرانسویانو نفوذ ورځ په ورځ زیاتېده انګلیسانو هم دېر ژر د دغه کړنلارې څخه کار واخیست حتی د فرانسې څخه مخکې شول، خو دواړه خواوې له وږې او داړونګې ژوې په هند کې د داخلي جګړو انتظار ویسته، کورنۍ جګړې خصوصاً د واکمنانو د تعینولو پر سر ډېرې زیاتې وې چې فرانسویانو به د یوې ډلې ملاتړ کاوه او انګلیسانو به د بلې ډلې بالاخره انګلیسان د ۱۵ کاله (۱۷۴۶-۱۷۶۱م) مبارزې او کشمکش څخه وروسته پر فرانسویان بریالي شول. مورخ د انګلیسانو د بریالیتوب لامولنه لاندې دلایل ګڼو په هند کې انګلیسي جګړه کونکي د انګلستان د دولت مرستې څخه برخمن و، په داسې حال کې چې دوپلکس او د هغه ملګرو ته د فرانسې د دولت له خوا کومه خاصه او جدي مرسته نه رسېده، د دې خبر علت دا و چې انګلستان په پارلمان کې هغه پانګوال (سرمایه داران) و چې د شرقي هند په کمپنۍ کې سهیم و، هغوی به د پارلمان له لارې د انګلستان په حکومت زور اچوه چې په هند کې د "کلایو" او د هغه د ملګرو کلك ملاتړ وکړي مګر په فرانسه کې پنحلسم لویی کراند مونارك

د څورالسم لویي لمسي واکمن و چې د ده کړنه او بې تفاوتي د دوپلکس د ناکامۍ سبب شوه. پر سمندرونو باندې د انګلیسانو تسلط هم د انګلسانو په بریالیتوب کې موثر رول درلود، که نه دواړه هېوادونو هندي عسکر روزل چې د سپاهي په نوم یې یادول بالاخره انګلستان په فرانسویانو بریالي شو د هغوی څخه د "چندرناګور" او "پوندچیري" ښارونه ونیول.

انګلیسانو او فرانسویانو د هند پرته په کانډا ایران او نورو ځایونو کې هم په رقابت کې و، اما په کانډا او امریکا په نورو برخو کې فرانسې له انګلستان څخه خپل غچ واخیسته او د دوی په مرسته هغوی د انګلستان څخه خپله خپلواکي واخیسته که څه هم وروسته کلونو کې فرانسې د ایران سره یو ترون لاسلیک کړ چې د ایران او افغانستان د لارې به پر هند حمله کوي خو انګریزانو په ۱۸۰۹ م الفستن د شاه شجاع دربار ته راولېږه او له هغه سره یې یوترون امضا کړ چې فرانسویانو ته به اجازه نه ورکوي چې د افغانستان له لارې پر هند حمله وکړي.

د هند د نیولو او ساتلو لپاره د انګلیسانو هلې ځلې

د اروپایي استعماري قوتونولکه د انګرېزانو له خوا د ختیز هند کمپني، دفرانسې د ختیز هند کمپني، د هالیند د ختیز کمپني یو له بل سره په سیالي کې وې، خو د ۱۷۴۲م څخه تر ۱۷۶۳م پورې د انګرېزانو او فرانسویانو تر منځ جګړې وشوې بالاخره انګرېزان بریالي شول او هالیندیان هم په ۱۷۸۳م کال د ورسلیز د ټرون پر اساس د هندوستان څخه ووتل، انګرېزانو د ۱۷۵۲م کال کې د پلاسي د جګړې څخه وروسته د ختیز او جنوب څخه د شمال په لور حرکت وکړ او خپل قوتونه یې د پنجاب، سند او اباسیند په سیمو کې ځای پر ځای کړل. دا حرکت چې مرکز یې بنګال و په چټکۍ سره د هند شمال ته راورسېد، د هند په شمال کې د افغاني احمد شاه امپراتورۍ حاکمیت جاري و، خو دغه استعماري قوت د افغانانو سره د جګړې په فکر کې شو دغه استعاري دولت چې هند یې په غېږ کې نیولی و نه یې غوښتل چې بل ځواك هند ته داخل شي، دا انګلیسانو برخورد او پالیسي په لومړي سر کې غیر مستقیم او وروسته په مستقیمه توګه د افغاسنتان پر وضعه باندې منفي اغېزه وکړه.

هر څومره چې د برتانیې امپراتوري په هند کې وسعت پیدا کاوه، په همغه اندازه له مرهټیانو، افغانانو، سکانو او نورو سره د دوی جګړې زیاتېدلې، خو پدې جګړو کې مهمه خبره داوه چې د جګړې تاوان د هند او هندیانو پر غاړه و، نه د انګلستان او انګلیسانو، هغوی فقط او فقط د جګړو ګټه او محصول راتولوه

انګریزانو چې د هند د محلي حکومتونو مقاومت مات کړ او کمپني د هند د شمالي سیمو پرته په ټول هند باندې حاکمیت پیدا کړ او خپل نه اینده ګان راجاګان او نوابان به یې مقرر ول، خپل زورورو مخالیفونو (فرانسې، هالینډ) ته یې هم ماتې ورکړه خو د پنجاب په لور د شاه زمان فوځي پرمختګونو او بریو د انګریزانو کلکې اندېښنې راپارولې وې له بلې خوا د هند مسلمانانو ته د شاه زمان لښکر کشیو په هند کې د اسلامي امپراتورۍ د تېر برم د بېرته ژوندي کېدو تمه پیدا کوله اود همدې موخې لپاره د شاه زمان سره خپلې اړیکې ټینګولې شاه زمان عملاً د هند په ځینو سیمو کې واک لره چې مور د هغه دغه فرمانونو د بېلګې په توګه رانقلوو:

لومړی فرمان د مهاراجا د نهراج پنه نوم د فرنګي ایلچیانو د استازي د راتګ په اړوند.

د مهاراجا د نهراج... د سند په بهادریه دولت مشر ته...

په دې اخر وختونو کې د هند پېښه لیکونکي غلام احمد خان شاهنشاهي دربار ته داسې یو عرض پانه استولې ده. (فرنګي او سید غلام خان غواړي چې ستاسې دربار ته راشي نو تاسې د هغوی ښه استقبال وکړئ تر څو ستاسې د سمې روغ رمټ راتېر شي چې په کامل اطمنان سره د خاقان دربار ته راورسېږي په دې برخه کې یې سرغړونه ونه کړئ او په وعده وفا وکړئ.)

دویمه ګڼه فرمان یې د هند د ولیعهد شاهزاده مرزا اکبر شاه په نوم دی

د لوی خدای ﷻ له درګاه څخه هر وخت تاسې د کورنۍ بریالتوب خوښي او عزت او د ارجمند شاهزاده میرزا اکبر خوشالي د تل لپاره غواړم وروسته به یې په ښکاره ډول ووایو چې د دې مراسلې سره موږ د خپل احوال او حالت د څرنګوالي، د دواړو تر منځ د دوستۍ ټینګوالي او یو بل د احوال د خبرېدو لپاره موږ ښاغلي محترم سید محمود خان درولېږه چې زما احترامات او مرام به تاسې ته ووایي. جناب محترم سید محمود خان چې کله زما حضور ته راغي، د خپل ورور (شاهزاده میرزا اکبر شاه)، حال احوال یې عرض او بیان کړ مخکې له هغې څخه تاسې مجدداً د هغه ځای دولې عهد په توګه مقرر شوي یاست... یو اس موږ ستاسې د سورلۍ لپاره د علي جناب محمود په ذریعه درولېږه د هغه ځای چارې تنظیم کړئ د هغه ځای د خلکو د اسودګۍ په اړه لازمي کړنې وکړئ، په خپلو چارو کې مستقل یاستئ د پاچا هر اړخیزه ملاتړ څخه برخمن یاستئ، د شاه زمان دغه مینه او محبت ټولو خلکو ته اعلان کړی.

موږ د شاه زمان دغه دوه فرمانونه د یوې بېلګې په توګه ذکر کړل د محلي راجاګانو په اړه د شاه زمان یو زیات شمېر فرمانونه په پورته ذکر شوي کتاب کې شته په هر صورت دغه دواړه فرمانونه په شمالي هند کې د افغاني امپراتورۍ تسلط ثابتوي انګرېزانو د هند د ساتنې په غرض او په هند کې د شاه زمان د پرمختګ د مخنیوي په خاطر چې هر څه په توان کې وو، ویې کړل. خود نظامي مقابلې څخه یې په هغه وخت کې ډډه وکړه هغوی پوهېدل چې په نظامي زور سره د افغانانو د امپراتورۍ سیمې په هند کې نشي نیولې د سیاسي هلو

ځلو څخه کار واخیست او بریالي هم شول دغه فعالیتونه د نورو عواملو سره یو ځای شول او شاه زمان یې په خپل هدف او پلان په هند کې د بریو ادامه او پراختیا کې ناکام کړ.

د دې سربېره برتانوي هند د ستر احمد شاه بابا په همت او برکت سیاسي پوهې او تدبیر په وسله د لوی او پیاوړي افغانستان زغم نشو کولی، ځکه د پیاوړي افغانستان شتوالي د هند ازادي غوښتونکي دې ته هڅول چې د افغانستان د خلکو نه د ازادۍ، مبارزې او خپلواکۍ ګټل چلونه او حکمت زده کړي او بیا د برتانوي ښکېلاک پر ضد پاڅون وکړي برسېره پر دې د برتانوي هند حکومت دا هم په پام کې لرل هغه سیمې چې د هند د ساتنې لپاره ستراتیژیکې اهمیت درلود او پښتانه پکې اوسېدل برتانوي هند پورې وتړي د لوی اوغښتلي افغانستان له وجود څخه یې جلا کړي چې د خپل مقصد یوه برخه د امیر محمد یعقوب خان د ګندمک د تړون د امضا کولو په واسطه پوره کړه او بله برخه د امیر عبدالرحمان خان سره د امارت په وخت کې په ۱۸۹۳م کال د دیورنډ د تړون د امضا کولو په وسیله د افغانستان له وجود څخه غوڅ او د هندوستان له خاورې سره یو ځای کړې لیکن پرنګیانو امپراتوري دغه وس ونه موند چې پښتانه د هندي هویت درلودونکي کړي او خپل غلام ورځنې جوړ کاندي پښتانه پاتې شول په سمه وه او یا په غرونو او درو کې د دیورنډ یوازې یوه فرضي کرښې سره دوی یو له بله بېل کړل.

هند ته د رسېدلو او نفوذ ټینګولو لپاره د فرانسویانو هاند او هڅې

هند ته د اروپاییانو لاړ له هغه وخت راسپره شوه چې سمندري کاشف (واسکوډګاما) په ۱۴۹۸م کال کې خپله بېړۍ د هندي سمندر پر جنوبي ساحل ودروله او هغه ځای ګالیکټ وباله چې وروسته په کلکته بدله شوه له دې نېټې څخه وروسته پرتګالیان، هالنډیان، انګرېزان او فرانسویان هند ته داخل شول دوی لومړی د مغلي پاچاهانو څخه د سوداګرۍ اجازه او امتیازات واخیستل، خو وروسته د هند نه د مستعمري جوړولو مینه ورته پیدا شوه، په دې لړ کې د اولسمې پېړۍ په پیل کې د هالینډیانو د ختیز هند کمپني جوړه شوه په ۱۵۹۹م د فرانسې د ختیز هند کمپني هم جوړه شوه چې له دې نېټې څخه وروسته د څلوېښتو کالونو په موده کې ښه پرمختګ وکړ، د اتلسمې پېړۍ په سر کې په مدراس او حیدر اباد دکن ځینې برخې ونیولې او د دکن نظام یې تر خپل نفوذ لاندې راوست خو کله چې انګرېزانو پر بمبي او کلکته کې خپل نفوذ ټینګ کړ د فرانسویانو نفوذ یې کم کړ.

د تیمورشاه دوره چې د فرانسې د انقلاب په جریان کې د روبسپیر د دورې سره برابره ده د تیمورشاه د مړینې څخه وروسته روبسپیر هم ووژل شو او پر ځای یې ناپلیون ګوناپارت واک ته ورسېده ناپلیون د انګلیسي سمندري قواوو د برلاسي له امله نه غوښتل انګرېزانو سره په سمندر کې جګړه وکړي تصمیم یې ونیوه چې د انګلستان مستعمري د هند په وچه کې تر ګوابښ لاندې ونیسي د همدې موخې لپاره یې په ۱۷۹۸م کال کې د هند ته لښکر کشي وکړه او په هند کې

د شهزاده ګانو سره اړیکې ټینګې کړې هغوی یې د انګرېزانو پر ضد ولمسول د حیدر اباد او دکن شهزاده ګان پرته له جګړې انګرېزانو ته تسلیم شول مګر د میسور واکمن چې ټیپو سلطان او د انګرېزانو سخت مخالف وو ۱۷۹۲م کال د فرانسې یو څه پوځونه خپلې سیمې ته ورداخل کړل. خو د فرانسې د پوځ قوماندان چې د فرانسې د انقلاب ارمانونو ته وفادار و ډېر ژر د ژاکوبنو کلوپ اساس کېښود ټیپوسلطان فکر پدې کار ونه رسېده او د فرانسې سره یې خپل اتحاد اعلان کړ انګلیسانو د ټیپو سلطان په سیمه حمله وکړه، فرانسه د هغه مرستې ته راونه رسېده د میسور پاچا (ټیپوسلطان په ډېره مېړانه دفاع وکړه، تر څو یې خپل ځان له لاسه ورکړ او شهید شو.

ناپلیون د هند د نیولو په غرض له شاه زمان سره خبرې وکړې او په همدې اړه د روسیې له امپراتور لومړي الکساندر سره داسې طرحه وکړه چې روسیه او فرانسه باید ۷۰زره عسکر پنځو میاشتو په موده کې د تونه له رود څخه تر تورې بحیرې او د استراخان څخه د ایران تر استراباد پورې راواستوي بیا له دې ځای څخه باید د هند د نیولو په غرض د سند د دریاب په لور مارش وکړي په داسې حال کې چې افغانستان د دوی په لار کې پورت و نو ځکه فرانسه مجبوره وه چې د شاه زمان د ملاتړ تر لاسه کولو لپاره کوښښ وکړي. مګر د افغانستان امپراتور شاه زمان په دغه وخت کې ۱۵۰زره منظم پوځ درلود او هغه له دې دواړو هېوادونو (فرانسې او روسیې) څخه مخکې له انګرېزانو څخه د هند د خلاصون کوښښ د هغه ځای د مسلمانانو په غوښتنه پیل کړی و شاه زمان د فرانسې غوښنو ته اعتنا ونکړه او د عمل

ازادي یې وساتله د افغانستان ملت او شاه زمان غوښتل چې هندیان خصوصاً مسلمانان د انګلیس استعمار نه خلاص کړي دا چې ده داخلي قوه (د افغانستان د مسلمانانو ملاتړ) او په هند کې د محلي راجاګانو او انګرېزانو سخت دښمن ټیپو سلطان او نورو هندیانو د ده ملاتړ کاوه نو نوموړي د بهرنیو قوتونو (فرانسې او روسیې) سره د سازش او یو ځای والي لپاره ځان اړ نه ګڼلو اما ناپلیون د افغانستان د خلکو د ملاتړ په اهمیت نښه پوهېده او بې له دوی څخه د هند نیول شوني نه ګڼل، نو د افغانستان د خلکو د ملاتړ د تر لاسه کولو په خاطر خپلې هڅې جاري وساتلې چې د ایران سره ۱۸۰۷م کال ترون لاسلیک کړ، د ترون په لسمه ماده کې داسې راغلي و: (د ایران پاچا باید کوښښ وکړي چې د افغانستان خلک پر هند باندې د حملې په وخت کې د انګلیسانو پر ضد له ځان سره متحد کړي.

د انګلیسانو دولت د بر ژر خپل نماینده الفنستین په ۱۸۰۹م کال کې د شاه شجاع دربار ته راواستوه او له هغه سره یې په پېښور کې یو ترون لاسلیک کړ چې په هغه ترون کې تاکید شوی و چې د افغانستان دولت به د فرانسې دولت ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان له لارې پر هند حمله وکړي او د فرانسې د پورتنۍ ترون (د فرانسې او ایران ۱۸۰۷م ترون) یوه کلکه او قوي کړښه وکښله. که د فرانسې دولت هر څومره هلې ځلې وکړې چې انګلیسانو ته په هند کې ماتې ورکړي او هند تر خپل کنټرول لاندې راولي خو دا هلې ځلې د ناپلیون له ماتې وروسته شندې شوې او انګرېزان بریالي شول چې هند تر خپل نفوذ لاندې راولي.

په هند باندې د شاه زمان یرغل

د هند د نیولو څخه د شاه زمان اهداف او موخې

د تیمور شاه تر مړینې ۱۷۹۳م کال پورې د پاني پت د جګړې څخه تقرباً دېرش کاله تېر شوي وو په دغه موده کې د هند په سیاسي وضعه کې مهم بدلونونه رامنځته شوي وو چې د دیلي د ګورګاني دولت هم په دغه وخت کې تش په نوم موجودیت درلود نفوذ یې ورځ په ورځ د له منځه تللو په حال کې و د مرهټیانو اتحاد هم نشو کولی چې د پاني پت د جګړې څخه وروسته د هند په شمال کې خپل پخوانی نفوذ ټینګ کړي. مګر د سکانو نفوذ ورځ په ورځ زیاتېده، ولې په ټول هند کې د امنیت ټینګولو توان یې نه درلود شاه زمان چې د هېواد له پراختیا سره مینه ډېره وه او غوښتل یې چې د خپل نیکه په څېر په هند کې خپلو فتوحاتو ته ادامه ورکړي او د هند شمالي برخې تر خپل کنترول لاندې راولي، که څه هم د هند سیاسي وضعه د احمد شاه بابا د وخت سره توپیر درلود چې د سکانو قوت د شاه زمان د نقشې د تطبیق په لار کې لوی خنډ و.

په هند باندې د شاه زمان د حملو موخې د انګرېزانو د نفوذ مخنیوي او د خپل نیکه د امپراتورۍ ټینګول و ځکه چې د هند د مسلمانانو او هندوانو ټولو د هیلې سترګې شاه زمان ته وې انګلیسي لیکوالان هم په دې خبره اعتراف کوي چې په دې اړوند ویلیم جان کې لیکلي: «چې د انګرېز د درستو دښمنانو امېد کابل خواته دې د هند مشرانو یاني راجه ګانو، سیمه ایزو واکمنانو او ټیپو

سلطان د شاه زمان څه غواړي چې هند ته راشي. دوی هر راز مالي مرستو (د ورځې یو لک روپو) ته او همدارنګه نورو مرستو ته حاضر دي...)

شاه زمان د خپل سلطنت په لومړي کال (۱۷۹۳م) وروسته له دې چې له کورنیو شخړو څخه لږ څه فارغ شو پېښور ته ورسېد. له سند څخه لانه وه تېر شوي چې ورور ې همایون د سندیانو په مرسته په کندهار یرغل وکړ او د بخارا پاچا په بلخ یرغل راوړ. نور خانان او د نفوذ خاوندان د مرکز څخه لرې تللي و چې د اړودوړ لپاره بندوبست وکړي. شاه زمان فوراً کندهار ته راستن شو او همایون وتښتېد. کله چې شاه زمان بیا په ۱۷۹۴م کال یانې د خپلې واکمنۍ په دویم کال د هند په لور روان شو د هغه بل ورور محمود د هرات والي بغاوت وکړ او ځینې خانان هم ورسره یو ځای شوي وو، شاه زمان بېرته کندهار ته راوګرځېد، ګرشک ته نږدې زمینداور کې دواړه قواوې سره مخامخ شوې خو جګړه اوږده نه شوه، ۱۵ ساعتو کې د محمود قواوې له منځه ولاړې او محمود له سلو تنو سره وتښتېد، خپله مور یې د شفاعت لپاره شاه زمان ته راولېږله شاه زمان د مور شفاعت ومانه او محمود یې بېرت د هرات والي وټاکه چې دا کار داسې یوه اشتباه وه چې بیا د هغه جبران ونه شو.

شاه زمان له ډېرو هلو ځلو وروسته یو ځل بیا په کال ۱۷۹۵م کې وتوانېده چې ټول قلمرو (ملتان، کشمیر سند، پنجاب، خراسان او نورو سیمو کې سلطنتي واک تر ټینګولو وروسته د هند په لور روان شو هند ته لانه و رسېدلی چې د ایران پاچا انګلیسانو په لمسون په

مشهد او نیشاپور حمله وکړه شاه رخ مرزا د شاه زمان حکمران یې وواژه او زامن یې هرات ته راوتښتېدل په پنجاب کې سکان راپورته شول خو شاه زمان چې کله لاهور ته راورسېده د سکانو ځواکونه غرونو ته وتښتېدل په دې وخت کې د هند د پاچا شاه عالم خان یو لیک شاه زمان ته راورسېده چې هغه ته یې بلنه ورکړې وه، چې دېلي ته ورشي، خو د هرات والي محمود د شاه زمان ورور د بغاوت خبر ورته راورسېده شاه زمان مجبور شو چې ببرته کندهار ته ستون شي د هندوستان خلك چې د شاه زمان راتګ ته سترګې په لار و دې بر حیران شول چې شاه زمان ولې دا موقع له لاسه ورکړه محمود چې د ایران په لمسون راغلی و د بر ژر مات شو په دغه وخت کې د ایران حکومت د انګرېزانو، روسانو او فرانسویانو د لاس اله او د فساد ځاله وه.

د تاریخي اسنادو څخه داسې ښکاري چې په هند باندې د شاه زمان موخه، د انګرېزانو مخنیوی، د هند له خلکو په ځانګړي توګه د مسلمانانو سره مرسته، د انګرېزانو څخه د هغوی خلاصون او د خپل نیکه د امپراتورۍ تینګول، خو نومورې د انګرېزانو دسیسو، د ایران مستقیمي لاس وهنې، کورنۍ اختلافات او د ده د خپلو سهوو آو اشتباګانو په نتیجه کې چې په راتلونکي څېرکیو کې به یې لاملونه پوره روښانه شي په خپلو پلانونو کې ناکام او د نیکه امپراتوري یې د تجزیې سره مخ کړه.

په هند کې د شاه زمان د یرغل او نفوذ د مخنیوي څخه د انګلیسانو موخې

د ناپلیون خطر لالړ شوی نه و چې د روسانو له خوا د هند د نیولو ګواښ پیل شو او د انګلیسانو پام یې ځانته راواړوه، انګرېزانو د روسانو دا پالیسي چې لومړی به افغانستان ته لاس راوغزوي او بیا به هند ته ځان ورورسوي په دقیقه توګه څارله او وېرېدل چې روسان به د هرات خواته، چې په ښکاره د ایران پاچا په دې کار کې وړاندې توب کاوه، یرغل وکړي انګرېزان یې دې ته لمسول چې د افغانستان د کورنۍ او بهرنۍ سیاست اداره په خپل لاس کې وساتي.

کېدې څه هم انګرېزانو په هند کې خپل نفوذ د ټینګولو په غرض ټول امکانات په کار واچول او انګرېزان په دې پوهېدل چې شاه زمان د هند د نیولو پلانونه جوړوي په دې هم خبر و چې شاه زمان پر هند باندې د حملو د پیل کولو لپاره کافي پیسې او پوځ لري، د هغه په شاهي خزانه کې لس میلیونه طلایي مهرونه چې یو مهر یې پنځلس هندي روپۍ کېده او څلوېښت میلونو د سپین زرو مهرونه لرل، پوځ هم ورځخه راضي و پر خت باندې د کېناستلو په وخت کې صاحب منصبانو ته اته میلونه روپۍ انعام ورکړی و سربېره پر دې شاه زمان په هند کې دننه هم پلویان درلودل چې له ده څخه هند ته د راتګ او انګرېزانو په مقابل کې له هغوی سره د مرستې غوښتنه کوله په دې لړ کې د بهاولپور حکمران بهاول خان او د ملتان حاکم مظفر خان سدوزایي هم د خپلو مرستو د ورکړې ډاډ ورکړی و د دغو پورتنیو سیمه ییزو واکمنانو سربېره د مغلي سلطنت ولي عهد میرزا اکبر شاه

هم شاه زمان ته بلنه ورکړې وه چې که چېرې هند ته راشي نو هغه به ورته ډېرې پیسې ورکړي.

د روهیله مشر غلام محمد خان کابل ته راروان و د برتانوي هند ګورنر جنرال ته یې وویل د خپل عزت او حیثیت د اعادې لپاره مجبور دی د شاه زمان څخه مرسته وغواړي همدارنګه د میسور مسلمان واکمن (ټیپو سلطان) له خوا چې پنځلس کاله یې انګرېزانو ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړې وې، د هغه وکیلان د (میر رضا علي او میر حبیب الله هم د سمندر د لارې د افغانستان په طرف راروان و کندهار ته د رارسېدو سره سم یې شاه زمان ته خبر ورکړ چې ډېر ژر به کابل ته راورسېږي او له ده سره د خپل ماموریت په باب خبرې وکړي د ټیپو سلطان وکیلانو له ځان سره شاه زمان ته شل لکه روپۍ او قیمتي سوغاتونه راوړي و، ټیپو سلطان په مقابل کې د شاه زمان څخه د شلو زرو سپرو غوښتنه کړې وه او ورته لیکلي یې وو چې نوموړی په خپله د هند په لور حرکت وکړي نو د شل زرو سپرو لګښت او د برش میلیونه کلداري به ورکړي. شاه زمان خپل اهداف او نقشې یې چې د واکمنۍ په لومړي وخت کې طرحه کړې وې او د محلي واکمنانو ملاتړ د هند ګورنر جنرال یې ډېر وارخطا کړ، پر هند باندې د شاه زمان د حملې مخنیوي لپاره د یو منظم پلان په اساس هلې ځلې پیل کړې ځکه انګرېزانو په هغه شرایطو کې داسې دریځ نه لره چې د شاه زمان د ګوابنونو مستقیماً مخه ونیسي او د هغه په مقال کې انتقامي عملیات پیل کړي نو انګرېزانو د دې په خاطر چې د شاه زمان پاملرنه د هند څخه راواړوي ایران ته یې مراجعه وکړه تر څو د ایران پاچا پر

افغانستان باندې د حملې لپاره تشویق کړي او پر دې اساس پر هند باندې د شاه زمان د حملې مخه ونیسي د دې کار لپاره تر ټولو مساعد ځای هرات و د ایران په دربار کې شهزاده محمود موجودیت پر هرات باندې د یرغل ښه شرایط برابر کړي و انګرېزانو ته دا ښکاره شوه چې که شاه زمان په هرات کې دایمي ستونزې ولري نو هېڅ وخت به د هند په نیولو بریالی نه شي.

انګرېزانو د هند په نیولو او ساتلو کې د درېیو دښمنانو (ناپلیون، روسیه او شاه زمان) څخه د خطر احساس کاوه خو تر ټولو لوی خطر د شاه زمان له خوا احساساوه چې په دې اړوند په ایران کې د انګرېزانو سفیر کیپتان ملکم داسې لیکي: «د افغانانو سلطان شاه زمان په هند کې د انګرېزانو له قوي دښمنانو څخه ګڼم... د هغه د پراختیا غوښتنې سیاست چې نومورې تل د هغه په پلي کولو بسیا دی، بل هېڅ شی نه شي کولی چې نومورې له خپل پلان څخه وګرځوي غیر له دې چې د ده په هېواد کې کورنۍ بې اتفاقۍ نومورې درانې پاچا د دې عمل مانع او دی په خپل هدف کې ناکام کړ.»

د شاه زمان په مقابل کې د انګلیسانو کړنې (اقدامات)

انګلیسانو د افغانستان په لویدیځو پولو کې د اقا محمد قاجار او فتح علي شاه په واسطه چې هغوی به د دوی د لمسون په وجه د هېواد په جنوبي غربي سیمو حملې کولې تر څو د شاه زمان لپاره په داخل کې مصروفیت پیدا کړي او په هند کې د شاه زمان د فتوحاتو مخه ونیسي، ځکه چې انګلیسي سیاستوال د انګریزانو له خوا د کمپني د سیاسي نفوذ د ټینګښت لپاره په هند کې استخدام شوی و په دې ښه پوهېدل چې د افغانستان د امپراتور (شاه زمان) د حملود مخنیوي او شنډولو څخه پرته نشي کولی چې په هند کې خپل نفوذ ټینګ کړي شاه زمان د دواړو کورنیو او بهرنیو ستونزو سره سره په ۱۷۹۳، ۱۷۹۴، ۱۷۹۷ او ۱۷۹۹م کلونو کې هند ته لښکر کشي وکړې چې سکانو، راجاګانو یې په ګجرات، وزیر اباد، لاهور، امرتسر او نور نړدې سیمو کې د افغانستان د سدوزي دولت تابع کړل دا چې شاه زمان څومره ځواک درولود او په هند کې د برتانیې ګټو ته څومره خطر پیدا کولی شو په دې اړه د انګلیسي او غیر انګلیس لیکوال له خوا مختلفې نظریې وړاندې شوي خو دلته دومره باید ووایو چې برطانیې د ښه قوي پوځ، ډېرو پیسو، وسایلو او استخباراتي قوت سره سره بیا هم پر هند باندې د شاه زمان حملو دومره وارخطا کړي وه چې د دغه خطر د مخنیوي لپاره یې هرې وسیلې ته لاس اچولي وه د دې هدف لپاره یې مرزا میرعلي خان د ایران دربار ته واستوه چې د ایران پاچا پر افغانستان د یرغل لپاره تشویق کړي او هم یې د بمبي د ګورنر جنرال جانتان ډیکن J.a.ta.dan.can ته دنده ورکړه چې ترکیه

دې ته وهڅوي تر څو ایران تشویق کړي چې پر افغانستان یرغل وکړي او بیا هم ګورنر ډیکن ته وظیفه ورکړه چې په قسطنطنیه د برتانیې سفیر منیستي manesty ته ووایي چې د ایران پاچا داسې اقداماتو ته تشویق کړي چې شاه زمان ته په خپل موروثي قلمرو کې غم پیدا کړي تر څو پر هند باندې د یرغل څخه لاس واخلي.

شاه زمان چې د انګرېزانو په توطیه نه پوهېده او ایران هم د دوی (انګرېزانو) په اشاره د مزیان قریه ونیوه او سبز وار یې کلابند کړ نو د شاه زمان خپل وزیر اعظم وفادار خان د یو لیك او څو نازکو شالونو سره د قاجار وزیر اعظم حاجي محمد ابراهیم خان ته واستوه او خپل لومړی وزیر ته یې یو لیك هم ورکړی و چې لیك کې داسې لیکلي و که چېرته د ایران حکمران د شاه محمود د ملاتړ او حمایت څخه لاس واخلي او اطمنان ورکړي چې د افغانستان په نیول شوو سیمو باندې حمله نه کوي تر څو شاه زمان وکولی شي چې د هند په نیولو کې خپله نقشه په صحیح ډول عملي کړي نو شاه زمان به د خراسان د رئیسانو د طرفداری څخه ډده وکړي...)

انګرېزانو د هند ساتلو او د شاه زمان د حملو مخنیوي په خاطر تر څو په هند کې د انګلیسي کمپنۍ د نفوذ د ټینګښت مانع ونه ګرځي هر راز عمل ته لمن ووهله هغوی په نړۍ کې د فرانسې او روسیې څخه هم ډېر د افغانستان د دولت څخه وېرېده او دې وېرې لاملونه لرل څکه افغاني پاچا مسلمان و او د هند مسلمانانو د دې ملاتړ کاوه د بلې خوا څخه د هند ډېرې سیمې د احمد شاه بابا د واك څخه راډې خوا د دوی تر کنټرول لاندې وې خو ډېره مهمه خبره دا ده چې شاه

زمان په هغه وخت کې د ټولو په پرتله قوي پوځ درلود چې انګلیسي لیکوال کپتان ملکم هم پدې واقعیت باندې اعتراف کوي او وایي چې «شاه زمان د انګرېزانو د قدرت لوی دښمن دی هغه د خارجي قدرت له مرستې څخه پرته یوازې په خپل زور او قوت کولی شي هندوستان ونیسي» په بل ځای کې نومورې بیا هم لیکي: «شاه زمان له جهانګیري څخه څوک نشي ګرځولی او کوم شی چې د دې مخه نیولی شي هغه نفاق دی چې د ده په وطن کې خپور شي...»

د کپتان ملکم تحلیل او پیشبیني د شاه زمان په هکله بلکل رښتیا او حتی د نورو افغاني پاچاهانو په اړه هم صدق کوي چې د افغاني پاچاهانو د له منځه وړلو او په خپلو پلانونو کې ناکامي اصلي ځلت او عامل خپل منځي اختلافات او بې اتفاقۍ ده چې د نورو علتونو تر څنګ د افغانستان د تجزیې او وورسته پاتې والي سبب شوی دی، د دې بې اتفاقیو او اختلافاتو په نتیجه کې کورنۍ جګړې منځ ته راغلي او د دغو کورنیو جګړو په نتیجه کې پردیو هر څه له مورِ څخه اخیستي دي چې انګرېزانو هم د نورو هلو ځلو تر څنګ د داخلي ګډوډیو د رامنځ ته کېدو لپاره هڅې پیل کړې

په افغانستان کې د ګډوډۍ پیدا کول

انګرېزانو د شاه زمان د حکومت د ضعیفولو په خاطر پټ او ښکاره فعالیتونه د افغانستان پر ضد شروع کړل. چې د دې فعالیتونو له جملې څخه یو دا دی چې یو هندي مسلمان یې د غلام محمد په نامه د روحانیت په جامه کې کندهار ته راولېږه او نوموړي په کندهار کې مېشته شو. ډېر خانان او درباریان یې ځان ته راجلب او جذب کړل او دوی یې د شاه زمان پر ضد یو موټی کړل، دوی غوښتل چې شاه زمان د سلطنت څخه لرې او شاه محمود چې یو سست عنصره او د پردیو د لاس ګوډاګی و، د ده پر ځای د افغانستان پاچا کړي. د دې روحاني فعالیت هغه وخت اغېزمن شو چې شاه زمان سردار پاینده محمد خان د وزارت له دندې څخه لرې کړ غلام محمد وکولی شو چې د قوم با نفوذه مشران د شاه زمان پر ضد توطیه کړي سره یو موټی یې کړي چې د دغه توطیې غړي عبارت وو له: سردار پاینده محمد خان، محمد عظیم خان الکوزی، محمد رحیم خان علیزایي، نورالله خان بابر، اسلام خان پوپلزایي، حکمت خان سرکاني، سلطان خان نورزایي، ظفر خان علیزایي، زمان خان پوپلزایي، رکاب باشي، امیر اصلا خان جوانشیر او منشي محمد شریف خان قزلباش. دغه دولس تنه په دغه توطیه کې شامل وو چې د شاه زمان له خوا دا دسیسه کشف شوه چې دسیسې ټول غړي د ده لخوا پانسي شول او دا د ده لومړنی اشتباه وه چې کورنی اختلاف او ستونزې یې زیاتې کړې. خکه زه په دې نظر یم چې نوموړي هندي

مسلمان چې له ځان نه پیر جوړ کړی و په دقیقه توګه انګریزانو سره په تماس کې و او د هغوی لخوا ورته منظمه لارښوونه کېده.

که چېرته دغه پورتنۍ ترکیب ته ځیر شو هغه با نفوذه اشخاص په توطیه کې شریك کړل چې ټول د قومونو مشران او د هر قوم څخه یو تن ملګری کړي او د دغه سازمان یا جوړښت هدف یې هم په دقیقه توګه مشخص کړی و چې شاه زمان د سلطنت څخه لرې کول، د رحمت الله وژل او د شاه محمود قدرت ته رسول چې د ا هر یو کار یو سیاسي عمل دی چې د بهرني ځواك مداخله په کې حتمي ګڼلې کېږي. خو شاه زمان دې ټکو ته متوجه نه شو او له ډېرې وارخطایۍ څخه یې کار واخیست چې بیا یې هېڅکله د دې عمل تلافي ونه شوه کولی او بالاخره په خپلو پلانونو کې ناکام شو، د بلې خوا څخه کله چې شاه زمان پېښور ته ورسېد همایون د بلوچستان څخه په کندهار حمله وکړه د شاه زمان اوه کلن زوی قیصر چې پلار یې د کندهار والي په حیث تاکلی و زخمي او بندي کړ کندهار یې ونیو او سکه یې په خپل نامه ووهله، شاه زمان د پېښور څخه ببرته کندهار خواته حرکت وکړه همایون وتښتېد په بلوچستان کې د محمد خان بلوچ له خوا چې نومورې د شاه زمان سره بیعت کړی و په لار کې ژوندی ونیول و شاه زمان لومړی هغه یې په سترګو ړوند کړ او بیا یې په بالاحصار کې بندي کړ د همایون ړند بدل او هغه ته د دومره سختې سزا ورکولو یو علت ښایي دا وي چې هغه د شاه زمان زوی قیصر یې په جګړه کې زخمي کړی و، که نه شاه زمان د خپلو وروڼو سره دومره سخت سلوك نه کاوه. د همایون سکه وروڼ شاه محمود چې د همایون د ړند بدلو

خبر واورېد ډېر ژر يې په شورش پیل وکړ، د کندهار په لور يې لښکر کشي وکړه مګر په جګړه کې شاه محمود د سختې ماتې سره مخ شو مور يې شاه زمان ته شفاعت وکړ چې د هغې په شفاعت سره يې شاه محمود او د هغه ټول ملګري وبښل او هرات يې بېرته هغه ته ورکړ. دغه شورشونه د انګلیسانو په لمسون او ملاتړ منځ ته راغلل چې د د دوی له پاچاهۍ سره مینه پکې نغښتې وه انګرېزانو دا ټول کارونه د هندوستان د ساتلو په غرض کول.

د ایرانیانو هڅول په هند باندې د شاه زمان د یرغل په وخت کې

مخکې مو هم اشاره ورته وکړه چې د شاه زمان د واکمنۍ د پیل سره سم د افغانستان په ګاونديو هېوادونو او نړۍ کې ژور سیاسي او ټولنیز بدلونونه منځ ته راغلل. ځکه د ده د پاچاکېدو څخه څلور کاله مخکې د فرانسې انقلاب (۱۷۸۹م) ټولې اروپا ته سخت ټکان ورکړی و او بیا د ده د واکمنۍ په شپږم او اوم کال د فرانسې نوي دولت د ناپلیون په مشرۍ د ټولې اروپا هېوادونه ولړزول. د افغانستان خټیز ګاونډي هېواد هند کې (سرجان شور) د انګلیسانو له خودنیول شوو سیمو د ګورنر جنرال په توګه مقرر شو چې نوموړي دوه کاله وروسته د دکن او مرهټیانو دولت ونیو او نیمایي هند یې اشغال کړ مګر کله چې دري کاله وروسته (مارکي ولسلي) د هند د نوي ګورنر په توګه مقرر شو نوموړي د هند د کوچنیو دولتونو (دکن، مرته او میسور) د نظامونو د له منځه وړلو لپاره یو لوی پوځ ترتیب کړ. د دکن دولت تسلیم شو، د مرته دولت ماتې وخوړه او د میسور پاچا ټیپو سلطان شهید شو، د راجپوت شهزاده ګان د انګلستان تابع شول او د هند یوازیني ساتونکي قوت څلور کاله د شاه زمان د واکمنۍ د ختمېدو څخه وروسته (۱۸۰۴م) د انګلیسانو په مقابل کې ماتې وخوړه.

انګلیسانو نیت درلود چې ټول هند ونیسي د همدې مقصد لپاره ولیسلي (د هند ګورنر د انګرېزانو لخوا) په هند کې د اعانې روش رامنځ ته کړ. چې د دې روش مطابق د نیول شوو سیمو واکمن مجبور و چې د انګلیسي پوځ مصارف وګالي او د غه پیسې به یې له خلکو

راټولولې او د نیول شوو سیمو خلکو ته به یې وویل چې د انګرېزانو پوځ د تاسې د مال، ناموس او وطن ساتنه کوي خو شاه زمان د انګرېزانو لپاره ډېر قوي ګواښ و. انګلیسانو کوښښ کاوه چې د شاه زمان د پرمختګ مخه ونیسي.

د افغانستان په لویدیځ (ایران) کې د شاه زمان د پاچا کېدو څخه دوه کاله وروسته (۱۷۹۵) د قاجاریانو دولت د اقا محمد قاجار په مشرۍ جوړ شو، چې اقا محمد قاجار د کلکې ارادې خاوند و. نومورې کرمانیان قتل عام کړل. خپل داخلي دښمن (جعفر خان او لطف علي خان یې له منځه یوړل. خو د افغانستان په هکله یې هم ښه نظر نه درلود چې یو ځل د افغانستان په ایالت (خراسان) باندې حمله وکړه او په ډېر وحشیانه ډول یې د هغه ځای د خلکو پیسې او مالونه لوټ کړل. د افغانستان والي روند او تیل داغ کړ. د نومورې ټوله شتمني او جواهرات یې هم چور کړ مګر کله چې اقا محمد خراسان د ایالت د لوټولو څخه وروسته بېرته ایران ته وګرځېد ډېر ژر په کال ۱۷۹۷م کال ووژل شو چې د ده د مړینې څخه وورسته واک داسې یو شخص (فتح علیشاه) ته ورسېد چې د ۳۶ کاله پادشاهۍ په دوره کې نومورې د ایران دولت د اروپایي استعماري سیاست د لاس اله وګرځېد سیاست په ډګر کې فتح علي شاه د روس، انګلیس او فرانسې د دیپلوماسۍ په نتیجه کې ضد او نقیض رول ولوباوه او په خپله یې د شطرنج د یوې بې روحه دانې په څېر د پورتنیو هېوادونو (روس، انګلیس او فرانسې) دیپلوماتانو له خوا استعمالېده څکه نومورې د څو سوه کسیزه کورنۍ (ښځو او اولادونو) په درلودلو سره د

ایران د پرمختګ او ترقی لپاره وخت نه پیدا کاوه په خپل عیش او عشرت مصروف و نو پر دې اساس نوموړي لومړی د انګلیسانو د (کپتان ملکم) بیا فرانسې (جنرال ګاردن) او بیا انګلیسانو (سهارد فورد جونز) ته تسلیم شو د ده د ضعیفې ارادې او په عیش او عشرت باندې د خپل وخت د تېرولو په نتیجه کې نه یوازې دا چې د ایران په ګټه په بین المللي سطحه کوم کار ونه شو کولی. بالمقابل د ترکمنچای او انګلستان د ترونونو په امضا کولو سره ګرجستان او د خزر په سمندر کې د ایران خاوره او په هغه کې د ببړې چلولو حق له لاسه ورکړ. او علاوه پر دې د روس او د انګلیس د دولتونو په لمسون به یې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس وهنه کوله په هېواد کې به یې کورنیو جګړو ته لمن وهله یو ځل د روس په اشاره په هرات حمله وکړه مګر ناکام شو. فتح علي شاه د ټولو خدمتونو په مقابل کې د روسیې څخه دا امتیاز تر لاسه کړ چې د ده ولیعهد عباس مرزا په رسمیت وپېژني.

انګرېزانو خپل سفیر سرجان ملکم ایران ته واستوه تر څو د ایران سره خپلې اړیکې لاتینګې کړي او د افغانستان په ضد یې د ځان سره متحد کړي. چې د لاندې ترون د امضا کولو څخه وروسته انګرېزان مطمین شول د ترون متن پدې دول دی:

لومړی ماده: که چېرته د افغانستان پاچا په برتانوي هند باندې د یرغل اراده وکړي د ایران پاچا به یو قوي لښکر د افغانانو د له منځه وړلو لپاره افغانستان ته استوي.

دویمه ماده: که چېرته د افغانستان پاچا وغواړي چې د ایران له پاچا سره د دوستۍ اړیکې ټینګې کړي د ایران پاچا به له هغه څخه دا وادې تر لاسه کوي چې هغه شاه زمان به پر هند حمله نه کوي.

دریمه ماده: که د افغانستان پاچا یا کوم شخص له فرانسې څخه په ایران باندې د حملې اراده ولري د برتانیې حکومت به ایران ته جګړه ایز مهمات وسله او تجربه لرونکي پوځي افسران د ایرانُ نړدې بندرونو ته، د ایران د پاچا د مرستې په غرض راولېږي.

څلورمه ماده: که چېرې فرانسویان د ایران د کومې جزیرې د نیولو خیال ولري، ایران او برتانوي عسکر به په ګډه د هغوی مخه ونیسي.

پنځمه ماده: که چېرته د افغانستان او ایران د پاچایانو تر منځ جګړه وننښلي تر څو دواړه خواوې د منځګړي توب غوښتنه ونه کړي، برتانیه به مداخله ونه کړي.

پورتنۍ ټرون که څه هم د انګرېزانو او شاه زمان تر منځ په مستقیم ډول نه وه امضا شوې خو د شاه زمان د پلانونو په ناکامولو او د هند په ساتلو کې مهمه اغېزه درلوده، ځکه ایران دا کار په رښتیا وکړ. کله چې به شاه زمان په هند حمله وکړه نو ایران به د خراسان، هرات او د افغانستان په نورو ولایتونو به حمله کوله. شاه زمان مجبور و چې د ایران د تېرې د دفاع په خاطر ببرته له هند څخه راوګرځي او ایران د ده د راګرځېدو څخه وروسته بیا هغه نیول شوې سیمې پرېښودې. دا کار ایران د پورتنۍ ټرون د امضا څخه مخکې هم د انګلیسانو په لمسون او نغوته (اشاره) کاوه د دغه ټرون د لاسلیک کولو څخه د انګرېزانو

موخه د هند ساتل او د شاه زمان د حملو او په ایران کې د ناپلیون د نفوذ د ټینګولو مخنیوی و ځکه پورتنی ټرون په لومړی او دویمه ماده کې انګرېزانو پر هند باندې د شاه زمان د حملو د مخنیوي په غرض د ایران دولت دې ته هڅولی دی چې د شاه زمان د لښکرکشۍ په وخت کې پر افغانستان (هرات) باندې حمله وکړي.

انګرېزانو د ایران سره په خوا کې غوښتل چې د سند سره هم خپلې اړیکې ټینګې کړي. که په ظاهر کې دغه اړیکې د سوداګرۍ د چارو لپاره وې خو انګرېزانو غوښتل یې په دې سیمه کې د فرانسې، ټیپو سلطان او د کابل پاچا شاه زمان د نفوذ مخه ونیسي چې د بمبۍ د ګورنر ډیکن د تالپور د کورنۍ موسس فتح عل خان سره خبرې پیل کړې د بمبۍ څخه یې د ناتان کرو Nathan-crow د استازې په حیث سند ته واستوه، نوموړي ته یې دنده ورکړه چې د شاه زمان حرکت وڅاري، په سند او د سند په شاوخوا سیمو کې ټول هغه کسان د شاه زمان په مقابل کې ولمسوي چې شاه زمان به لرې او ډېر په هغوی تکیه کوله دوی ټولو ته د برتانیه د مرستو وعده ورکړه، د سند امیر فتح علي خان د ناتان کرو ډېر ښه هر کلی وکړ او اجازه یې ورکړه چې انګرېزان کولی شي په ټټه او کراچۍ کې فابریکې جوړې کړي. کرو، ډیکن ته رپوټ ورکړ چې د سند امیران دې خبرې وارخطا کړي چې شاه زمان غواړي خپل پایتخت دقندهار ته نقل کړي که چېرې دا کار وشو نو بیا به د سند په لور لښکر کشي کوي او دا اوازې هم خپرې شوې وې چې شاه زمان څلور زره کوره پښتانه سند ته کوچوي او هغه خپل موقف ورباندې تقویه کوي مګر دا اوازې غلطې وختلې. خو

شاه زمان د سند د امیرانو له فرمانبرداری څخه ګټه واخیسته او د افغانستان سرحد ته نږدې د انګرېزانو له خوا د فابریکو په جوړولو اعتراض وکړ. بله دا چې د سند امیرانو دشاه زمان په اشاره ناتان کړو او د هغه ملګري له سند څخه وویستل.

د تعجب ور خبره دا ده چې شاه زمان د دې ټولو پېښو سره سره چې د ایران سره اړیکې خرابې وې شاه محمود او وزیر فتح خان په ایران کې وو، انګرېزانو د ده پر ضد خپل فعالیتونه ګړندي کړي وو، خراسان ایالت د ایرانیانو له خوا د ګوانښ سره مخ و دا ټولې مسلې په نظر کې ونه نیولې او د پېښور په لور یې حرکت وکړ. چې د دې علت به دا وای چې ده د هند سره ډېره مینه لرله یا یې غوښتل چې د هند په نیول شوو سیمو کې خپل حاکمیت ټینګ کړي. او د انګرېزانو د فعالیت ساحه له افغانستان څخه لرې وساتي او یا یې غوښتل چې د هند د مسلمانانو ملاتړ وکړي او د هغوی سره یو ځای انګرېزان د شمالي هند څخه وشړي. او هغه خلک د دې اروپایي او مسیحي ښکېلاک څخه خلاص کړي. په دغو پورتنیو دلایلو کې حتماً کوم یو دی د هند خواته هڅاوه خو ده ته تر ټولو مهمه خبره کورنۍ امنیت او د هغه اختلافاتو حل، کول چې ده ته د پاچاهۍ په وخت کې پیدا شول ډېره ضروري وه، خو دی د دې کار په اهمیت پوه نه شو او د هند په لور روان شو چې دا عمل د ده د ناکامۍ سبب شو.

د شاه محمود څخه د ایرانیانو او انګرېزانو ملاتړ

شاه محمود چې کله د دویم ځل لپاره د شاه زمان په مقابل کې ماتې وخوړه او خپله مور یې بیا د شفاعت لپاره واستوله، دا ځل یې شاه زمان شفاعت قبول نه کړ او د شاه محمود د نیولو لپاره یې سړي موظف کړل. له بلې خوا څخه په همغه وخت کې د ایران پاچا محمد خان قاجار وفات شو شاه زمان بې له ځنډ څخه شېر محمد خان مختار الدوله ته وظیفه ورکړه چې د نادر شاه افشار د لمسیانو (شهزاده عباس، میرزا او نادر میرزا) لپاره چې محمد خان قاجار له لاسه یې د شاه زمان په دربار کې پناه اخیستې وه، مشهد ونیسي، حافظ شېر محمد سمدستي د مشهد په لور حرکت وکړ، مشهد یې ونیو و د چارو واک یې نادر میرزا ته وسپارلې چې د ایران نوی پاچا فتح علي شاه ډېر ژر نادر مرزا او عباس مرزا له منځه یوړل، په همدغه وخت کې شاه محمود د خپل ورور شاه زمان د مقابلې په خاطر د هغه (فتح علي شاه) څخه د مرستې غوښتنه وکړه فتح علي شاه د شاه محمود دغه غوښتنه د شاه زمان څخه د غچ اخیستلو او خپلو هدفونو ته د رسېدلو لپاره یو طلایي چانس وګانه او له شاه محمود سره یې د هر راز مرستې وعده وکړه، چې شاه محمود د نوموړي د مرستې پر اساس د افغانستان سرحدي سیمو ته داخل شو ډېر ژر یې د فراه ولایت ونیو او هرات چې د شاه زمان زوی قیصر پکې نایب الحکومه و کلابند کړ. د یادولو وړ ټکي دا دي چې په هرات کې د پوځ مشر محمد زمان خان د تدبیر څخه کار واخیست او ایراني جنرالانو امیر علي قایني او میر حسن خان تبسي ته په قرآن شریف کې

دننه شهزاده قیصر په مهر او امضا یو مکتوب ولیکه او ورکې داسې لیکلي و: چې د وعدې سره سم شاه محمود موږ ته لاس ترلی په لاس کې راکړئ نو موږه به هم د خراسان حکومت د خپلې وعدې سره سم تاسې ته درکړو.

د دې مکتوب اصلي ارزښت پدې کې و چې د محمد زمان خان پیغام ورونکي قصداً د شاه محمود په لښکرو ځان برابر کړو کله چې شاه محمود دا لیک ولید، نو دومره ووېرېده چې د ایراني جنرالانو په زاریو او قسمونو هم هیڅ اعتبار نه شو کولی او سمدستي د خپل ورور حاجي فیروزالدین او خپل زوی کامران سره وتښتېد. چې شاه زمان پدې کار سره محمد زمان ته انعام ورکړ. شاه محمود لومړی بخارا ته ولاړ چې د بخارا امیر د شاه زمان له وېرې نه یوازې دا چې له ده سره مرسته ونه کړه حتی د هغه د بندي کولو عزم یې وکړ. چې د مجبوریت له مخې شاه محمود د ایران د پاچا فتح علي شاه په دربار کې پنا واخیسته فتح علي شاه نومورې د فرصت د پیدا کول په تمه کېناوه.

په داسې نازك او حساس وخت کې چې د افغانستان په شمال، ختیز او لوېدیځ کې ټول ګاوندیو هېوادونو د افغانستان د خاورې تجزیې او لاندې کولو لپاره هلې ځلې کولې او له بلې خوا څخه سدوزي شهزاده ګان د تاج او تخت د نیولو په غرض یو د بل سره په جګړو بوخت و خو شاه زمان د دې ناوړه کورنۍ او بهرني وضعیت سره سره په هند کې د فتوحاتو څخه ډډه نه کوله چې د هند شرقي کمپنۍ یو سوداګر مرزامهدي علي خان د شاه زمان د حملو په غرض

په ۱۷۹۸م کال د بو شهر له بندر څخه د ایران د پاچا او صدراعظم سره مکاتبه پیل کړه مهدي علي خان د ایران پاچا او صدراعظم ته وویل: «په هند کې شیعه ګان د متعصب شاه زمان له خوا ډېر کړېږي او په ډېر بدحال کې دي. چې د شرق الهند کمپنۍ د هند د شیعه ګانو ډېره ټینګه او د زړه له کومې ملاتړ کوي. په مقابل کې د افغانستان خلك د شاه زمان څخه ناراضي دي. او دوی باید د حاجي فیروزالدین او شاه محمد چې د ایران په دربار کې یې پناه اخیستې کلك ملاتړ وکړي.

د ایران پاچا د مهدي علي خان «د انګرېزانو استازي» د لاربښوونې سره سم د شاه محمود او حاجي فیروزالدین ملاتړ او هم یې پر خراسان او کندهار باندې د حملې تیاری وښوده، چې مهدي علي خان خپل ماموریت په ښه صورت سره سرته ورساوه، د ایران څخه له روانېدو مخکې د ایران له پاچا سره یو اوږد مجلس کې ګډون وکړ چې دغه مجلس کې د ایران صدراعظم هم موجود و. فتح عل شاه د مهدي علي خان څخه مشوره وغوښته چې پر افغانستان باندې د مذهبي شعار د لاندې حمله وکړي. او که د خپلې خاورې د نیولو په نیت ورباندې ورشم؟

مهدي علي خان ورته وویل: «چې زما په عقیده دا یوه خبره هم سمه نه ده که پر افغانستان باندې هر نوم باندې یرغل وشي د هغه هېواد خلك سره یو ځای کېږي ښه به دا وي چې ستا په دربار کې د حاضرو شهزاده ګانو «محمود او فیروزالدین» ملاتړ وکړي چې د افغانستان د نفوذ یوه برخه د ځان سره ملګري کړي». د ایران پاچا دا مشوره ومنله.

انګرېزانو په پورتني عمل بسنه ونه کړه د هند ګورنر جنرال ویلسلي wellsiley په ۱۷۹۹م کال کې د اګست په میاشت کې سرجان ملکم د ایران دربار ته د استازي په حیث واستاوه، سر جان ملکم ته دا ویل شوي و چې د درېیو یا څلور لکو روپیو په اندازه د ایران درباریانو ته د رشوت په توګه ولګوي ملکم په رشوتونو شروع وکړه او نوموړي خپل ماموریت په ښه وجه سرته ورسوه د شرق الهند کمپنۍ مقاماتو ته یې ولیکل: که چېرته درانې پاچا په هند حمله وکړي د ایران پاچا به حتمي په افغانستان حمله کوي، او په بل ځای بیا د کمپنۍ مقاماتو ته لیکلي: «د شاه زمان له خوا زړه ښغمه کړئ، هغه لږ تر لږه د ۱۸۰۱م کال د بارانونو د موسم تر پیل پورې د هند په لور حرکت نه شي کولی او که په هند باندې د حملې کولو توان هم ولري خو د دې کار وخت نه لري او د خدای ﷻ په توکل په دې سیمه کې دومره ستونزې لري چې څو کالونه نور هم پر هند باندې د حملې کولو وخت نه پیدا کوي.

د انګرېزي سندونو او د هغو لیکوالانو د لیکنو څخه معلومېږي چې برتانوي هند له خوا د شاه زمان د فعالیتونو د مخنیوي په غرض د هرې وسیلې څخه کار اخیستې او د هند په ساتلو او نیولو کې د شاه زمان د قوت او طاقت او پالیسۍ څخه ډېر تشویش درلود او لوی خنډ یې احساساوه چې د شاه محمود په وجود کې خپل هدف ته ورسېدل د وزیر فتح خان او شاه محمود په وسیله د شاه زمان واکمنۍ ته یې خاتمه ورکړه.

د شا زمان کړنلارې

د شاه زمان سیاسي کړنلاره (کورنی او بهرنی سیاست)

شاه زمان په کورني او بهرني سیاست کې دوه مهمې مسالې د دولتي سیاست په توګه مشخصې کړې وې او په خپل تصمیم کې تر اخره پورې پرې ټینګ ولاړ وو چې لومړي مساله د افغانستان په داخل کې د مرکزي دولت ټینګوالي او د ملوك الطوایفي سیستم له منځه وړل. او دویمه مسله یې د انګلیسانو څخه د هندي مسلمانانو او ټول هندي ملت خلاصول و، چې د دې دواړو دندو عملي کولو په لړ کې د دوو مخالفو داخلي او خارجي قوتونو د مخالفت سره مخامخ شو چې یو یې داخل زمکوال (فیوډالان) وو چې د ملوك الطوایفي سیستم غوښتونکی و او نه یې غوښتل چې خپل سیمه ییز نفوذ له لاسه ورکړي او بل د انګلیس استعماري قوت و چې هغوی په هند کې د افغانستان د تاثیر او اغېزې باندې ښه پوهېدل چې خپل ټول قوت یې په سیاسي او دیپلوماتیکو لارو کې په کار واچوه او د شاه زمان پر ضد یې د هېڅ ډول عمل څخه ډډه ونه کړه خو په نظامي لحاظ یې د افغانستان د امپراتور (شاه زمان) په مقابل کې ځان عاجز او ناتوانه لیده، بالاخره د هېواد په داخل کې د فیوډالانو فعالیت او په ګاونډ کې د انګرېزانو او ایرانیانو سیاسي فعالیت شاه زمان د ستونزو په یوه حلقه کې راګیر کړ. د کورنیو ستونزو په پیدا کولو کې د شاه زمان روش هم ډېر تاثیر درلود. ځکه نومورې د خپل پلار او نیکه (تیمور شاه او احمد شاه بابا) درویې او پالیسي برخلاف د پښتنو سردارانو په مقابل کې د سخت روش او پالیسي څخه کار واخیست ده فکر کاوه

چې پښتنو سردارانو زما د پلار د نرم او نېک چلند څخه ناوړه ګټه اخیستې، که زه د نرمۍ څخه کار واخلم نو خبره به نوره هم خرابه شي همدغه ځای کې ده لویه خطا وکړه او د خپل ذهني تحلیل پر اساس چې عملي جنبه یې ډېره کمه وه د ناپوهۍ څخه یې کار واخیست د ټولو پښتنو سردارانو څخه اختیارات واخیستل، هغوی یې بې واکه کړل د دې برسېره په هغوی پسې یې جاسوسان کړل، ګڼ شمېر سرداران یې بندیان او د هغوی تنخواګانې یې بندي کړې چې د ده د پالیسۍ په نتیجه کې د پښتنو با نفوذ سرداران له وېرې د هېواد لرې سیمو ته وتښتېدل او د شاه زمان په خلاف یې سازشونه شروع کړل.

په بهرني سیاست کې د شاه زمان زیاته توجه په هندوستان کې فتوحاتو ته کړې وه خو د نورو ګاونديو لکه ایران او بخارا سره د هغو درویش مطابق عمل کاوه. مګر د هند په اړه شاه زمان کوښښ کاوه چې د خپل نیکه په څېر فتوحاتو ته ادامه ورکړي. د بلې خوا څخه د هندوستان محلي حکمرانانو د ده څخه غوښنه کوله چې د انګرېزانو سره په مقابله کې له هغوی سره مرسته وکړي. تر څو په ګډه د انګرېزانو د پرمختګ مخه ونیسي څه د هند ملت راجاګان او نوابان ټول د غفلت له خوبه راویښ شوي وو په دې پوهېدل چې انګلستان د هند د نیولو لپاره د هېڅ ډول چل او فریب زور او ظلم څخه ډډه نه کوي، خو د هند قوتونو نه د انګلسانو د فوځ د مقابلې څخه چې په ډېرو اروپایي قواوو باندې غلبه حاصله کړې وه عاجز و، د دوی یوازینۍ هیله او امید د افغانستان امپراتور (شاه زمان) ته وه اوس نو ځکه در امپور حکمران غلام محمد خان روهیله شخصاً کابل ته

راغی او د شاه زمان څخه یې د نظامي مرستې غوښتنه وکړه تر څو خپل پلارنۍ ملک بېرته لاس ته راوړي. چې پدې اړوند انګلیسي سیاست مدار سر ویلیم جانکي زمونږ خبرې تاییدوي داسې لیکي: «په هند کې د انګلیسانو د ټولو دښمنانو سترګې د کابل حکومت ته وي. د هندوستان په شمال کې د اوده او په جنوب کې د میسور څخه څلور کرته د افغانستان پاچا ته یې بلنه ورکړه چې هندوستان ته راشي، د افغانستان پاچا ته یې د هر قسم مال او نظامي مرستو وعده هم ورکړې، سلطان ټیپو دافغانستان پاچا دې ته تشویقوه چې خپل پوځ سره په هند حمله وکړي، راجاجوناګر داسې وعده وکړه چې د ده سیمې ته د پاچا «شا زمان» د پوځ د رسېدو سره سم به د ورځې یو لک «سل زره» روپۍ به د پوځ د مصرف لپاره ورکوي».

په هند باندې د یرغل سره دشاه زمان دومره علاقې او مینې ډېر لاملونه درلودل چې ځینې یې پورته ذکر شول خو د هغو برسېره د شاه زمان احساس قوي عزم او اراده، د ۱۵۰ زره پوځ موجودیت نومورې دې ته هڅاوه چې د هندوستان مسلمانان او ټول هندي ملت د انګرېزانو له چور او تالان څخه وژغوري، د فرانسې امپراتور ناپیلیون دا غوښتنه چې د افغانستان له لوري پر هند حمله وکړي ونه منله. ځکه شاه زمان پدې ډاډه و چې افغانستان پخپله د انګرېزانو موجودیت ته خاتمه ورکولی شي.

انګرېزانو چې د هند د نیولو لپاره ټینګ تصمیمونه او ښه تدبیرونه لرل خو د دې ارمانونو د ترسره کېدو په لار کې یې پیاوړی او قوي افغانستان اوپه هغه کې د شاه زمان ذعامت لوی خنډ ګڼلو مګر

کورنیو جګړو اواختلافاتو انګرېزانو ته دا ثابته کړه چې د برتانوي هند په لور د شاه زمان د وړاندې تګ د مخنیوي په خاطر په داخل کې د ګډوډیو پیدا کول اود شاه محمود لخوا د حملو تنظیمول او اجرا کول غوره وګڼل او د دې تکتیک پر اساس انګرېزانود ایران سره یو ټرون لاسلیک کړ. او ایران ته دنده وسپارل شوه چې پر هند باندې د شاه زمان د یرغل په وخت کې به پر افغانستان باندې حمله کوي انګرېزانو د مختلفو رویشونو او تکتیکونو د اجرا کولو پر اساس وکولی شول چې هند د شاه زمان د حملو او پرمختګ څخه بچ وساتي.

د بخارا سره د ده اړیکې نسه وې یو ځل بخارا پر افغانستان حمله وکړه خو چې کله شاه زمان کابل ته راورسېد د بخارا سفیر کابل ته راغی او د شاه زمان ته یې د خپل تجاوز په اړه عذر وکړ او ښښنه یې ترېنه وغوښته او دامو سیند د دواړو هېوادو تر منځ فاصل حد وټاکل شو.

نتیجه دا شوه چې شاه زمان بهرنۍ پالیسي په هند کې په فتوحاتو باندې خلاصه شو، خو په دغه هدف کې هم د ځینو داخلي ستونزو او اختلافاتو، د انګرېزانو دوامداره سیاسي او دیپلوماتیکو هلو ځلو په نتیجه کې بریالی نه شو چې په اخره کې یې خپله واکمني او دواړه ستر کې هم له لاسه ورکړې، چې د افغانستان دتجزیې، په کورنیو چارو کې لاس وهنې لپاره زمینه برابره کړه چې د انګرېزانو لومړني هدف دشاه زمان د واکمنۍ په ختمېدو سره پوره شو.

د شاه زمان اقتصادي کړنلاره

د تیمور شاه او احمد شاه بابا دواکمنۍ ۴۶کلنه (۱۷۴۷-۱۷۹۳ م) دوره د یوې اوږدې تجزیې وروسته د داخلي امنیت له کبله، نسبتاً یوه ارامه دوره وه چې د احمد شاه بابا په وخت کې د نوي افغانستان بنسټ کښښودل شو، په دغه دوره کې د اقتصادي فعالیتونو د سرته رسولو لپاره زمینه برابره شوه چې د کرنې او سوداګرۍ چارو ډېر پرمختګ او انکشاف وکړ. که څه هم دولت اقتصادي فعالیتونو (کرنه او مالداری) ته کومه خاصه پاملرنه نه کوله دوی (احمد شاه تیمور شاه او شاه زمان) دري واړه په سیاسي او امنیتي مسایلو کې مصروف و خود احمد شاه بابا په وخت کې د هېواد مختلفې سیمې سره وصل شوې، چې په داخل او خارج (هند مرکز اسیا اوایران) تر منځ د سوداګرۍ اړیکې ټینګې شوې ښارونو پراختیا پیدا کړه لاسي او هحلي صنایعو هم پرمختګ وکړ، ښوونه او روزنه په جوماتونو کې رواج شوه مګر په نورو هېوادونو کې خلکو د چاپ د ماشینونو او برېښنا څخه ګټه اخیسته.

افغانستان لاد پرمختګ لپاره فرصت نه وه پیدا کړی، نوي اساس د ټینګښت په حال کې و د شاه زمان د واکمنۍ په جریان کې داخلي جګړې او ګډوډۍ پیل شوې چې په نتیجه کې د احمد شاه بابا امپراتورۍ سقوط وکړ خو د ابادۍ او د هېوا اقتصادي پیاوړتیا په لار کې یو قدم هم وانه خیستل شو، چې مرکزي حکومت له منځه ولاړ ملوك الطوایفي سیستم ټینګ او د هېواد کولتوري، فرهنګي، علمي او اقتصادي بنسټونه هم له منځه ولاړل چې افغانستان نه یوازې د

اروپایي هېوادونو بلکې د اسیایي هېوادو څخه هم وروسته پاتې شو. دولت یوازې په مالیاتو باندې تکیه کوله، نور اقتصادي موسسې نه وې چې دولت ته ګټه ورکړي.

مالیاتي سیستم

درانې پاچاهانو چې کوم عایدات درلودل هغه یې د مالیاتي دیوانونو په واسطه راجمعه کول چې د دغو مالیو او محصولاتو زیاتره برخه د جنس په ډول وه چې نقدې او جنسي دواړه ډوله مالیات د دولت تحویلیانو او ګودامونو ته د خاصو دفترونو له لارې تحویلېدل. هغه خلک چې په پوځي خدمتونو کې مصروف و هغوی د مالیې څخه معاف و او هغه ځمکې هم له مالي څخه معاف وې چې د امپراتور له خوا مذهبي موسسو ته ورکړل شوی وی، د ځمکو د مالیې لوړوالي د سیمو په وضعې او شرایطو پورې اړه درلوده چې له لسمې برخې څخه نیولې تر درېیمې برخې پورې رسېده مالیه به زیاته اندازه په جنسي ډول تولېده، مګر د باغونو خاوندانو نقدي مالیې ورکوله، د مالیه اندازه د باغ د مساحت له مخې سنجول کېده، عوامو خلکو د ځمکو د مالیې نه پرته اړ وو، چې دولتي خزانې ته د ځینو نورو شتمنیو لکه څارویو او میرابي په نوم هم مالیه ورکړي.

CamScanner

د څارویومالیه

د څارویو مالیه کله په نقدو او کله په جنسي ډول ورکول کېده چې ځینې وختونه به دځارویو دمالیه سربېره د څړ ځایونو د محصول په نوم پیسې اخیستل کېدې چې دې پیسو ته به یې (جب پولي) ویلي.

د ژرندې مالیه: د ژرندې مالیه په جنسي ډول اخیستل کېده چې دهرې ژرندې لپاره په کال کې نیم خروار ۴۰ منه غله تعین شوې وه.

د میرابې مالیه

میراب په هغه وخت کې دولتي مامور چې د ویالو او کانالونو د سیستم ساتنه یې کوله چې د میراب لپاره هم غله ټولېده او ډ میراب ساتنه د خلکو په غاړه وه د قاضي لپاره د محصولات ټولېده، قاضي به چې په هره سیمه کې اوسېده د هغې سیمې له کورونو څخه د کورونو په اندازه مالیه ټولېده او ده ته به یې مشر هم ویلې، سربېره پردي خلك اړوه چې د حکومت په غوښتنه د ویالو په پاکولو، د دولتي تعمیرووپه جوړولو کې د بیګار په دول کارته حاضر شي، او خلك مجبور و چې د پاچا مامورینو ته د سفر په وخت کې اسونه برابر کړي بیګار او د اسونو ساتنه د بزګرانو په غاړه وه کوچیان معاف و، نامسلمانه خلکو (هندوانو او نورو دینونو پیروانو) جزیه ورکوله مګر ځینې وخت د ملي واکمنانو له خوا هم تعینېدله. د احمد شاه بابا د سلطنت په اخر کلوو کې دولتي عیدات درې میلونو ته رسېدل د تیمور شاه د واکمنۍ په دوره کې دغه عیدات ډېر تیټ شول چې د

اتلسمې پیړۍ په اتیایمو کلونو کې نومورې عایدات له یو میلیون څخه نه زیاتېدل د شاه زمان د دورې په لومړیو وختونو کې (۱۷۹۳-۱۷۹۴م) کلونو کې دولتي عایدات په کال کې ۲۷ لکه روپیو ته رسېدل الفستون په ۱۸۰۹م کال د شاه شجاع تول عایدات ۹۰ لکه روپۍ ښودلي دي د درانې پاچاهانو د خزانې عایداتو اساسي منبع هغه هندي ولایتونه و چې د احمد شاه درانې له خوا فتحه شوي و، هغه محصولات او مالیات چې کابلستان، قندهار او هرات څخه لاس ته راتلل او یا نورو قبایلو دولت ته ورکولی او د دولت عمومي عایداتو په قوت کې دومره اغېز نه درلود څکه دا خبره د احمد شاه بابا له ویناوو څخه ښه جوتېږي چې ویل به یې: (د امپراتورۍ لویدیځ مورچه ته پوځونه راکوي او له ختیزې برخې څخه مورچه ته پیسې راځي... او د امو سیند د جنوب لور ته د ازبکو سیمې د مچیو تمبیکو (ځالو) ته ورته دي چې له لرې لوی ښکاري مګر ګټینه پکې نه وي). د احمد شاه بابا د امپراتورۍ تر ټولو شتمن ولایت د کشمیر برخې وې چې له دې ولایت څخه په کال کې ۴۰ لکه روپۍ د مالیه په نوم د دولت خزانې ته راتللې چې له دې روپیو څخه به د کشمیر حاکم د کال ۲۲ لکه روپۍ په نقدي توګه شاه ته ورکولې او پاتې برخه یې جنسي ډول د پاچا دربار ته رالېږلې، لاهور او ملتان هم د کال ۵۰ لکه روپۍ د مالیې په نوم رالېږلې او د پنجاب شمال لویدیځ څخه هم ۱۴ لکه روپۍ راتللې چې د هندوستان د نورو سیمو څخه لږ زیاتې پیسې د مالیې په نوم درانې پاچاهانو ته ورکولې چې د مظفر اباد څخه د کال یو لک، شکارپور څخه ۴لکه، سکر یو لک د غازي خان او اسماعیل

خان دپرې یو نیم لك روپۍ ورکولې چې لاندینی جدول موږ ته د مهمو ولایتونو د مالیاتو اندازه راپه ګوته کوي:

په ۱۷۹۳ او ۱۷۹۴م کلونو کې د شاه زمان د واکمنۍ په وخت کې د دوراني امپراتورۍ د ځینې ولایتونو عایدات:

ګڼه	ولایتونه	ټول عایدات د زرو په حساب	د پاچا خزانې ته د زرو په حساب	فیصدي
۱	کشمیر	۴۰۱۸	۲۲۵۰	%۵۶,۱
۲	ملتان	۷۷۳	۲۵۵	%۳۲,۴
۳	اسماعیل خان دېره	۱۰۹۷	۲۷۰	%۲۱
۴	شکارپور	۵۹۳	۳۹۱	%۶۵,۹
۵	مفظر اباد	۱۰۰	معلومات نشته	
۶	هندي هزاره	۲۳۰	معلومات نشته	
۷	سکر	معلومات نشته	۶۵	
۸	اټك	۱۱۰	۵۰	%۴۵,۴
	ټولې	۷۱۲۰	۳۸۰۱	%۵۳,۳

په دغه پورتنیو ۳۸۰۱ روپیو کې چې د دولت خزانې ته رارسېدلي ۱۰۵ زره او پنځوس روپۍ هم پرې اضافه کېږي ځکه دغه

پیسې به هر کال له بهاولپور او سند له والیانو څخه د باج په نوم اخیستل کېدې.

د مخکینې جدول له مخې ویلی شو چې د شاه زمان د امپراتورۍ د ختیزو برخو څخه به هر کال ۵۰۵۱ زره پورې د ده خزانې ته راتللې، مګر په د پیسو کې هغه قیمتي څیزونه چې د سوغاتونو په نامه د ولایتونو د حاکمانو له خوا په پرلپسې ډول پاچا ته رالېږل شامل نه و، دا هغه سرداران او حاکمان و چې د شاه زمان د حکومت تابع و دوی د کلني باج څخه خلاص و لکه د بلوچستان بېګلربېګي.

د شاه زمان کلني عایدات په ۱۷۹۳ او ۱۷۹۴م کلونو کې

ولایتونه	عمومي عایدات د زرو روپیو په حساب	د پاچا خزانې ته د زرو روپیو په حساب	فیصدي	کتنې
کابل	۹۹۵	۲۲,۵	%۲۲,۲	
پېښور	۱۱۹۱	۲۹۵	%۲۴,۷	
جلال اباد	۴۰۰	۲۰۰	%۵۰,۰	
غوربند	۹۰	۴۰	%۴۴,۴	
بنګښ	۱۰۰	معلومات نشته		
غلزایي کلات	معلومات نشته	۱۰۲		
غزني	۱۱۰۰	۵۰	%۴.۴۵	
چاریکار او پنجشېر	۲۱۰	۱۰۰	%۴۷.۲	
قندهار	۹۶۱	۲۱۰	%۲۱.۸	

فراه	معلومات نشته	۲۵	
هرات	۱۱۸۱	۴۲۱	۲۵,۲۰
بامیان او هزاره جات	۱۰۰	معلومات نشته	
ټولې	۵۳۳۸	۱۷۴۸	%۳۲,۸

په پورتني جدول کې خراسان، سیستان او بلخ نشته حال دا چې د دغو ولایتونو (خراسان او سیستان) د کال څلوېښت لکه روپۍ او له بلخ څخه ۵ لکه عاید لاس ته راته. مګر د دغو ولایتونو شاهي خزانې ته په واقعیت کې هېڅ نه رالېږلې د دغو ولایاتو حاکمانو دومره کول چې هر کال به یې پاچا ته د پورتني قیمت مطابق سوغاتونه رالېږل او یو کمه اندازه باج به یې په جنسي ډول هم ورکاوه.

د هندوستان څخه په سلو کې ۵۲% او د امپراتورۍ د لوېدیځو ولایتونو د نورو قبایلو سره یو ځای ۳۲% عایدات لاس ته راتلل، پښتنو قبایلو دولت ته د مالیې په نوم ډېر لږ عایدات ورکول، ځکه ددې قبایلو تابع کول ډېر ګران کار وو، بل دا چې پښتنو قبایلو او اشرافو د احمدشاه بابا په دربار کې لوړاو دروند مقام درلود، او پر پښتنو باندې د نادر شاه افشار لخوا درانده مالیات ایښودل شوي وو چې احمد شاه بابا هغه لغوه کړل، او ځینې با نفوذه قبایل لکه درانیان د مالیه ورکولو څخه معاف و.

لګښت (مصارف)

د درانې دولت زیات لګښت په پوځونو باندې کېده احمد شاه درانې هر کال ۱۹۰ لکه روپۍ په خپلو پوځونو باندې لګولې، مګر د شاه زمان د واکمنۍ په وخت کې د منظمو پوځونو شمېر د احمد شاه درانې په نسبت کم و چې د شاه زمان د پوځونو لګښتونه له پورتنۍ اندازې څخه ډېر لږ و، شاه زمان په خپل ګارد (غلام خانې) باندې په کال ۱۱,۹ لکه روپۍ لږولې او د توپ خانې لګښتونه ۱,۷ لکه روپۍ کېدې چې چېرې دامیر اخور باشي د دفتر (د اسونو، فیلانو او اوښانو، کچرواو نورو د بار وړونکو څارویو باندې کېده) مصرف ددې لګښت سره جمعه کړو د دغو لګښتونو اندازه ۳,۹ لکه روپیو ته رسېدل چې د پوخ ټول لګښت تقریباً ۱۸ لکه روپیو ته لوړېده، د دولتي لګښتونو بله غټه برخه د دولتي اداري د تنظیم په خاطر په مصرف رسېده چې دولتي ادارو مصرف ۵۰ لکو ته رسېده، چې دغه ټول لګښتونه دو لایاتو د عایداتو څخه پوره کېده، د دربارلګښت ۲۷,۷٪ لکه روپۍ و، چې پدې لګښتونو کې هغه دانې او وانښه چې د اسونو لپاره یې دو لایتونو څخه راوړل نه راتلل، ځکه دغه دانې او وانښه د مالیه هغه برخه وه چې د خلکو څخه په جنس ډول اخیستل کېده، مثلاً د بلخ او اقچې حاکمانو به هر کال ۱۷۰۰ اسونه، ۲۲ زره پسونه د پاچا درپاره رالېږل همدارنګه د میمنې حاکم م د کال ۱۰۰۰ اسونه او ۱۰۰۰۰ پسونه مرکز ته راستول.

په خیریه او ټولنیزه کارونو باندې د کل ۲,۸۵ لکه روپۍ لګېدلې چې د دې پیسو زیاته برخه د اسلامي روحانیونو ته ورکول کېدې په

کال کې ۱,۸ لکه روپۍ د دولتي عاید څخه د بلخ اواقچې حاکمانو ته لېږل کېدې، پدې ترتیب د شاه زمان د واکمنۍ په لومړیو وختونو کې د دولتي لګښتونو تولې اندازه ۱۲۱ لکه روپیو ته رسېدله، چې د دې روپیو څخه تقریباً ۴۲,۱لکه روپۍ له مرکزي خزانې څخه اجرا کېدې اوپاتې ولایتونو څخه ورکول کېدې.

د هغو روپیو اندازه چې جاګیردارانو ته ورکول کېده

ولایتونه	عمومي عایدت د زور په حساب	شاهي خزانې ته	جایګیراانو ته ورکړل شوې روپۍ	
			د زرو روپیو حساب	فیصدي
کابل	۹۹۵	۲۲۵	۲۵۵	%۲۲
چاریکار او پنجشېر	۲۱۰	۱۰۰	۶۵	%۳۴
قندهار	۹۶۱	۲۱۰	۴۲۰	%۴۳
هرات	۱۱۸۱	۴۲۱	۴۵۰	%۳۹,۵
ملتان	۶۷۳	۲۵۵	۳۲۳	%۴۸
د اسماعیل خان دېره	۲۹۹	۱۲	۱۵۴	%۵۵
کشمیر	۴۰۱۸	۲۲۵	۶۲۸	%۱۵,۵
د غازیخان دېره	۱۰۹۷	۶۷۰	۳۲۰	%۳۰
شکارپور	۵۹۳	۳۹۱	۱۴۵	%۲۴

د شاه زمان په وخت کې د درانیانو د امپراتوری لګښتونه

شماره	د لګښتونو بېلګې	د زرو روپیو په حساب	د لګښت تولې فیصدي	کتنې
۱	پوځي لګښتونه	۱۴۲	۳۱,۲	نوټ: په ۱۷۹۳ ع
	په دې جمله کې	۰		۱۷۹۴م کلونو کې د امپراتوری د تولو عایداتو څخه ۴۲,۳۹ لکه روپۍ دولت ته ورکول کېدې او نور تول عایدات محلي واکمنانو په خپل منځ کې ویشل
۲	د شاهي ګارد تولګي غلام شاهي	۱۱۹		
۳	توپ خانه	۲۷۰		
۴	د میراخورباشي اداره	۳۹۰	%۸,۴	
	په دې جمله کې			
۵	د پاچا د اسونو د طویلي	۱۵۰		
۶	د شاهي پیلانو پیل خانې	۵۰		
۷	کچرې	۸۰		
۸	اوښان	۱۱۰		
۹	نورو درباري دفترونو	۱۷۰	۲۵,۲	
	په دې جمله کې			
۱۰	حرم	۵۲۰		
۱۱	اشپزخانه	۲۲۰		
۱۲	او نور	۳۹۰		
۱۳	د پاچا خانګرې لګښتونه	۱۲۰۰	۲۲,۱	

۱۴	ساختماني کارونه	۲۱۰	۴.۵
۱۵	د بلخ او اقچې په نوم مستعمري معاش	۱۸۰	۴.۲
	ټول	۴۲۱۵	۱۰۰

په همغه اندازه د امپراتوری عایدات کمېدل او د دې پاچاهانو نفوذ او واک هم مخ په زوال و چې د شاه زمان د سقوط سره سم په هېواد کې امنیت له منځه ولاړ او زیاتې ځمکې د پاچا خپلوانو او روحانیونو ته وقف شوې وې چې د وقفې ځمکو په نامه یادېدې چې د پاچا لخوا نومورې ځمکې د هغوی د ملکیت په توګه پېژندل شوې وې.

پوځي جوړښت

کله چې په ۱۷۴۷م کال کې د درانیانو امپراتوری اساس د احمد شاه بابا په واسطه کېښودل شو لومړی د هېواد په داخل کې د مرکزیت د ټینګولو وروسته یې بیا هند، ایران او مرکزي اسیا هېوادونه ونیول، چې د دغې امپراتوری سرحدات اصفهان، ډیلي او بخارا ته ورسېدل چې د دې جګړو په نتیجه کې د پښتنو قوي پوځ او پوځي سیستم منځ ته راغي چې دغه پوځ د ایران او هند د پوځونو څخه په جګړه ایزه صفاتو کې لوړوالي درلود. لکه څرنګه چې د درانیانو امپراتوري اداري او دولتي نظام دواړه درلودل، پوځ هم چې د احمد شاه درانې په واسطه جوړ شوی و کوم خاص مېکانېزم نه درلود په عمومي ډول دوه برخو منظمو او غیر منظمو (ایله جاري) څخه جوړ شوی و.

منظم پوځ هسته د هغه سپرو ګارد څخه جوړېده چې په «غلام خانه» یا «غلام شاهي» په نوم یادېدل دغه غلام خانه په اول کې د هغو عسکرو څخه تشکیل شوي وو چې له نادر افشار سره یې نوکري کوله او بیا دغه عسکر احمد شاه درانی ته د عسکري لپاره راغلل، د غلام خانې درېیمه برخه د قزلباشو څخه جوړ شوې وه چې د تیمور شاه په وخت کې دغه ګارد ته تاجکان هم شامل شول. په دغه ګارد کې غلامان هم و چې څه پاچا رانیولي او څه د بلوچستان بیګلر بیګي له خوا ورته د سوغات په توګه ورکړل شوي وو خو د تیمور شاه په وخت کې د ګارد مشر سپه سالار سردار مدد خان ساکزي د قبیلې څخه او د ساکزي قبیلې وګړي هم په دې پوځ کې شامل شول. د دغه ګارد اداره اوقوماندې د پاچا په لاس کې وه چې د ګارد غړو د قبایلوسره هېڅ نوعه اړیکې نه درلودې.

د غلامانو په ګارد کې یو خاصه ډله موجوده وه چې د شاه ساتنه به یې کوله. دې ډلې ته یې «رکابي» ویلي د منظمو پوځو په منځ کې یو ځانګړې ډله موجوده وه، چې هغه به په اوښانو سپرېدل او د دوی وظیفه دا وه چې د پلیو عسکرو سره به یې د سیندونو څخه په پوري وتلو کې مرسته کوله.

مریانو طلایي کمربندونه تر ملا تړل، زرینې خولې به یې په سر وي، او خولو ته به یې ځوندي اچول. د منصبدارانو پټکیو به د عسکرو سره فرق درلود. درنګ سربېره منصبدارانو په پټکیو کې پرې «بنګې» تومبلي لوړ رتبه منصبدارانو ته د زړورتوب له کبله اجازه ورکول کېده چې په پټکي کې الماس هم کېږدي. چې په ۱۷۲۱م کال

CamScanner

کې د احمد خان بنګښ ته دا ډول ننښان ورکړل شو، خکه چې ده د مرهټیو د منصبدارانو ابراهیم خان د ګارد حمله چې د شپې له خوا یې په پښتنو کړې وه نه دا چې هغوی ته د حملې وخت ورنکړ بلکې هغوی ته یې ماتې هم ورکړه د ګارد د عسکرو لباس په رنګ کې یو له بل سره توپیر درلود. او د شاهاهي غلام خاني د یوې برخې نوم دسته و

د ګارد د سپرو پوځ قومندان ته یې (قول راغلیسي) ویل کېده، چې (قول) د مریي مانا لري د پښتنو په منظم پوځ د پلي عسکرو شمېر لږ و چې د دوی تر توپلو لوی توپلګي ایراني اجیر عسکر و چې هغوی تفنګچي یا (زایرچي) بلل په رښتیني ډول ویلی شوجي شاه زمان پوځ عسکر تش په نامه د پلي عسکرو په نامه یادېدل کې نه توپ په اسونوسورېدل، یو بل توپلګي چې قشقچي نوکریوال توپلګیو چې د پاچا د سر ساتنه یې کوله دوی اروپایي جامې لرلې. او بله ډله سارایي ژاندارم و چې دوی ته نسقچي ویل کېده د دې پرته نور توپلګي هم موجود و چې د ترانسپورت او کورنیو چارو سمبالوونکي و، د دوی توپلو په سر باندې اردو باشي ولاړ و او د دوی وظیفه د لښکر کشیو په وخت کې د قرارګاو سمبالول و د شاه زمان په پوځ کې درانده او سپک توپونه موجود وو او مشر ته یې توپچي باشي ویل کېده چې د احمد شاه بابا په وخت کې لومړي عثمان خان دغه څوکۍ نیولی او وروسته رحمان بارکزي د دې څوکۍ واک په لاس کې واخیست د دې پوځ مهم توپ د زمبورک (شترنال) یا شاهین په نوم یادېده د احمد شا درانې پوځ کې ۴۰۰۰ څلور زره زمبورک توپونه موجود و د دغه زمبورک توپونه د اوښانو په واسطه ورځ کېدل. د دې توپ هرې ګولۍ ۴۰۰.

CamScanner

۸۰۰ کیلوګرامه وزن درلود. عسکرو کولی شو چې د اوښ د تګ په وخت کې ډزې وکړي چې د پاڼي پت په جګړه کې د دې توپونو څخه ګټه اخیستل شوې وه چې شاه زمان به په جګړه کې ۲۴۰۰ زمبورک توپونه استعمالول او ۳۲۷۰ توپونه به یې د احتیاط په ډول د خان سره ساتل د شاه زمان په پوځ کې تر ټولو وړوکی ګروپ لس کیزه ټولګی و چې د دهپاشي تر قوماندې لاندې و چې د پنځوس کسیزه ټولګي ته به یې بولك ویلې او قومندان ته به یې پنجاباشي ویلې د څوټولګیو څه کنډك جوړېده چې د کنډك امر ته یې منیك باشي ویلې چې د څو کنډکونو څخه رساله یا قذه جوړېده چې شمېر به یې ۳-۵ زره عسکرو ته رسېده د شاه زمان په وخت کې د التفاف خان تر قوماندې لاندې ۴۹۰۰ منظم عسکر او د یوسف علي خان رساله به ۳۰۰۰ تنو ته رسېده چې د جنګ په وخت د دغو رسالو څخه داسې پوځ جوړېده چې شمېر به یې ۱۲-۱۸ زره پورې رسېده.

د شاه زمان د پوځ شمېر د هغه د سلطنت په لومړیو وختونو کې ۲۸ زره عسکرو ته رسېده چې له دغې جملې څخه ۳۵۰۰۰ زره تنه په ولایتونو کې پراته و او پاتې برخه په مرکز کابل کې وه چې په اوه رسالو کې تنظیم شوی وو د هرې سیمې قومنداني د پاچا خپلوانو ته سپارل شوې وه د شاه زمان د غلامانو د پوځ شمېر ۹۷۸۰ تنه وو د شاه زمان د غلامانو د سپرو شمېر ۱۲۰۰۰ ته رسېده چې د شاهي دربار او حرم ساتنه د دوی پر غاړه وه د دې غلامانو پرته د بلوڅانو لپاره عسکر د پښتنو قبایلو لکه ترینو، خټکو، اندړو او نور عسکري ټولګي هم موجود وو په دایمي ډول سره مرکز کې اوسېدل او د شاه زمان په

CamScanner

۱۷۹۷م کال په پنجاب حمله وکړه اتیا زره عسکر چې ۷۰۰ زمبورک ۲۳ توپونه ورسره وو.

د درانیانو په امپراتوری کې د پوځ علي قومندان پاچا او پاچا نه وروسته سپه سالار و چې د دې دواړو تر منځ ارتباط د دفتر نظام په وسیله ټینګښده د نظامي دفتر دنده دا وه چې د منظم پوځ شمېر معلوم کړي د پوځ د خزانې او زخایرو راپور واخلي، نظامیانو ته خوراکي مواد او نور ضروري شیان برابر کړي چې د دې دفتر مسوول ته یې لښکر نویس ویلې ټولو عسکرو نمونه به په یو مخصوص دفتر کې ساتل کېدل چې سنچهره یې باله

جبه خانه (کورخانه) د کور چې تر امر لاندې وه کورچي باشي د پوځ لپاره وسله، جنګي مهمات. د هغو ترمیم او ساتنه په غاړه درلوده د نظامي محکمې امر ته یې قاضي عسکر ویل کېده، د شاه مان په پوځ کې محتسبان هم موجود و چې په عسکرو کې شرعي قوانین عملي کول، شاه زمان خپل پوځونه په کلاګانو کې اچول د هغوی قومندان ته یې کلادار ویلې

د شاهي پوځ د راتګ په وخت کې هر درانې سپاره پنځه ویشت تومنه تنخوا اخیستله چې د دې جملې څخه ۱۹ تومنه په نقدي ډول په څلورو وارو درې میاشتې وروسته ورکول کېده، او ۶ تومنه ور څخه دولت د ځمکې دمالیې په بدل کې اخیستل، مګر غیرو منظمو عسکرو ته اجازه ورکړل شوې وه چې د جګړې په وخت کې لاس ته راوړل شوي غنیمتونه ټول په خپله واخلي، دوی ته هېڅ ډول تنخوا نه وه. ایله جاري عسکرو هم معاش نه درلود، که چېرته به دوی له دې

CamScanner

میاشتو څخه زیات ایسار شول نو په هغه صورت کې به له ډه اندازه پیسې د بخشش په نوم ورکړې.

د شاه زمان د پوځ عمده برخه هغه دولس زره سپاره عسکر وو چې د غلامانو څخه تشکیل شوي و، چې زیاتره یې قزلباش، مغل او کم یې د نورو قبیلو څخه وو، چې دغه قزلباش احمد شاه بابا له ایران څخه راوستي وو چې د غلام خانې په نوم مشهور و چې دغه دواړو طایفو (قزلباش او مغل) د نور محمد خان امین الملك، حسن خان، صادقخان او التفات خان خزانه دار او مشکي خان تر لارښوونې لاندې فعالیت کاوه دوی د نظامي څانګې (نظامي دفتر) څخه نقدې پیسې اخیستلې، د دوی د هر یو تنخوا د کال ۱۰-۱۵ تومنو پورې وه او د هغه ۱۲۰۰ عسکرو چې د پاچا د استراحت د ځای ساتنه یې کوله د نیمایۍ څخه زیاتو نقدې او نیمه جاګیرداري درلوده او ځینو منصبدارانو لکه دهباشي، منیکیاشي، وقار اقاسي د تیول څخه علاوه افتخاري نومونه او القاب هم درلودل، او ۳۰ زره عسکر د ترینو، توخي، تره کي، اندړ قومونو څخه د خپل قوم د مشرانو د لارښوونې لاندې فعالیت کاوه چې د دغو قومونو څخه تقریباً ۳۹۰۰ پیاده او ۸۲۰۰ شپږ اتیا زره سوار عسکر د جګړې په وخت کې حاضربدل چې د دې سربېره ۱۵۰۰۰ عسکر دسند، ملتان او دیر جاتو څخه د هند سره د جګړې په وخت کې راټولېدل چې د سفر په وخت کې د شاه زمان لښکرو شمېر ۱۰۰۰۰۰ سل زرو ته رسېده. شاه زمان دومره لوی پوځ او طاقت په لرلو سره چې په هغه وخت کې د نړۍ په لویو هېوادونو (فرانسه او انګلستان) کې ساري نه لیدل کېده د

CamScanner

خپلو اشتباهاتو او کورنیو اختلافاتو په نتیجه کې ناکام شو چې
وروسته بیا روس او انګلیس په ډېرې اسانۍ سره زمونږ له هېواد څخه
ډېرې مهمې سوق الجهشي سیمې جلا او تر خپل کنټرول لاندې کړی

CamScanner

د شاه زمان خویونه او کرکتر (اخلاق او شخصیت)

د اخلاقو په لحاظ شاه زمان زیاتره د خپل نیکه سره شباهت درلود چې د هېواد په اداره او سیاسي چارو کې یې ګوښښ کاوه تر څو د خپل نیکه له روش څخه کار واخلي. اما د احمد شاه بابا په وجود کې ځینې نورمال صفتونه موجود و چې په ځینو مسالو کې یې د نرمۍ څخه کار اخیست چې همدغه خصوصیات د ده د بریالیتوب سبب هم شول. مګر د شاه زمان په وجود کې دغه خصوصیات نه وه موجود او په هره مساله کې د افراط څخه کار اخیسته چې همدغه خصوصیاتو د ده په ناکامۍ کې مهمه ونډه درلوده دا خبره ریښتیا ده چې شاه زمان د احمد شاه بابا په څېر زړور، د کلك عزم او د قوي ارادې لرونکي و، خو د هغه په شان تواضع او برده باري یې نه درلوده بلکې مغروره وه، خپله یې منله او د سخت زړه خاوند و، ډېر ژر به یې تصمیم نیوه او د خپل کار پایله یې په نظر کې نه نیوله، عمل به یې کاوه.

شاه زمان غوښتل چې مرکزي دولت تقویه، د سردارانو اومحلي امرینو نفوذ کم کړي. فیوډالي ضد سیاست یې درلود، خو د درانې سردارانو زیات احترام یې کاوه، یو شمېر سرداران د جاګیردارانو په نوم مالیه تولوله، هغه چا چې به امنیت خرابوه هغوی ته به یې سختې جزاګانې لکه د غوږونو او پزې غوڅول او سترګو ایستل په څېر جزاګانې ورکول کېدلې چې خپل ورور همایون یې هم ړوند کړ، شاه زمان په دیني او مذهبي مسایلو کې متعصب و، د تجمل او ښکلا سره یې مینه درلوده قیمتي لباس به یې اغوست، د قیمتي جواهراتو څخه به یې استفاده کوله، د ده په وخت کې په بالاحصار او د کابل

ښار په ځیګو نورو سیمو کې ځینې جوماتونه جوړ شول چې ډېرې ښایسته ګومبزې به یې درلودې، خو اوس یې کوم اثار نشته او له منځه تللې.

د شاه زمان د شخصیت په هکله انګلیسي لیکوالان لکه سرجان کې، فریر او الفنستن جلا جلا نظري لري سرجان کې وایي (شاه زمان یو پوه او مسلمان سړی و، چې د قران کریم تلاوت یې ډېر کاوه، که د مرکزي اسیا په معیارونو ورته وکتل شي نو شاه زمان په عمومي صورت ښه سړی و، زړه سوانده، سخي او د نرم طبیعت خاوند و، ډېر ژر غوسه ده او سړي کولی شول چې ربنتیا ورته دروغ وښییي، د هغه ظاهري تشریفات ډېر شاهانه و، مګر د ډېر ناپوه وزیر په لاس کې لوبده، تل به مهم خلك او با نفوذه اشخاص د ده په حضور کې حاضر و، شاه زمان په عمومي صورت په خلکو ګران و کروندګر له ده څخه خوښ وه د ده وزیر په بې انصافي او پستي مشهور وه او خلکو د خپلو حقوقو د خوندي کولو لپاره پاچا ته پنا وړله.

فریر خپل نظر داسې څرګندوي (شاه زمان یو هوښیار، زړور او فعال شخص و چې تل به په اس سور ګرځیده، د یوې جګړې د ختمیدو څخه یې بلې جګړې ته مخه کوله، ځکه داخلي او خارجي توطیو او بغاوتونو هغه جګړې ته مجبور وه د افغانستان خلکو د تیمور شاه د نورو ټولو زامنو په پرتله شاه زمان ته احترام درلود).

الفستن چې شاه زمان یې له نړۍ څخه لیدلې وه د نوموړي د شخصیت په اړوند داسې نظر لري (څرنګه چې یو وخت د شاه زمان نوم او شهرت په هندوستان او ایران کې خپور و او د هر چا څخه

اوربدل کېده ما د هغه د لیدو لپاره ډېره هڅه کوله او علاقمند وم چې هغه له نږدې څخه وګورم چې هغه مې د ۱۸۰۹م کال د جولای په لسمه نېټه په یوه خبمه کې په یو چپرکت بندي ناست ولیده، چې دغه اطاق په قالینو فرش وه، زه د شاه زمان په مقابل کې دومره ولاړوم تر څو یې ماته د کښاستلو اجازه راکړه، هغه ډېر ساده لباس درلود چې عبارت وه له یو تور شال چې سپینه دوره یې درلوده او ورښکته باندې ګلدوزي شوي وو هغه د پاچاهۍ څېره درلوده، عمر یې تقریباً د څلوېښتو کالو په شاوخا کې وه، د مخ څېره او د وجود غړي یې ډېر نازکه او ښایسته و، ډېره ډولي ګیره یې درلوده، ږوندوالی یې نه ښکاربده تر اوسه لاد ده په سترګو کې تورواليې پاتې و، چې د خبرو په وخت کې د مقابل شخص سترګو ته متوجه کېده، هغه له مانه د جګړې او د شاشجاع د ماتې خبرو نه تر لاسه کړل او بیا یې د افغانستان د پېښو په اړه صحبت وکړ په اخر کې یې وویل هیله لرم چې واقعیت زما پر خوا شي.

شاه زمان چې د شرق د ناپلیون لقب یې ګټلې وه او په هغه وخت کې د نړۍ د سترو او لویو امپراتورانو له جملې څخه حسابېده په زور او طاقت کې هم هغه وخت د انګلستان، فرانسې او روسیې څخه کم نه و، ځکه انګلستان او فرانسې دواړو په هند کې د نفوذ د ټینګولو په غرض د شاه زمان ملاتړ ضروري ګانه خو شاه زمان د داسې یو مستقل او تاریخي شخصیت لرونکی و چې د یو طاقت د تاثیر لاندې هم رانه غی او خپله یې غوښتل چې هندوستان د انګلیسانو له منګولو څخه خلاص کړي، د ده د شخصیت او کرکتر په اړه د نړۍ

CamScanner

مورخین مختلف نظریات لري خو د دغو مورخینو او تاریخي اسنادو کتابونو د مطالعې څخه جوتیږي چې د شاه زمان د یو ثابت، خوشباوره، او زړور شخص په توګه د هېڅ استعماري دولت تر تاثیر لاندې رانغی بلکې د هغوی په خلاف یې د افغانستان د وقار، عزت او عظمت په خاطر نظامي او جګړه ایزه اقدامات وکړل په تبعید او واکمنۍ کې یو شان د پردې تسلط مخالف وه د هغه وخت کورنیو او بهرنیو تاریخي شرایطو د ده د شخصیت خوی او اهدافو سره جوړ نه شول.

د شاه زمان اشتباهات

د تیمور شاه د مړینې ۱۷۹۳م کال په وخت کې د سدوزیو په سلطنت کې د کشمیر، پنجاب، پیښور، کابل، قندهار، هرات، بلخ او غزني علاقې شاملې وې، بلوچستان، سند، خراسان د باجګزاو سیمو په توګه ددې سلطنت برخې وې، چې د شاه زمان د اشتباهاتو په وجه په ټول هېواد کې ګډوډي او بې اطمنانې منځ ته راغله چې د هر سیمې د خلکو په سر کې د بغاوت او سرکشي اراده وه، که څه هم د پنجاب سیمه تر سر هند پورې د تیمور شاه په سلطنت کې شاملې وې خو اصلي واک د سک د سردارانو په لاس کې وو او تر سند پورې د سکانو نفوذ احساسېده، مګر په قطعي ډول په رسمي توګه د سدوزیو د دولت څخه جلا شوې نه وې، چې د شاه زمان د اشتباهاتو په نتیجه کې او د افغانستان د شاهي کورنۍ او سردارانو تر منځ کشمکش شروع شو چې پنجاب د دې ګډوډۍ څخه ګټه واخیسته او خپل نفوذ یې نور هم تینګ کړ.

د شاه زمان د پاچا کېدو په وخت کې د سدوزیو د امپراتورۍ ټول سرحدات په خپل حال پاتې و، خو د انګلیسانو د توطیو او د ده د خپلو اشتباهاتو پر اساس چې د خپلو وروڼو سره یې د سولې پر ځای په جګړې لاس پورې کړ د بلې خوا څخه یې د سلطنت په لومړیو وختونو کې سردار پاینده محمد خان ته ډېر اختیار ورکړ چې دا اختیار د هغه نفوذ د ده په دربار کې زیات کړ او په اخر کې یې د خپلو درباریانو خصوصاً رحمت الله خان په لمسون هغه وواژه چې د سردار پاینده محمد خان زامنو د ده له وروڼو سره یو ځای وکولی شول چې د

نومورې سلطنت ته خاتمه ورکړي، چې په دې برخه کې د انګلیسانو دسیسې، توطیې او ملاتړ هم بې تاثیره نه وه، خکه د انګلیسانو لیکوالان او سیاستوال په دې عقیده وه چې شاه زمان ته باید په داخل کې ستونزې پیدا کړي، چې یو لیکوال داسې لیکي (د ۱۸ پېړۍ په دویمه ربعه کې د کلکتې د سیاست اساسي کربنې دا وې چې په ټول توان سره باید کوښښ وکړي چې د شاه زمان سدوزي لپاره د افغانستان په غربي سرحداتو او د هېواد په داخل کې کړکېچونه پیدا کړي چې پنجاب او خپل ختیز قلمرو ته رانه شي او په هند کې د هغې د پرمختګ نقشې شنډې کړي)

شاه زمان د خپل سلطنت په څه کم لس کلنه دوره کې هېڅ وخت دې ټکي ته متوجهٔ نه شو چې د خپلو لوړ او عالي نقشو د عملي کولو لپاره کوم کار لومړی او کوم کار وروسته وکړي. د کندهار والي شهزاده همایون د مخالفت سره مخامخ شو، کله چې هغه ته یې د کلات په شاوخوا کې ماتې ورکړه نو هغه بلوچستان ته وتښتېده نو نومورې د بل ورور (شاه محمود) د ایلولو لپاره د هرات خواته روان شو. شاه محمود جنګ ته راووټ مخکې له هغې چې د شاه زمان د لښکرو سره مخامخ شي د خپل والي قیلچ خان د خیانت (شاه زمان ته تسلیم شو) په وجه سمدستي هرات ته راوګرځېد او شاه زمان ته یې د ببنې لپاره لیک راواستوه شاه زمان هغه معاف کړ او هغه یې بېرته د هرات د والي په صفت مقرر کړ او په خپله یې د هند د فتحه کولو په خاطر د هند په لور حرکت وکړ چې په هرات کې د شاه محمود مقرر ول د ده د لویو اشتباګانو څخه ګڼل کېږي خکه نومورې د هرات د ولایت

په سیاسي اهمیت نه پوهېده او که پوهېده نو هغه اداره ولې خپل مخالف ورور ته سپارله

د شاه زمان بله اشتباه دا وه چې په بالاحصار کې د خپلو وروڼو د بندي کولو وروسته داسې فکر کاوه چې کورنۍ اختلافات ختم شول لږه موده وروسته یې د هند د نیولو نقشه طرحه کړه په داسې حال کې چې د ده دوه وروڼو (همایون او شاه محمود) هر یو له ده څخه ځان د پاچاهۍ لایق ګانه.

شاه زمان د ګاونډیو هېوادونو سیاسي وضعې ته متوجه نه و چې د ده د نیکه (احمد شاه بابا) د وخت سره یې د پر توپیر درلود. ځکه په ایران کې د اقا محمد خان قاجار په مشرۍ یو مرکزي دولت منځ ته راغلی و او د افغانستان د ځتیزو سیمو د نیولو په خاطر یې عملیات ترسره کول، په ختیز کې سیکان د خپل ځوان مشر رنجیت سنګ پر شاوخوا راټول شوي وو او د احمد شاه بابا د وخت برخلاف اوس د نورو سیمو د نیولو په فکر کې و چې د دوی سره د انګرېزانو لمسون او ملاتړ یو ځای و.

تر ټولو لویه او نه جبران کېدونکې اشتباه د پښتنو قومي مشرانو او سردار پاینده محمد خان وژل و چې دا پېښه او د سردار پاینده محمد خان د زامنو شورش، له شاه محمود سره د وزیر فتح خان یو ځای کېدل د شاه زمان واکمنۍ ته خاتمه ورکړه.

په لنډه توګه د شاه زمان اشتباهات په لاندې ډول شمېرلی شو

د شاه زمان له خوا د وروڼو سره د سولې پر ځای د جګړې د لارې غوره کول.

CamScanner

د هند د نیولو لپاره ډېره عجله او کورنۍ ستونزې په نظر کې نه نیول.

د انګرېزانو او ایرانیانو د موضعګیري نه درکول او که چېرته دې دواړو هېوادونو په کړنه پوهېده خو د ده له خوا هغو په مقابل کې د سیاسي اقدام نه کول.

د سلطنت په اخر او حساسو شېبو کې د ۱۵ تنو سره د پېښور په لور روانېدل چې د یو امپراتور لپاره یانې ۱۵ تنه ملګري بالکل کم دي.

CamScanner

د رحمت الله خان مشورو ته زیات اهمیت

د شاه زمان د ماتې عوامل

مخکې له دې چې د شاه زمان د ماتې لاملونو ته اشاره وکړم لازمه ده چې د افغانستان ټولنه له سیاسي، نظامي، اقتصادي او ټولنیزو شرایطو له پلوه د انګلستان له ټولنې سره چې د شاه زمان سره یې په سیاسي او نظامي برخو کې سیالي کوله پرتله کړو ځکه د شاه زمان په ماتې کې د افغانستان د ټولنې د هغه وخت سیاسي اقتصادي او ټولنیزه شرایطو ډېره اغېزه درلوده او د ده مفکوره او کړنه هم د دې شرایطو تابع وه د شاه زمان د واکمنۍ په وخت کې د افغانستان دولت د نظامي قوت له نظره له اروپایي لویو دولتونو سره سیالي کولی شوه. چې انګرېزانو هم پدې تکي په ډېرو ځایونو کې اعتراف کړی او د دوی وېره له همدې څخه وه چې شاه زمان به یا پخپله هند ونیسي او یا به له فرانسې سره ملګری شي چې په دواړو صورتونو د انګلستان لپاره یې دفاع ستونزمنه وه او دا کار د دوی لپاره یو جدي خطر و.

په دولتي سیستم کې د افغانستان او برتانیې تر منځ ډېر توپیر موجود و ځکه افغانستان د یو شخص او مطلقه ټول واک لخوا اداره کېده او مشاورین یې هم د پوره سیاسي، نظامي او تولنیز لید خاوندان نه و چې د برتانیې دولت په سیاسي هلو ځلو پوه شوي وای او د هغوی په خنثی کولو کې یې د سیاسي عمل څخه ګټه اخیستی وای، نه د نظامي زور څخه او دغه واک د ده په راولوېدو سره متزلزل شو، دولتي سیستم هم له منځه ولاړ. نو دښمنانو هم کوښښ کاوه چې یوازې پاچا له واک څخه لرې کړي او پر ځای یې د ضعیفې ارادې

خاوند او د دوی تابع شخص واك ته ورسوي، ځکه چې د هېواد ټول واك له پاچا سره و.

په انګلستان کې دولتي واك د پاچا سره نه و او په انګلستان کې یو ولسواکه دولت حاکم و په سلګونو ویسراګان بدل شوي و په لسګونو وزیران هم بدل شوي و خو د انګلیسي دولت په موخو او تګلارو کې بدلون نه راته. چې هلته انګلستان کې د پاچا او وزیرانو صلاحیتونه تاکل شوي وو، چې د اسې دولت اساس په دیارلسمه پیړۍ کې ایښودل شوي وو، او پارلمان کې د ټولو خلکو استازي موجود او ځانونه یې د خپل هېواد په ګټه او ضرر کې شریك ګڼل، د مطبوعاتو ازادي د اساسي قانون موجودیت او هر تصمیم په ګډه (دسته جمعي) نیول کېده، مګر په افغانستان کې هر تصمیم په پاچا پورې اړه درلوده او یوازې د وزیر مشوره اوربدل کېده، په انګلستان کې مختلفو علومو لکه سیاست، اقتصاد، ټولنپېژندنه، ساینس او تولنیز علوم پرمختګ کړی وو حال دا چې د افغانستان ټول خلك بېسواده وو او رسمي ښوونځي په دولتي سطحه نه وو پرانیستل شوي، ځینې مورخین داسې نظر لري: که دشاه زمان مخالفین بېسواده نه وای او د انګرېزانو په چالونو او دسیسو پوهېدی دوی به د هغوی په ګټه کار نه وای کړی.

د اقتصاد له نظره هم افغانستان او انګلستان تر منځ ډېر توپیر موجود و، د افغانستان اقتصاد یوازې په ډېر ابتدایي کرنه او سوداګرۍ ولاړ و حال دا چې د انګلستان اقتصاد په مېکانیزه کرنه، پرمخ تللي صنعت او سوداګرۍ باندې متکي و، انګلیسي کمپنۍ

چې د هند د نیولو لپاره یې هلې ځلې کولې هدف یې د خامو موادو لاس ته راوړل و خو د دې شرایطو سره سره انګلیسانو د مخامخ جګړې څخه ډډه کوله او کورنۍ نفاق اچولو کوښښ یې کاوه.

د شاه زمان د ماتې لپاره هغه کړنې ډېرې موثرې تمامې شوې چې د افغانستان په داخل کې یې نفاق او شورش زیات کړ چې دغو پېښو ته په لاندې ډول اشاره کولی شو:

د پښتنو سردارانو وژل

د خپلو ورونو بندي کولو او د هغو د رضایت لپاره هېڅ ډول سیاسي عمل اجرا نه کړ، او حتی د دوی بندي کولو ته کوم ارزښت ورنکړ.

د همایون رند بدل چې د نورو ورونو په زړه کې ورته کینه پیدا شوه او د ده سره له یو ځای کېدو څخه ډډه کوله.

د شاه محمود دویم ځل په هرات کې مقررول او د هرات جغرافیایي او استراتیژیکي اهمیت نه پېژندل.

د پښتنو سردارانو وژلو څخه وروسته په ډېرو سختو او نازکه شرایطو کې د هېواد پرېښودل او هند ته سفر کول.

سردار رحمت الله خان ته زیات واک ورکول چې د ده دربار بانفوذه اشخاص لکه نور احمد خان نور زایي او سردار پاینده محمد خان یې خپه کړل چې دغه اشخاص د ده څخه جلا او شاه محمود سره د یو ځای کېدو په صورت کې د ده د ناکامۍ اسباب برابر کړل.

پېښور ته د سفر یانې د لښکر د برابرولو لپاره د حرکت په وخت کې ۱۵ ملګرو بیول چې یو عادي خطر په مقابل کې ناکام شو د یو امپراتور سره ۱۵ تنه ساتونکي دي عقل او منطق څخه لرې کار دی.

د سردار پاینده محمد خان د مرینې څخه وروسته شاه زمان د بارکزیانو پخلاینې لپاره هېڅ ونکړل او هغو ټول عقده مند وو.

شاه زمان د هند حملو په وخت د محلي حکومتونو د سیاسي اړیکو په ټینګوالي کې د احتیاط څخه کار نه اخیسته، او د ده د لیکونو څخه انګرېزان خبر بدل چې انګرېزانو د ده د هر اقدام د عملي کېدو څخه مخکې ده ته یو ستونزه پیدا کوله، یو عمده عامل چې د ده د ناکامۍ سبب شو، د ایران او انګرېزانو اتحاد و.

شاه محمود او وزیر فتح خان څخه د انګرېزانو او ایران ملاتړ و چې شاه محمود ته یې نظامي امکانات برابرول.

د پښتنو د با نفوذه خانانو نارضایتوب او خپه کېدل چې بالاخره ټول قومونه د شاه محمود په طرف ودربدل چې د نوموړي ټولنیز موقعیت یې ضعیفه کړ.

د سلطنت څخه وروسته د شاه زمان برخلیک

کله چې شاه زمان د سلطنت څخه لرې او ړوند شو بیا څه موده په بالاحصار کې بندي و د یو نیم کال څخ وروسته هغه ته اجازه ورکړه چې له افغانستان څخه خارج شي نومورې لومړی په هند کې د حضرت معین الدین چستي زیارت ته ولاړ، کله به په سر هند او کله به هم په افغانستان کې اوسېده چې په همدغه وخت کې یو ځل بلخ ته ولاړ چې هلته د بخارا د امیر (میر حیدر) له خوا ونیول شو، میر حیدر په دې خبره ټینګ و چې شاه زمان خپله لور چې په حسن او خایست کې یې مثل او ساری نه درلود ده ته ورکړي خو شاه زمان مقاومت وکړ او هغه یې په خپل تصمیم کې ناکام کړ له هغه وروسته شاه زمان د ایران له لارې مکې معظمې ته د حج لپاره ولاړ چې د حج نه د راګرځېدو څخه وروسته په سرهند کې یې سکونت غوره کړ مګر کله چې شاه شجاع د انګریزانو په مرسته ۱۸۳۹م کال افغانستان ته راغی شاه زمان هم د هغه سره ملګری و مګر د شاه شجاع د مړینې او د سدوزیانو د سقوط څخه وروسته بېرته سرهند ته ولاړ چې په ۱۸۴۴ م کال هلته وفات شو د شېخ احمد فاروقي په خوا کې خاورو ته وسپارل شو.

الفنستون چې نهه کاله وروسته د سلطنت څخه شاه زمان له نږدې څخه لیدلې وه د هغه په اړه داسې وایي له هر یوه سره به چې غږېده ستر ګې به یې هغې خواته اړولې، که چېرې د ټولې اسیا په تاریخ غږېدلی وای نو د پاچاهانو د بدبختۍ مثالونه به یې درکړي وای، بالاخره پر خان یې ختمه کړه او ویې ویل ګوري زه ړوند یم او د پاچاهي

له تخته څخه لرې شوی یم او په پردي وطن ې تبعید یم، هغه هم په داسې هېواد کې چې دوه واړه مې فتح کړي.

شاه زمان یو نړیوال شخصیت چې په ختیز کې د ناپلیون لقب یې هم ګټلی و، د واکمنۍ څخه وروسته عمر یې په محبس، تبعید او خپګان کې تېر کړ، ده دواړه سترګې له لاسه ورکړې، بیا یې د واک د نیولو لپاره هلې ځلې ونه کړې، ټول عمر یې په نا امیدۍ کې تېر کړ، نوموړي پر دې مایوسه او خپه شو چې د خپل هېواد تجزیه، د خپل نېکه ستر احمد شاه بابا د امپراتورۍ سقوط او د انګرېزانو مستقیم یرغل د زړه په سترګو ولیده، رنځ یې تېراوه خو هېڅ یې هم له لاسه پوره نه وو، ولې د تنمبلۍ روح تر اخره د ده په مغز کې لار پیدا نکړه، لکه هر بادرده افغان د خپل هېواد د سوکالي، او بېرته عظمت د لاس ته راوړلو په امید د ژوند شپې او ورځې تېرولې د ډېرو ناخوالو څخه وروسته د څلور څلوېښت کلو په عمر په (۱۸۴۴م) د هند په خاوره کې سترګې پټې کړې او هملته خښ کړی شو.

پایلې

د افغانستان معاصر تاریخ د احمد شاه بابا او تیمور شاه د واکمنۍ څخه وروسته ډېرې حساسې او نازکې مرحلې ته داخل شو ځکه دغه وخت په هند کې د اروپایي استعمار د یرغلونو عصر دی، د انګرېزانو د ختیز هند کمپنۍ د فرانسې د ختیز هند کمپنۍ او د هالینډ د ختیز هند کمپنۍ سره په خپل منځ کې په سیالي بوختې وې خو د ۱۷۴۲-۱۷۶۳م پورې د انګرېزانو او فرانسویانو د کمپنیو تر منځ جګړې وشوې په نتیجه کې انګرېزان په خپلو رقیبانو بریالي شول. د ۱۷۸۳م د ورسلیز د ټرون پر اساس هالینډیان د هندوستان څخه ووتل او په ۱۷۵۷م کال د پلاسي د جګړې د فتحې په نتیجه کې انګرېزانو د هند له جنوب او ختیز څخه شمال په خوا حرکت وکړ، د پنجاب سند او اباسیند په حوضو کې قوتونه ځای پر ځای کړل او په ۱۷۷۴م کال کې د انګرېزانو لومړی ګورنر جنرال وران د هند هشتنګر ته راغی دا جریان چې محراق یې بنګال و په چټکۍ سره د هند په شمال راتیټېدل، په دې وخت کې د هند په شمالي برخو کې د افغاني امپراتورۍ حاکمیت جاري و خو دغه استعماري قوتونه د ۱۹مې پېړۍ د دویمې نیمایي په لسیزې کې د افغانانو په فکر کې شول، د دغه اروپایي استعماري قوت پراختیا چې هند یې په غېږ کې نیولي و په لومړي سر کې غیر مستقیم او وروسته په مستقیمه توګه پر افغانستان منفي اغېزې راخپرې کړې

د نوموړي اثر د مطالعې څخه څرګنده ېږي چې د شاه زمان د واکمنۍ (۱۷۹۳-۱۸۰۰م) دوره په نړۍ کې د لویو سیاسي او ټولنیزو بدلونونو سره سم پیل شوه چې د احمد شا بابا د پراخې امپراتورۍ اداره د کورنیو

اختلافاتو او د ګاوندیو د مداخلې پر اساس ډېره ستونزمنه شوه او د افغانستان پېښو په هغه وخت کې نړیوال ارزښت درلود مګر شاه زمان د لیاقت جرئت او قوي ارادې په لور سره وکولی شول چې افغاني امپراتوري اداره کړي. د واک په لومړیو وختونو کې په کورنیو خنډونو باندې بریالي و. ده د یو مطلق العنانه پاچا په توګه سلطنت وکړ او کوښښ یې کاوه چې د خانانو نفوذ په دولت کې کم او مرکزي دولت قوي کړي، واک چې د ده په نظر مطلوب نه وو هغه یې د کارونو څخه ګوښه کړل.

شاه زمان د ځینو افغاني واکمنانو په څېر د ټولنې عیني او ذهني شرایط یانې د افغانستان موجوده وضعه په نظر کې نه نیوله د خپل فکر او میل سره یې سم عمل کاوه د ورونو (همایون او شاه محمود) او د سردار پاینده محمد سره دښمني ده په فکري او ببړنیو پرېکړو پورې اړه درلوده له بله پلوه یې د خپل وزیر رحمت الله خان مشورو ته زیات ارزښت ورکړ نېسه به دا وای چې د هېواد د ټولو وګړو غوښتنو ته یې پام کړی وای البته دا اصل زمونږ د ډېرو واکمنانو له خوا تطبیق شوی دی او د نومورې اثر د مطالعې څخه څرګنده ږي چې شاه زمان او زمونږ زیات واکمنان په هغه وخت کې د افغانستان جغرافیایي، موقعیت ستراتیژکي اهمیت د ګاوندیو خود غرضه مداخلې او لاس وهنې ته دقیقه پاملرنه نه کوله.

شاه زمان که څه هم په هغه وخت کې د ختیز د ناپیلیون لقب ګټلی و او په منځنۍ اسیا کې د ده ساری نه و خو نومورې د برتانیې د سیاست په رمز او مداخلت پوه نه شو. او یا یې پام ورته ونه کړ چې په دواړو صورتونو کې دغه کار د ده او د هېواد په زیان تمام شو. شاه زمان

داخلي اختلافاتو ته چې ډېر هم وو کم ارزښت ورکړ، او د دغو اختلافاتو د حل لپاره یې هېڅ ډول سیاسي هلې ځلې ونه کړې او نظامي لاره یې خپله کړه، شاه زمان د واک په پای کې هم د خپل موقعیت او نفوذ په اړوند سم تحلیل ونه شو کړای د ده همدغه تېروتنه وه چې یو امپراتور د یو عادي شخص ملا عاشق له خوا ونیول شو د شاه زمان د ببرنیو پرېکړو په نتیجه کې انګرېزانو په اسانۍ سره وکولی شول چې نوموړی د شاه محمود او وزیر فتح خان په واسطه د خپلو هدفونو په تحقق کې ناکام کړي، ځکه انګرېزانو د دوی داخلي اختلاف څخه ډېره ګټه واخیسته که څه هم انګرېزان او نه ایرانیان د دې جوګه وه چې د شاه زمان پوځي مقابله وکړي.

د شاه زمان له ماتې وروسته ډېر ژر په ۱۸۰۳م کال کې د خراسان ایالت د ایران د قاجاري دولت له خوا ونیول شو او د اټک قلعه د سند سیند په غاړه په ۱۸۱۲م کال د نېجاب د سیک حکومت ونیوله د ملتان ایالات په ۱۸۱۸م کال سکانو د خټې لاندې کړ مګر انګرېزانو د هند د ساتلو په غرض د درېیو مهمو لارو (خیبر، کرمه، چمن) باندې کنترول لاس ته راوستل غوښتل او د دې هدف ته د رسېدو لپاره یې د ۱۷۹۳م کال راپه دې خوا خپله مبارزه پیل کړې وه، پدې لار کې د هېڅ راز سیاسي او نظامي عمل څخه ډډه ونه کړه چې د دوی هدفونه وروسته د دوو ترونونو (ګندمک ۱۸۷۹م کال او د ډیورنډ ۱۸۹۳، ۱۳۱۱هـ ق کال د نوامبر ۱۲مه او د جمادي الاول میاشت په لاسلیک کولو سره عملي بڼه غوره کړه په اخر کې داسې نتیجې ته رسېږو چې د افغانستان خلکو د تاریخ په اوږدو کې په ګاونډیو او استعماري قوتونو د غلبې او بریالیتوب په وجه ویاړونه ګټلي دي او په دې بریالیتوبونو سره یې خپل

هېواد ته ستر معنوي او تاریخي ارزښتونه ور په برخه کړی دی د دې سره سره یې ډېرې تاریخي شېبې او وختونه هم له لاسه ورکړي دي ځکه د احمد شا بابا واکمني وروسته د افغانستان په سیمه کې یو بې رقیبه او بې سیاله دولت ګڼل کېده، مګر د موقع د نه پېژندلو په وجه د ځینو واکمنانو د نظري اختلاف پر اساس د تاریخي بریالیتوبونو او پرمختګ موقع له لاسه ورکړل شوې دي چې دغه نفاق د احمد شاه بابا د لمسیانو په منځ کې پیل او د وروستنیو واکمنانو په منځ کې یې دوام پیدا کړ چې یو د بل سره په جګړو کې بوخت شول، که چېرې لږ تر لږه دغو شهزاده ګانو ده ته د خپلو نقشو او اهدافو د تطبیق او عملي کېدو لپاره وخت ورکړی وای افغانستان به نن د لویو قدرتونو په سیالۍ کې ولاړ او یا به په ختیځ کې په هر لحاظ پرمخ تللی وای خو د بده مرغه د شهزاده ګانو د پاچاهۍ سره بې کچه مینه او د استعماري هېوادونو د مداخلې په نتیجه کې زمونږ هېواد د سیاسي پېښو ډېره تراژیدي بڼه خپله کړه او د هېواد د پرمختګ او تکامل مخه ډب شوه.

CamScanner

وړاندیزونه

د افغانستان د معاصر تاریخ د پېښو څېړنه، نړیوالو ښکېلاک ګرو ځواکونو د مستقیمې او غیر مستقیمې لاس وهنې او حتی نظامي یرغلونو پر اساس ډېر له ستونزو ډک کار دی، ځکه د دغو پېښو په اړه افغاني اسناد ډېر لږ د دی زمونږ شمېرنې زیات د ګاونډیو هېوادونو په خپرو شویو ارقامو او اسنادو باندې ډډه لګوي

ما په دې اثر کې ډېر کوښښ وکړ چې د شاه زمان پر ضد د انګلیسانو د کړنو په اړه دقیقه او هر اړخیزه څېړنه وکړم، تر څو د دوی له ناروا کړنو څخه پرده پورته کړم، د اسنادو او کتابونو له کمي سره سره مې زیار ایستلی چې د دې پېښو مهم ټکي روښانه کړم. خو د دې تاریخي پېښو د لا روښانتیا لپاره لاندې وړاندیزونه اړوندو مقاماتو ته ارائیه کوم:

۱. د پیر غلام محمد (هندي) په اړه باید ژوره څېړنه وشي چې د کومو سیاسي موخو او وسایلو سره افغانستان ته راغلي وو تر څو د انګلیسانو سره د هغه د اړیکو د میندلو لپاره مدارک او منابع پیدا شي، خو زه یې په میندلو بریالي نه شوم

۲. د شاه زمان ضد جاسوسي سازمان په اړه دې مستند اسناد وپلټل شي

۳. د هېواد له ښاغلو درنو پوهانو، د لوړو زده کړو وزارت او له نورو علمي ارګانونو څخه احترامانه غوښتنه کوم چې زمونږ د هېواد او ګاونډیو هېوادونو سره زمونږ ګډو تاریخي اسنادو څېړنې او خپرونې ته پام راوګرځوي تر څو زمونږ د هېواد تاریخي واقعیتونه روښانه شي

۴ د افغانستان دانتقالي اسلامي دولت اړوندو واکمنو مقاماتو ته په ډېره درناوي دا وړاندیز کوم چې ملي موزیم، ملي ارشیف او نورو تاریخي ځایونو ساتنې او بیا رغاونې ته پاملرنه وکړي، ځکه چې د اثار زمور کولتوري او تاریخي میراث دی.

۵ د هېواد ټول نشراتي ارګانونه، پوهان، عالمان، او نور اړوند مقامات باید د هېواد د تاریخ په اړه علمي اثار او مضامین خپاره کړي تر څو راتلونکي نسل په اسانۍ سره د خپل هېواد د تاریخ سره پوره اشنایي پیدا کړي.

په ډېر درنښت

اخځونه

۱. جهاني، عبدالباري هرات، پښتانه، ستره لوبه، د ساپي د پښتو څېړنو د پراختیا مرکز، پېښور ۱۳۷۸ هـ ش

۲. حبیبي، عبدالحی. تاریخ تجزیه شاهنشاهي افغان، به اهتمام داکتر خوشال حبیبي و حبیب الله رفیع، مرکز تحقیقات علامه حبیبي طبع ملت پریس، لاهور پاکستان، ۱۳۸۰هـ ش

۳. خیبري، غوث. پښتانه د کولتوري ښکېلاك په زنځیرو کې ناشر په خپله مولف ۱۳۸۰ هـ ش کال

۴. ربښتیا، سید قاسم افغانستان در قرن ۱۹. طبع چهارم، مرکز نشراتي میوند سبا کتابخانه پېښور ۱۳۷۸هـ ش کال

۵. سر اولوف، کارو. پښتانه (پټانز) ژباړن الحاج شیر محمد کریمي. دانش کابخانه، پېښور ۱۳۷۸هـ ش کال

۶. عطایي، محمد ابراهیم د افغانستان پر معصر تاریخ یو لنډه کتنه. مرکز نشراتي میوند، سبا کتابخانه، پېښور ۱۳۸۰ هـ ش کال

۷. غبار، میر غلام محمد افغانستان در مسیر تاریخ طبع دوم. مطبعه دولتي کابل. سال ۱۳۴۶ هـ ش.

۸. فرخ، مهدي. تاریخ سیاسي افغانستان

۹. فرهنگ، محمد صدیق افغانستان در نېج قرن اخر. جلد اول. موسسه مطبوعاتي اسماعلیان. تهران

۱۰. کاتب، فیض محمد سراج التواریخ جلد اول. مطبعه حروفي. دارلسلطنه کابل سال ۱۳۵۴ هـ ش

۱۱. کاکا خېل، سید بهادر شاه ظفر پښتانه د تاریخ په رڼا کې پېښور ۲مې. ۱۹۲۵ء کال مطابق ۱۳۸۴ هـ ق

۱۲ کهزاد. احمد علي، رجال ها و رویداد های تاریخي افغانستان. چاپ دوم. دانش کتابخانه. پېښور سال ۱۳۷۶ هـ ش

۱۳ ګانوفسکي. یو. و. د درانیانو امپراتوري مترجم دوکتور ګل محمد نورزی علوم اکادمي افغانستان. ۱۳۷۵هـ ش کال

۱۴ لوی، دللو. قنسول فرانسه. تاریخ دیپلوماسي. ترجمهٔ رضا وثوقي، ارد شیر، نیکپور، تهران سال ۱۳۴۳هـ ش

۱۵ محمد حیات خان. حیات افغاني. ژباړونکي فرهاد ظریفي او محقق عبدالطیف طالبي. اریانا مطبعه ۱۳۷۰هـ ش کال

۱۶ نهرو، جواهر لعل. نګاهي به تاریخ جهان. جلد اول. ترجمه محمد و تفضلي، چاپ دهم، سپهر تهران. ۱۳۷۷ هـ ش

۱۷ وکیلي، پوپلزایي، عزیزالدن. تیمور شاه درانی. جلد دوم. تاریخ تولنه سال ۱۳۴۶هـ ش

۱۸ هاشمي، سید سعدالدین. تاریخ معاصر افغانستان. ګستنر چاپ شده پوهنځي علوم اجتماعي پوهنتون کابل. ۱۳۵۹هـ ش

۱۹ اتل په نولسمه پېړۍ کې د افغاني دولت سقوط څرنګه پیل شو، ورځ، میاشت اسد، پنځمه ګڼه د ساپي د پښتو څېړنو د پراختیا مرکز، ۱۳۷۹هـ ش کال

CamScanner